Download from:aghalibrary.cm

# دَ قُرْآنِ کَرِیم ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه کښې

ړومبی جلد له (۱) تر (۱۵) پارې پورې

چاپ خانه د حرمینو شریفینو د خادم
پادشاه فهد د قرآن کریم د طباعت لپاره

اول جزء اول منزل
(سورة «الفاتحة» مکیة وهی سبع آیات)
(نزلت بعد (المدثر) رقمها (١) تسلسلهاحسب النزول (٥)
(د «الفاتحة» سورت مکی دی (٧) آیتونه لری)
(د «المدثر» سورت نه وروسته نازل شوی دی. په تلاوت کښی
(١) او په نزول کښی (٥) سورت دی او (١) رکوع لری)

بِسۡــــــــــــــــمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ○

(شروع کوم) په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان او رحم لرونکی دی.

**تفسیر:** «رحمٰن» او «رحیم» دواړه د مبالغی صیغی دی، مګر په «رحمٰن» کښی له «رحیم» څخه مبالغه زیاته ده، په دغه ترجمه کښی د دغو تولو نکتو لحاظ شوی دی.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ

تولی ستاینی (صفتونه) خاص الله لره دی.

**تفسیر:** تر تولو ښی او غوره ستاینی (صفتونه) چه له اوله تر آخره پوری شوی دی، یا کیدونکی دی هغه واړه خاص الله تعالیٰ لره ښایی، ځکه چه الله تعالیٰ د هر نعمت او هر شی پیدا کوونکی او ښیوونکی دی او ښښنه ئی عامه ده که بی واسطی وی او که په واسطه سره وی لکه څوک چه د لمر له رڼا (رڼړا) او تودوالی څخه ګټه (فائده) اخلی نو دغه ګټه (فائده) په حقیقت کښی د لمر فیض دی نه د رڼا (رڼړا) او تودوالی.
خدای سره نسبت لری چیری چه ستاینه (صفت) ده هر څوک چه ستایلی شی هم د رب ستاینه (صفت) ده د ﴿اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ﴾ ترجمه یوازی په دی جملی سره چه هر ډول (طریقه) ستاینه (صفت) الله تعالیٰ لره ده لنده او نیمګړی ده چه پوهان د دی جملی په تقصیر اعتراف لری ﴿اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ﴾ خورا (ډیره) ښه ترجمه هم دغه ده چه په اوله کښی ولیکل شوه. او عام فهمه ترجمه ئی دغه ده؛ «تولی ثناوی له هر چا، په هر څه، په هر وخت، په هر ځای کښی خاص الله تعالیٰ لره دی» ځکه د هر شی تقدیر د ده له لوری دی.
**تنبیه :** په فاتحه الکتاب کښی الله تعالیٰ د (٧) شیانو یادونه کړی ده؛
(١) د نعمت یادونه لکه چه فرمایی؛

# رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢﴾

## چه پالونکی د عالمیانو (د خپل لوی حکمت له مخه)

**تفسیر:** د مخلوقاتو مجموعی ته «عالم» وایی، نو له دی کبله (له وجی) د جمعی په شکل نه راوړل کیږی مگر په دی آیت کښی د عالم د هر جنس د ښودلو دپاره د جمعی په شکل راغلی لکه د ملائکو عالم د انسانانو عالم، د پیریانو عالم او نور ترڅو چه دا خبره ښه روښانه شی چه د عالم ټول افراد د الله تعالیٰ مخلوق دی.

(۲) د ښو ښو شیانو د ورکولو او ښښلو تمه او هیله (امید) لکه چی فرمایی؛

# الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٣﴾

## ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی

**تفسیر:** یعنی ټولی ستاینی (صفتونه) خاص الله تعالیٰ لره دی چه د ټولو مخلوقاتو پالونکی او روزونکی (تربیت کونکی) دی او ډیر زیات مهربان دی چه هر ساکښ (ذی روح) ته د روغ، بدن او رزق ورکوونکی دی، او پوره رحم لرونکی دی چه یوازی مؤمنانو ته د اجر او ثواب، د جنت د نعمتونو او خپلی رضا او دیدار ښوونکی دی.

(۳) د رب العزت **(جل شانه واعظم برهانه)** په عظمت او قدرت کښی فکر کول لکه چه فرمایی؛

# مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٤﴾

## څښتن (مالک) (د ټولو امورو) د ورځی د جزا دی

**تفسیر:** د جزا د ورځی (قیامت) د تخصیص اوله وجه دا ده چه په هغه ورځ به داسی لویی او ویروونکی پیښی (حادثی) واقع شی چه د هغو په شان به نه پخوا تیری شوی وی او نه به وروسته راشی بله وجه ئی دا ده چه په هغه ورځ به د الله تعالیٰ د پاک ذات له حقیقی حکومت څخه پرته (علاوه) د بل هیچا کوم ظاهری او مجازی واک (اختیار) او حکومت هم هیڅ نه وی.

﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ . (۲ رکوع سورت المؤمن).

(٤) په عبادت کښی اخلاص لرل لکه چه فرمایی؛

# إِيَّاكَ نَعْبُدُ

## خاص تاته عبادت کوو

**تفسیر:** د هغه ذات له ذکره وروسته چه د ټولو ستاینو (صفتونو) وړ (لائق) دی علم او پوهه په یو معلوم او معین پوری متعلق او خطاب د هغه سره وکړ شو یعنی ای هغه ذاته! چه ستا لوړ او پاک شان دغسی لوی، هسک (اوچت) او پورته دی مونږ یوازی ستا عبادت کوو او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو، ښکاره ده چه دغسی خطاب پر اختصاص ډیر ښه دلالت کوی، او له برهانه عیان ته د ترقی خورا ښه (ډیرښه) وسیله ګرځی، او له غیب نه شهود ته د انتقال ډیره ښه ذریعه کیږی نو ګواکی (ګویا که) معلوم عیان او معقول مشهود وګرځید، او خبره له غیبت څخه خطاب ته واوښته چه دغه ته التفات ویل کیږی، ړومبی د کلام شروع په داسی شیانو سره وشوه چه د عارفانو د حال مبادی دی چه هغه د پالونکی خدای (جل جلاله) په نومونو، صفتونو، انعامونو، او د ده په مخلوقاتو، موجوداتو مصنوعاتو، او په ښکاره سلطان قوی برهان، لوی شان او عام احسان کښی ئی غور فکر او تأمل کول دی. بیا وروسته د کلام د هغی برخی یادونه وشوه چه هغه د دوی د حال منتهی ده ترڅو چه متفکرین پند آخستونکی او د بصیرت خاوندان د وصول ژورو برخو ته ورننوځی، او ځانونه د اولوالالباب، او د بصیرت، مشاهدی، پوهی او هوښیاری له خاوندانو څخه وګرځوی، او د خپل زړه په سترګو پاک خدای (جل جلاله) ښکاره وګوری او په ډیر اخلاص او ادب مخامخ ورته ودریږی، او په ډیره عاجزی او زاری ورته داسی عرض وکړی چه یاالله؛ ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ الآية.
(۵) د مرستی (مدد) غوښتنه لکه چی فرمایی؛

# وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝

## او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو

**تفسیر:** له دی آیت شریف څخه معلومیږی چه بی د الله تعالیٰ له پاک ذات نه له بل چا څخنی حقیقی مرسته (مدد) غوښتل بیخی روا نه دی، مګر که څوک کوم ښه او مقبول بنده محض د الله تعالیٰ د رحمت وسیله او غیر مستقل وګڼی، او یوازی په ظاهری او غیر حقیقی ډول (طریقه) سره ورڅخه مرسته (مدد) یعنی که ورته ووائی ماته دعا وکړه نو باک نه لری ځکه چه دغه ډول (طریقه) مرسته (مدد) غوښتل هم په حقیقت کښی د الله تعالیٰ څخه مرسته (مدد) غوښتل دی.
(٦) د هغی سمی او روښانی لاری د ښودلو غوښتنه چه مقصود ته رسوونکی ده لکه چه فرمایی؛

## اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ

ونبیه مونږ ته لاره سمه لاره د هغو کسانو چه انعام کړی تا پر هغو باندی

**تفسیر:** پر هغو کسانو چه انعام شوی دی څلور طایفی دی
(۱) نبیین (۲): صدیقین (۳): شهداء (٤): صالحین. د دغه څلورو طایفو تصریح د پاک قرآن په بل ځای کښی شوی ده، ځینو علماؤ ویلی دی چه له ﴿الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ﴾ څخه «یهود» او له ﴿الضَّآلِّيْنَ﴾ څخه «نصارٰی» مراد دی چه د دی مطلب د تائیدولو لپاره ډیر آیتونه او روایتونه شاهد دی. له ﴿الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ یعنی له مستقیمی لاری څخه پاتی کسان دوه ډوله (قسمه) دی یو هغه کسان دی چه په ناپوهی سره له سمی لاری څخه محروم او بیرته پاتی دی. بل هغه کسان دی چه دوی سره له پوهی قصداً سرکشی غوره کړی ده، پخوانی او وروستنی گمراهان له دغو دوه ؤ طایفو څخه وتلی نشی، «نصاریٰ» په اوله او «یهود» په دوهمه طایفه کښی داخل دی.
(۷) له خرابو او ناوړو (غلطو) کارونو څخه د ځان ساتلو غوښتنه او د پاکی او عصمت امید لکه چه فرمایی

## غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝

نه «لاره د هغو بدو کسانو چه» غضب کړی شوی پر هغو باندی او نه «لاره د هغو بدو کسانو چه» گمراهان دی

**تفسیر:** (یعنی مونږ ته د هغو کسانو سمه او صافه لاره ونبیه چه په هغو باندی انعام شوی دی او د هغو کسانو له کږو وږو لارو څخه مو چه پری غضب شوی او گمراهان دی چپ (بچ) کړه او د بدانو له متابعت څخه مو وساته).
الله تعالیٰ دغه سورت د خپلو بندگانو له ژبو څخه فرمایلی دی یعنی کله چه تاسی زمونږ دربار ته حاضریږی نو له مونږ څخه دا رنگه سوال وکړی، نوځکه د دی سورت یو نوم «**تعلیم المسئلة** یعنی د غوښتلو ښودنه» هم دی.
د دی سورت په اوله برخه کښی د الله تعالیٰ ثنا او صفت دی، دوهمه برخه ئی د بندگانو د دعا لپاره ده.
«**فائده**»: ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ﴾ **الآية** ــ د ﴿الَّذِيْنَ﴾ بدل ــ یا د هغه صفت دی، نو ځکه ترجمه ئی هم په هماغه تناسب سره شوی ده، په ځینو دهلوی تراجمو کښی دغه ترجمه هسی شوی ده، چه د ترکیب او مقصود نه مخالفه ده.

«سورة «البقرة»، مدنية الاآية «۲۸۱» فنزلت بمنى فی‌حجة الوداع»
«وهی مائتان وست وثمانون آية واربعون رکوعا»
«نزلت بعد «المطففين» رقمها (۲) تسلسلهاحسب النزول (۸۷)»
«د «البقرة» سورت مدنی دی پرته (علاوه) د (۲۸۱) آية نه چه د حجة الوداع په کال په منیٰ کښې نازل شوی دی»
«دوه سوه شپږاتيا (۲۸۶) آيتونه او څلويښت (۴۰) رکوع لری»
«د «المطففين» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی. په تلاوت کښې (۲) او په نزول کښې (۸۷) سورت دی»

بِسْــــــــــــــمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) په نامه د الله چه ډير زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی

الٓمٓ ﴿۱﴾

**تفسير:** دغو حروفو ته «مقطعات» وايی، د دغو حروفو په اصلی معنی باندی پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه بل هيڅوک نه شی پوهيدی، او د الله تعالیٰ يوه پټه خبره او پټ راز دی، څوک وايی دغه حروف د الله تعالیٰ او د ده د رسول صلی الله عليه وسلم په مينځ کښې مخصوص رموز دی چه مونږ ته د ځينو مصالحو او حکمتونو لامله (له وجی) نه دی راښکاره شوی او هغه معناګانی چه د ځينو لويانو له خوا د دغو حروفو په نسبت نقل شوی دی تش يو تمثيل تنبيه او د مقصود آسانتيا ده نه دا چه يوازی همغه د الله تعالیٰ مراد کيدی شی، نو هغو ته شخصی رأی ويل، او بيا ئی غلط ښودل يوازی هغه شخصی رأی ده چه په تحقيق سره د عالمانو د منلو وړ (لائق) نه ده.

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ

دا کتاب نشته هيڅ شک په ده کښې (چه د الله تعالیٰ له لوری نازل شوی دی)

**تفسير:** يعنی په دی خبره کښې هيڅ شک او شبهه نشته چه قرآن د الله تعالیٰ کلام دی او تول مضامين ئی رښتينی او واقعی دی.

**تنبيه:** په کوم کلام کښې چه اشتباه ليدل کيږی هغه به له دوه ؤ لارو څخه وی يا به په هغه کلام کښې کومه غلطی او خرابی وی، يا به د اوريدونکی په پوهه کښې څه فساد او خلل وی. په

اول صورت کښې د ﴿رَيْبَ﴾ محل، دغه کلام دی، او په دوهم صورت کښې د ﴿رَيْبَ﴾ محل په حقیقت کښې د پوهیدونکی پوهه ده دغه کلام «قرآن» خو بالکل حق دی، که څه هم ناپوهانو ته د دوی د ناپوهی لامله (له وجی) شک او شبهه پکښې پیدا کیږی، نو په دی مبارک آیت کښې ئی د ﴿رَيْبَ﴾ د اول صورت نفی وفرمایله نو دا «شبهه» او ﴿رَيْبَ﴾ (چه کافرانو په قرآن کښې ﴿رَيْبَ﴾ کړی او ترینه انکار لری چه دا کلام د الله تعالیٰ کلام نه دی نو بیا د دی نفی معنی څه ده؟) بالکل له مینځه وواته، پاتی شو دوهم صورت چه د هغه نفی له دی نه وروسته په ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا﴾ الآية- کښې راځی.

## هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٢﴾

(دغه کتاب) لارښوونکی دی لپاره د پرهیزګارانو.

**تفسیر:** له دغه ځایه د عظیم الشان قرآن تر آخره پوری د ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ ځواب دی چه د بندګانو له خوا غوښتل شوی ؤ.

یعنی دغه کتاب هغو بندګانو ته لار ښیی چه له الله تعالیٰ څخه ویره لری ځکه هغه څوک چه د الله تعالیٰ څخه ویریږی هغه به هرومرو (خامخا) د ښو او بدو امورو «طاعت او معصیت» غوښتنه او پلټنه (لټون) کوی، او د چا په زړه کښې چه د الله تعالیٰ ویره نه وی نو هغه به له طاعت سره څه علاقه او له معصیت ځنی به څه اندیښنه ولری ؟.

## الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿٣﴾

هغه کسان چه ایمان (باور) لرونکی دی په غیب باندی او قائموی دوی (سم ادا کوی سره د تولو حقوقو) لمونځ او ځینی له هغو شیانو چه ورکړی مونږ دوی ته صرفوی ئی (د الله تعالیٰ د رضا لپاره).

**تفسیر :** یعنی هغه شیان چه د هغوی له عقولو او حواسو څخه پټ دی لکه وحدانیت رسالت، حشر، نشر، قیامت، حساب، کتاب، ملائک، جنت، دوزخ، او نور دغه واړه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له ارشاد سره سم حق او یقینی ګڼی له دی څخه دا راښکاره شوه چه د دغو غایبو او پټو شیانو منکران د هدایت له فیضه محروم او بی برخی دی.

د صلوٰة له اقامت څخه مطلب دا دی چه هغه تل د خپلو تولو حقوقو او آدابو په مراعات کولو سره په تاکلو (مقررو) وختونو کښې اداء کړی شی.

د تولو عباداتو اصل دری شیان دی.

(١) هغه امور چه د زړه سره تعلق او اړه لري.
(٢) هغه امور چه په بدن پوري متعلق او تړلي وي.
(٣) هغه امور چه په مال پوري مربوط وي.
په دې مبارک آیت کښې دا دري واړه اصول په ترتیب سره یاد شوي دي.

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝٤

او هغه کسان چه ایمان لري (دوي) په هغه (کتاب) چه نازل کړي شوي دي تاته او (په) هغو (کتابونو) چه نازل کړي شوي دي. له مخه د تا او په آخرت دوي یقین کوي (چه ضرور راتلونکي دي).

**تفسیر:** په تیر آیت کښې د هغو کسانو یادونه وه چه له شرک نه وتلي او مسلمانان شوي دي، لکه د مکې خلق، او په دغه آیت کښې هغه کسان یاد شوي دي چه اهل کتاب ؤ او په اسلام مشرف شوي دي لکه «یهود» او «نصارىٰ»

اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝٥

دغه (ستایل شوي) کسان (دي) په هدایت له (جانبه) د رب خپل او دغه (ستایل شوي) کسان دي هم دوي په مراد رسیدلي (یا) او دغه (ستایل شوي) کسان هم دوي په مراد رسیدلي دي.

**تفسیر:** یعني د ایماندارانو دغو دواړو ډلو ته چه پاس یادي شوي په دنیا کښې دوي ته هدایت ورپه برخه شو او په آخرت کښې خپلو مرادونو ته رسیږي له دې څخه معلوم شو چه هر هغه څوک چه د ایمان له نعمت او له ښو اعمالو څخه محروم او بې برخې دي. د هغه دنیا او آخرت دواړه برباد او ابته (خراب) کیږي اوس د مؤمنانو د دغو دوه ؤ ډلو له یادوني څخه وروسته د کافرانو د حالاتو یادونه کیږي.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝٦

بیشکه هغه (خاص) کسان چه کافران شوی دی برابر دی په دوی ویرول ستا دوی لره او نه ویرول ستا دوی لره دوی ایمان نه راوړی (یا دا خبره) که وویروی ته هغوی یا که ته نه ویروی هغوی ایمان نه راوړی.

**تفسیر:** له دی کفارو شخه خاص هغه خلق مراد دی چه هغوی ته کفر مقرر شوی دی، او د ایمان له دولت شخه تل بی برخی دی (لکه ابوجهل، ابولهب او نور) که نه، نو ښکاره ده چه ډیر کسان له هغو خلقو ځنی چه کافران وو په اسلام مشرف شوی دی، او وروسته له دی نه هم مسلمانیږی.

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ وَعَلٰۤى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ؗ وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۟﴿۷﴾

مهر لګولی دی الله پر زړونو د دوی او پر غوږونو د دوی او پر سترګو د دوی. (یوه ځانته) پرده ده او دی دوی لره عذاب ډیر لوی.

**تفسیر:** د هغوی پر زړونو باندی مهر لګول شوی دی (یعنی د حق پر خبرو باندی نه پوهیږی) او پر غوږونو باندی ئی مهر لګولی شوی دی (یعنی رښتیا خبرو ته په غور سره غوږونه نه ږدی) او پر سترګو باندی ئی پرده ده (یعنی د حق لاره نه وینی). د کفارو بیان هم ختم شو، اوس په دغو وروستیو دیارلسو آیتونو کښی د منافقانو حالات راځی.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ۘ﴿۸﴾

او ځینی له خلقو هغه څوک دی چه وایی ایمان راوړی دی مونږ په الله او په ورځ وروستۍ (چه قیامت او د جزا وخت دی). حال دا چه نه دی دوی مؤمنان

**تفسیر:** یعنی د زړه له کومی (منځ) ئی ایمان نه دی راوړی چه هغه ته حقیقی ایمان ویلی شی، یوائځی په ژبی سره د مسلمانانو د تیر ایستلو دپاره د ایمان اظهار کوی.

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۝٩ؕ

تګی کوی دوی (په خپل ګمان) له الله سره او له هغو کسانو سره چه ایمان ئی راوړی دی حال دا چه نه کوی تګی دوی مګر له ځانو خپلو سره حال دا چه نه لری شعور دوی (او نه پوهیږی چه ضرر ئی هم دوی ته رسیږی).

**تفسیر:** یعنی د دوی دا تیرایستل نه په الله تعالیٰ باندی چلیږی چه عالم الغیب دی، او نه په مؤمنانو باندی څه اثر اچولی شی، ځکه چه هغوی د خپل رسول صلی الله علیه وسلم په ژبه او د نورو دلایلو او قراینو په وسیله د دوی له فریبکاری او دغابازی څخه خبریږی بلکه د دی فریب وبال او د هغی خرابی په حقیقت کښی هم دوی ته بیرته ورګرځی خو سره له دی دوی د خپل غفلت، ګناه او جهالت له امله (وجی) په غور سره ورته نه ګوری او د هغی په نقصان او زیان نه پوهیږی، که دوی غور او فکر وکړی نو وبه پوهیږی چه له دی فریبکاری څخه مسلمانانو ته هیڅ یو زیان نه رسیږی، او تل د هغی خرابه نتیجه په خپله هم دغو منافقانو ته رسیدونکی ده.
دا د حضرت شاه عبدالقادر صاحب (قدس سره) د پوهی نزاکت دی چه دلته ئی د ﴿وَمَا يَشْعُرُوْنَ﴾ له ښکاره ترجمی (نه لری شعور دوی) څخه سترګی اړولی او په نه پوهیدلو او نه غور کولو سره ئی ترجمه فرمایلی ده
«او دغه منافقان د خپل ځان په ضرر او نقصان ځکه نه پوهیږی چه»

فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ

په زړونو د دوی کښی مرض (د شک او نفاق) دی نو زیات کړ دوی لره الله مرض

**تفسیر:** د هغوی په زړونو کښی د نفاق او د اسلام له دین څخه د نفرت او له مسلمانانو سره د کینی او عناد مرض لا له پخوا موجود ؤ، اوس د قرآن له نزوله او د اسلام د شوکت له ظهوره او د مسلمانانو د ترقی، نصرت او لوړتیا (وچت والی) له کبله (وجی) د دوی هغه ناروغتیا لا سخته او درنه شوه.

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۢ ۙ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ۝١٠

او (مقرر) دی دوی ته عذاب ډیر دردناک په سبب د دی چه وو دوی چه دروغ به ئی ویل (په اظهار د ایمان سره)

**تفسیر:** له دی دروغ ویلو څخه همغه د اسلام دروغ دعوی چه ویل به ئی ﴿ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾ مراد ده چه پاس تیره شوه یعنی ﴿ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴾ په حقیقت کښی د دوی د نفاق سزا ده نه د مطلقو دروغ ویلو.

حضرت شاه رحمة الله علیه د دی باریک فرق د ښکاره کولو له امله (وجی) د «یکذبون» ترجمه د دروغ ویلو په ځای په دعوی د دروغو سره کړی ده **فجزاه الله ما ادق نظره.**

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ ۙ قَالُوْٓا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱﴾

او کله چه وویلی شی دی منافقانو ته : فساد مکوئ په ځمکه کښی نو وایی دوی بیشکه هم دا خبره ده چه مونږ هم دغه اصلاح کوونکی یو

**تفسیر:** لنده دا چه منافقانو به ډول ډول (قسم قسم) فسادونه خپرول (خورؤل)

(۱) په نفسانی خواهشونو کښی غرق او د شرعی احکامو له منلو څخه نفرت کوونکی او سستی کوونکی وو.

(۲) له مسلمانانو او کافرانو (دواړو) سره به ئی تګ او راتګ درلود (لرلو) د خپل قدر او منزلت د لوړتیا (ترقی) لپاره به ئی د مسلمانانو خبری کافرانو او د کافرانو به ئی مسلمانانو ته رسولی او یو بل ته به ئی چغلی او شیطانی کوله.

(۳) له کافرانو سره ئی په ډیر دار او مدار سره ګډون، ملاقات او معاملی کولی او له دین څخه په مخالفو کارونو کښی به ئی په کافرانو هیڅ غرض نه کاوه او که به کافرانو د دین پر مسئلو کوم اعتراض یا شبهه کوله هغه قصی به دوی مسلمانانو ته ښکاره او مخامخ کولی څو چه ضعیف الاعتقاده او کم فهمه مسلمانان په شرعی احکامو کښی شکمن او حیران کړی اوکه چا به دوی له فسادونو څخه منع .کول نو ویل به ئی مونږ اصلاح کوونکی یو او غواړو چه د پخوانی زمانی په شان د خلقو په مینځ کښی یووالی او دوستی پیدا شی او هغه مخالفت چه د نوی دین له امله (وجی) اوس مینځ ته راغلی دی بالکل ورک شی لکه چه په هر وخت او هره زمانه کښی ماده پرست او نفاق روزونکی (تربیت کونکی) خلق هم داسی خبری او اتری کوی.

اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲﴾

خبردار اوسی بیشکه دوی دی هم دوی فساد کوونکی مگر نه لری شعور دوی (پخپل فساد)

**تفسیر:** اصلاح په حقیقت کښی دا ده چه حق دین په نورو تولو ادیانو غالب شی او له تولو دنیوی منافعو او اغراضو څخه د شرعی احکامو زیات مراعات وشی او د دین په لاره کښی د هیچا د مخالفت یا موافقی پروا او لحاظ ونه کړی شی.

(د «شهاب» په شانی وله شیطان تل ■ د غلیم په سترگو خاوره پاشه تل)

هغه چاری چه منافقان ئی د مصلحت او صلح په بهانه او پلمه (خیال) سره کوی هغه تولی په حقیقت کښی فساد او نفاق دی مگر دوی نه پری پوهیږی او شعور نه لری.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ

او کله چه وویلی شي دوی ته چه ایمان راوړی لکه چه ایمان راوړی دی نورو خلقو نو وایی دوی آیا ایمان راوړو مونږ لکه چه ایمان راوړی دی ناپوهانو؟

**تفسیر:** دا خبری به ئی په خپلو زړونو کښی راگرځولی، یا به ئی یو له بل سره کولی یا به ئی له هغو ضعیفو مسلمانانو سره یادولی چه په کومه وجه له دوی سره په پټو خبرو کښی شریک وو، دا کسان چه د منافقانو په نظر **«سفهاء»** ورځی په حقیقت کښی داسی رښتینی مسلمانان دی چه د الله تعالیٰ په احکامو باندی خپل ځانونه جاروی (قربانوی) او د خلقو له مخالفت څخه هیڅ اندیښنه او پروا نه کوی او د زمانی د انقلاب له ضرره او د بدو پیښو له خرابو نتیجو څخه نه ویریږی او په عکس سره ئی منافقان وو چه هغوی به له مسلمانانو او کافرانو سره تل ظاهرداری کوله او خپلی شپی او ورځی به ئی په غولولو او تیرایستلو سره تیرولی او د نفسانی اغراضو له امله (وجی) به ئی د آخرت هیڅ فکر او اندیښنه نه کوله، دنیوی مصالحو ته کتلو او دورخی چلولو په دوی باندی دومره تاثیر او غلبه کړی وه. چه ایمان او د شریعت احکامو ته غاړه ایښودل ورته یو زیاتی کار ښکاره کیده او احتیاج یی نه ورته حس (احساس) کاوه کله به چه مجبور شول نو یوازی په خوله به یی د مسلمانانی دعوی کوله او د ځینو ضروری احکامو په ادا کولو به یی اکتفا کوله.

أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾

خبردار اوسئ بیشکه دوی دی هم دوی ناپوهان نه پوهیږی دوی (په ناپوهی ـ خپله)

**تفسیر:** په حقیقت کښی هم دا منافقان ناپوهان دی چه د دنیوی بی ثباته او فنا کیدونکی اغراضو او گټو (فائدو) له امله (وجی) یی آخرت تر شاکړی او ورڅخه بی پروا شوی دی د فانی شی غوره کول او د باقی شی پریښودل څومره حماقت دی؟ له هغه مخلوق څخه ویریدل چه له هغه څخه په هر ډول (طریقه) سری ځان ساتلی شی، او له هغه ﴿ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴾ څخه نه ویریدل چه هغه د ټول جهان څښتن (خاوند). په ښکاره او پټو شیانو عالم او په هیڅ چل او ول سره د د ه په مقابل کښی له حقیقت څخه کوم مخالف کار وړاندی نه شی تلی په څه اندازه جهالت دی؟ دا به څرنگه عمومی اصلاح وی چه په هغی کښی له ﴿ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ﴾ او د هغه له مقبولو بندگانو سره مخالفت کیږی؟ خو منافقان تر دی درجی پوری ناپوهان دی چه په دی ښکاره حقیقت هم نه پوهیږی.

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ
شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ ﴿١٤﴾

او کله چه ملاقات وکړی (منافقان) له هغو کسانو سره چه ایمان ئی راوړی دی نو وایی دوی ایمان مو راوړی دی او کله چه یوازی شی له شیطانانو (مشرانو) خپلو سره نو وایی دوی بیشکه مونږ له تاسو سره یو. بیشکه هم دا خبره ده چه مونږ مسخری کوونکی یو (په مؤمنانو پوری).

**تفسیر:** له شیاطینو (شریرانو) څخه یا هغه کفار مراد دی چه تولو خلقو ته به ئی خپل کفر ښکاراوه یا هغه منافقین مراد دی چه د منافقانو غټان او رئیسان گڼل کیدل، یعنی منافقانو به خپلو مشرانو ته ویل چه په کفر او نورو دینی معتقداتو کښی مؤنږ بیخی له تاسو سره یو او له تاسی څخه هیڅکله نه شو جلا (جدا) کیدی او زمونږ دغه ظاهری موافقت چه له مسلمانانو سره ئی کوو داسی ونه گڼئ چه گوندی مونږ په رښتیا له هغو سره موافق یو، مونږ خو پر دوی ملندی (خندا) وهو او مسخری پری کوو او د هغو ناپوهی نورو ته ورښکاره کوو سره له دی چه زمونږ ځینی افعال زمونږ له اقوالو څخه مخالف او جلا (جدا) دی خو دا ناپوهان پری نه پوهیږی او یواځی زمونږ پر خبرو باندی غولیږی او زمونږ د خولی په تشو ویناؤ سره مونږ مسلمانان گڼی، مال او اولاد ته مو لاس نه راغځوی، د غنیمت په مال کښی مو شریکوی، د خپلو اولادو نکاح راتړی او هم د هغوی په پټو خبرو ځانونه خبروو، کله چه د کار خبری اتری آورو نو په منده ئی

تاسو ته دررسوو، حال دا چه دوی زمونږ په دی فریب کاری او چالاکی هیڅ نه پوهیږی.

اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِىْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۵﴾

الله جزا ورکوی دوی ته د مسخرو د دوی او مهلت (ترقی) ورکوی دوی ته په سرکشی د دوی کښی حال دا چه دوی حیران دی (په خپل کارکښی)

**تفسیر:** څرنګه چه الله تعالیٰ مؤمنانو ته فرمایلی دی چه له منافقانو سره هم د مسلمانانو په شان معامله وکړئ! او د هغوی له مال او ځان سره څه غرض ونکړئ! نو ځکه منافقانو د خپلی ناپوهی له امله (وجی) داسی ګمان وکړ چه د ایمان له راوړلو څخه هغه فائدی چه مسلمانانو ته وررسیږی همغه ګردی (تولی) مونږ ته هم د خولی په تشو خبرو رارسیږی او د اسلام په ظاهری اظهار سره بیخی ډاډه او هوسا (مطمئن) شوی یو حال دا چه دا کار په پای (آخر) کښی منافقین په یوه سخته بلا اخته کوی او د هغوی انجام ور خرابوی نو اوس انصاف وکړئ چه په حقیقت کښی دا تمسخر پر مسلمانانو دی که په منافقانو؟ یا د دی تمسخر مطلب دا دی چه الله تعالیٰ د تمسخر جزا هرومرو (خامخا) دوی ته ورکوی. او د الله تعالیٰ له خوا هغوی ته مهلت (ترقی) او تال ورکړی شوی دی، چه په خپلو بغاوتونو او سرکشیو کښی ښه ترقی وکړی او داسی وغولیږی، چه د خاتمی او انجام په فکر کښی هیڅ ونه لویږی او خوښ اوسی چه مونږ پر مسلمانانو توکی او مسخری کوو، حال دا چه معامله بیخی بالعکس ده.

**تنبیه:** په دی آیت کښی ﴿فِىْ طُغْيَانِهِمْ﴾ د ﴿وَيَمُدُّهُمْ﴾ له فعل سره متعلق دی، مګر په ځینو نویو دیلوی ترجمو کښی له ﴿يَعْمَهُوْنَ﴾ سره تړلی شوی دی چه له هغه څخه معنی خرابه او د معتزله ؤ له مسلک سره موافقه او د سنیانو له اصولو او د عربو له استعماله بیخی مخالفه او غلطه ده چه پوهان پری ښه پوهیږی.

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿۱۶﴾

دا هغه کسان دی چه پیرودلی اخستلی غوره کړی ئی ده ګمراهی په هدایت سره نو هیڅ ګټه (فائده) ونه کړه سوداګری د دوی (بلکه زیان ئی وکړ) او نه وو دوی لارموندونکی(حق ته)

**تفسیر:** له تجارت څخه مراد همغه د هدایت په ځای د ګمراهی او ضلالت غوره کول دی چه

اوس ئې ذکر وشو، یعنې منافقانو په ښکاره ډول (طریقه) ایمان ومانه او په زړه کښې ئې کفر غوره کړ چه د هغه له امله (وجې) په آخرت کښې خوار او په دنیا کښې داسې بې اعتباره شول چه حق تعالیٰ په خپل کلام کښې د هغو له احوالو څخه ټولو ته خبر ورکړ، که دوی په ایمان مشرف شوی وی نو په دواړو دارینو کښې به لوړ (وچت) شوی وو خو اوس دوی د خپل دغه تجارت څخه هیڅ یوه ګټه (فائده) ونه خیسته، د دارینو په نقصان کښې اخته شول او په دې هیڅ ونه پوهیدل، چه د ژبې تش ایمان ئې کافي او نافع وګانه نو په دې خرابۍ او رسوایۍ کښې ګرفتار شول، وروسته د دې حال په مناسبت دوه مثالونه بیان فرمایي

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا ۚ فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ
ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾

مثال د منافقانو (په نفاق کښې) په شان د مثال د هغه چا دی چه بل کړی ئې وی اور (په تپو (تورو) تیارو کښې) نو کله چه روښانه کړی دغه (اور) هغه ځایونه چه چاپیر د هغه دی نو مړه کړی الله د رڼا (رڼړا) (اور) د دوی او پریږدی دوی په تیارو کښې په دې حال کښې چه هیڅ نه وینې.

**تفسیر:** د منافقانو حال داسې دی. لکه چه څوک په یوه تپه (توره) تیاره شپه کښې د لارې موندلو او له ضررناکو شیانو څخه د ځان په امن کولو له امله (وجې)، اور بل کړی او په لوی بیابان کښې یوه نرۍ لاره ځانته پیدا کړی، کله چه په رڼا (رڼړا) کښې لار ورښکاره شي، نو الله تعالیٰ هغه رڼا (رڼړا) ترې مړه کړی او هغه په همغه توره تیاره شپه او ډاګ میدان کښې وچ کلک ولاړ وی او هیڅ شی الله نه ورښکاروی، هم داسې منافقانو هم د مسلمانانو له ویرې د شهادت د کلمې له رڼا (رڼړا) ځنې غوښته چه کار واخلي، خو سم د لاسه ئې لږ څه فایده (لکه د ځان او مال ساتنه) ترې واخیسته چه د شهادت د کلمې رڼا (رڼړا) او نور منافع ګرد ورک شول، نو وروسته له مرګیدلو څخه په دردناک عذاب اخته شول.

صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾

(دوی) کانه دی ګونګیان دی ړانده دی نو بیرته نه راګرځي دوی (له ګمراهۍ نه)

**تفسیر:** یعنې کانه دی چه رښتیا او حقه خبره نه شي اوریدی، ګونګیان دی د حق له اقراره او

ربښتیا ویلو، ړانده دی د حق له لیدلو او د خپلې ګټې (فائدې) او تاوان له کتلو نه چه څوک کوڼ هم وی ګونګی هم وی، نو هغه به په څه ډول (طریقه) په لار راشی؟ هو! که یواځې ړوند وی، نو یا به ئې چاته غږ کاوه یا به ئې د کوم سړی خبره اوریده، پس له دوی څخنی هیڅ هیله او توقع نه کیږی چه له ګمراهی او بې لارتوب څخنی مخ واړوی او په سمه لاره راشی.

---

اَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ فِيْهِ ظُلُمٰتٌ وَّرَعْدٌ وَّبَرْقٌ ۚ يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ۭ وَاللّٰهُ مُحِيْطٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ⑲

---

یا (مثال د دوی) په شان د صاحبانو د زورور غټ څاڅکی باران دی (چه اوری) له طرفه د آسمانه چه وی په دی کښې تیاری او تندر او بریښنا نو ننه باسی دوی ګوتی خپلې په غوږو خپلو کښې له امله (وجې) د سخت آواز د تندرونو له ویرې د مرګه. او الله احاطه کوونکی دی په کافرانو (په علم او قدرت خپل)

---

**تفسیر:** دوهم مثال د دغو منافقانو په شان د هغو کسانو دی. چه پر دوی له آسمانه په ډیر شدت سره باران اوری او څو ډوله (قسمه) تیاری هم په هغه کښې وی.
مثلاً اوریدنه، لړ په لړ ډیری غلیظې او کثیفې وریځې هم وی او د باران څاڅکی هم په ډیر شدت او کثرت او هجوم سره اوری او شپه هم زښته توره تیاره وی او په دی سخته توره تیاره کښې یو ناڅاپه بریښنا او برق هم په ډیر شدت او سختی سره په دربی او کړنګهار شی او سخته تکه او تندر او تنهار (چړق) ولویږی او داسی یوه زیاته ویره او خوف پیدا شی چه ټول خلق د مرګ له خوفه پخپلو غوږو کښې خپلې ګوتی ومندی او د هغه غږ له ویرې د ډیرو خلقو سا وخیژی، هم داسی منافقان هم له یو لوری د خپلو دنیوی اغراضو او مصالحو له امله (وجې) په یوه عجیبه پریشانی، ویره او کشمکش کښې اخته دی او پخپلو چټی (بیکاره) تدبیرونو سره د خپلو ځانونو ژغورل (ساتل) غواړی مګر د الله تعالیٰ قدرت له هر لوری کافران چار چاپیر نیولی او احاطه کړی ئې دی او د هغه له نیولو او له عذابه په هیڅ ډول (طریقه) نشی خلاصیدی.

---

يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ۭ كُلَّمَآ اَضَاۗءَ لَهُمْ مَّشَوْا فِيْهِ ڎ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ

قَامُوۡا ؕ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمۡعِهِمۡ وَاَبۡصَارِهِمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۲۰﴾

نژدی ده چه بریښنا په چابکی سره یوسی (نور) د سترګو د دوی کله چه رڼا (رڼا) کړی (بریښنا) دوی ته لاره نو روان شي دوی پکښی او کله چه تیاره کړی په دوی نو ودریږی (ترهور) او که اراده کړی وی الله (د دوی د کنوالی او ړوندوالی) نو خامخا زائل کړی به ئی ؤ (ظاهری قوت) د اوریدلو د دوی او (ظاهری قوت) د لیدلو د دوی بیشکه الله پر هر شی (چه اراده وفرمایی) ښه قادر دی (چه ځینی ئی کنول او ړندول دی)

**تفسیر:** حاصل ئی دا چه منافقان پخپل ضلالت او ظلماتی خیالاتو کښی مبتلا دی، خو کله چه د اسلام د نور غلبی او د قوت ناکو معجزو ظهور ته ګوری او شرعی تهدید او تاکید آوری نو لږ څه متنبه او په ښکاره ډول (طریقه) د «**صراط مستقیم**» په لوری متوجه کیږی او هر کله چه څه دنیوی اذیت او مشقت په نظر ورشی نو په خپل کفر باندی تینګیږی، لکه چه د باران په شدت او په تپه (توره) تیاره کښی د بریښنا له بریښیدلو سره په تللو باندی شروع کوی او بیا بیرته وچ کلک دریږی، مګر څرنګه چه الله تعالیٰ په هر شی باندی پوه او علیم دی او هیڅ شی د هغه له قدرت څخه د باندی نه دی نو دوی ته له داسی هیلو (بهانو) او تدبیرونو څخنی هیڅ یوه ګټه (فائده) نه ور رسیږی.

**(فائده):** د دی سورت له شروع څخه تر دی ځایه پوری ئی د دریو ډلو ذکر وفرمایه اول د مؤمنانو دوهم د کافرانو چه د هغوی پر زړونو باندی داسی مهر لګول شوی دی چه هیڅکله به ایمان رانه وړی دریم د منافقانو چه په ظاهره لکه مسلمانان ښکاری مګر د هغوی زړونه په هیڅ یو لوری نه دی.

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اعۡبُدُوۡا رَبَّكُمُ الَّذِىۡ خَلَقَكُمۡ وَالَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ﴿۲۱﴾
الَّذِىۡ جَعَلَ لَكُمُ الۡاَرۡضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّاَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخۡرَجَ بِهٖ مِنَ
الثَّمَرٰتِ رِزۡقًا لَّكُمۡ ۚ فَلَا تَجۡعَلُوۡا لِلّٰهِ اَنۡدَادًا وَّاَنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۲﴾

ای خلقو! عبادت وکړئ د رب خپل هغه (رب چه) پیدا کړی ئی ئی تاسی او (پیدا کړی ئی دی) هغه کسان چه وو پخوا له تاسی څخه دپاره د دی چه تاسی ځان وساتی (له عذابه د الله) هغه (رب) چه ګرځولی ئی ده تاسو ته ځمکه فرش او (ګرځولی ئی دی) آسمان چت او نازلی کړی ئی دی له (طرفه) د آسمانه اوبه پس راویی ایستی په دی (اوبو) سره له هر ډول (قسم) میوو څخه روزی تاسی ته نو مه ګرځوی له الله تعالیٰ سره شریکان حال دا چه تاسی پوهیږی (چه الله شریک نه لری).

**تفسیر:** اوس خپلو بندګانو ته اعم له دی چه مؤمنان وی یا کافران یا منافقان خطاب فرمایی او د حضرت باری په توحید ئی پوهوی چه ایمان د اصولو اصل دی، خلاصه دا ده چه الله تعالیٰ تاسی او نور تول هغه خلق پیدا کړی دی چه له تاسی څخه پخوا وو او ستاسی تول ضروریات او ګردی (تولی) منافع ئی پیدا کړی دی نو له داسی الله تعالیٰ څنی مخ اړول او نور هسی شیان خپل معبودان ګرځول چه تاسو ته نه نفع رسولی شی او نه مو له ضرره ژغورلی (ساتلی) شی لکه بتان او نور څومره ناپوهی او جهالت دی؟ حال دا چه تاسی په دی خبری هم ښه پوهیږی چه هغه لوی ذات «**وحده لاشریک له**» یو، او بی ملګری دی.

وَإِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِۦ

او که چیری ئی تاسی په شک کښی له هغه قرآنه چه توته توته نازل کړی دی مونږ په بنده خپل (محمد باندی) نو راوړئ تاسی یو سورت په شان د ده!

**تفسیر:** دا خبره پخوا تیره شوی ده چه د یوه کلام په نسبت شبهه یا له دی جهته کیدی شی چه څه شک خلل او ریب په کښی وی، نو د هغه دفعه ئی په ﴿ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ سره وفرمایله، یا ئی دا صورت کیدی شی چه د چا په زړه کښی د پوهی له لږوالی یا د عناد د زیاتوالی له امله (وجی) څه شک او شبهه پیدا کیږی، نو څرنګه چه دا صورت ممکن بلکه موجود ؤ نو د دی د لری کولو عمده او آسان صورت ئی بیان وفرمایه چه که تاسی د دی کلام په نسبت داسی خیال لرئ چه د بشر کلام دی نو تاسی هم د دی پاک قرآن د یوه سورت د دری آیتونو په اندازه هم داسی فصیح او بلیغ یو سورت جوړ او ورسره ئی مقابل کړئ! کله چه تاسی سره له ډیر فصاحت او بلاغت، د پاک قرآن د یوه وړوکی صورت له مقابلی څخه عاجز یئ نو باور وکړئ چه دا د الله تعالیٰ کلام دی او د هیڅ کوم بنده خبره نه ده په دی آیت کښی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نبوت لا ښه څرګند او مدلل شو.

وَادْعُوا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۳﴾

او را وبولئ (ای مشرکانو!) مددگاران خپل بې له الله څخه که یئ تاسي رښتیا ویونکي (په دې دعوې کښې چه دا د انسان کلام دی).

**تفسیر:** یعنی که تاسې په دې دعوی کښې رښتینی یئ چه دا د بنده خبره ده نو هومره پوهان، عالمان، شاعران، فصحاء او بلغاء چه موجود دي پرته (علاوه) له الله تعالیٰ له تولو څخه مدد او کومک (امداد) وغواړئ! او معاونت تري واخلئ! او په دې سره ئې ولمسوی چه تول سره کيني او يو لنډ سورت د قرآن د څو آيتونو په شان جوړ کړئ! يا ئې دا مطلب چه له الله تعالىٰ نه په غير ستاسې هومره معبودان چه دي له تولو څخه په ډيره تضرع او زاري او په دعاګانو سره غوښتنه وکړئ! چه په دې مشکل کښې له تاسو سره مدد وکړي او څه آسانتيا دررورسوی!

فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۚ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۴﴾

پس که ونه کړی شو تاسو (دا کار) او له سره به يې ونه کړی شئ پس وساتئ تاسي (ځانونه) له هغه اوره چه خس (خشاک) د هغه بنيادمان او تيږی (ګټی) دی، چه تيار کړی شوی دی (دا اور) لپاره د کافرانو.

**تفسیر:** که بيا مو هم ونشو کړی چه داسې يو سورت جوړ کړئ او دا خبره يقيني ده چه له سره ئې نشئ جوړولی نو وويرېږئ له هغه اور څخه چه له ګردو (تولو) اورو څخه زيات تيز او سوځوونکی دی او نوم ئې دوزخ او خس (خشاک) ئې کافران او هغه تيږی (ګټی) دی چه تاسو ئې په عبادت کښې مشغول ئې. او دا اور خاص د هغو کافرانو لپاره تيار کړی شوی دی چه عظيم الشان قرآن نه مني او په حضرت محمد صلی الله عليه وسلم باندی ايمان نه راوړی او دروغجن ئې بولی د خلاصی او نجات هم دا يو صورت شته چه تاسی د حضرت باری جل جلاله په پاک کلام ايمان راوړئ.

وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۭ كُلَّمَا

رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُوْا هٰذَا الَّذِيْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا

او زیری ورکړه (ای محمده) هغو کسانو ته چه ایمان ئی راوړی دی (په تولو مؤمن به شیانو) او کړی ئی دی ښه (عملونه) په دی چه بیشکه دوی ته جنتونه دی چه بهیږی لاندی (تر مانیو او ونو) د هغو ویالی هرکله چه روزی ورکړه شی دغو (جنتیانو) ته له جنتو څخه څه میوه لپاره د خوړلو نو وایی دا (جنتیان) دا همغسی میوه ده چه راکړی شوی وه مونږ ته پخوا له دی نه او رابه وړه شی دوی ته میوه هم رنګه (او په خوند کښی سره بیله).

**تفسیر:** د جنت میوی به د دنیا له میوو سره مشابه وی چه په شکل او صورت کښی به عیناً بیخی همغسی ښکاری مګر په خوند، مزه، رائحه، خوږوالی، لطافت او نزاکت کښی به ډیر زیات فرق سره لری او د دی دواړو په مینځ کښی به د ځمکی او آسمان توپیر (فرق) وی نو کله چه جنتیان کومه یوه میوه ووینی وایی به چه دا همغه ډوله (قسمه) میوه ده چه پخوا له دی نه مو خوړلی وه څه مهال (وخت) ئی چه وڅکی او ویی خوری نو ډیر خوند او لذت به تری مومی او داسی به وایی چه بیشکه د دی په شان می نه په دنیا او نه په جنت کښی پخوا تر دی څه میوه خوړلی ده.

وَلَهُمْ فِيْهَاۤ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙ وَّهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵﴾

او وی به دوی ته په دغو (جنتو) کښی ښځی ښی پاکی ستره او دوی به وی په دغو (جنتو) کښی همیشه.

**تفسیر:** د جنت ښځی به له ظاهری او باطنی نجاساتو (او رذیله ؤ اخلاقو) څخنی تولی پاکی، صافی وی.

**(فائده):** تر دی ځایه پوری ئی د دری شیانو ذکر وفرمایه چه په هغو پوهیدل ضروری وو!

اول: «مبدأ» یعنی چه مونږ له کومه راغلی یو؟ او تر دی پخوا څه شی وو؟

دوهم: «معیشت» چه څه خورو او چیری اوسو؟.

دریم: «معاد» چه زمونږ پای او انجام به څه کیږی؟.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيٖۤ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً فَمَا فَوْقَهَا

بیشکه الله نه پریږدی (دا خبره) چه بیان کړی یو مثال (له مثالو څخه) په

## میاشی سره یا چه پورته وی تری

**تفسیر:** په دی آیت کښی د هغی معارضی ځواب ورکړی شوی دی چه د کفارو له لوری د ړومبنی آیت په مقابل کښی شوی ده، خلاصه ئی دا ده کله چه د یو وړوکی سورت جوړول هم د دی پاک کلام په شان د دوی له لاسه ونه شو او ټول سره تری عاجزان شول نو کفارو وویل چه «مونږ په بل دلیل سره د دی خبری شهادت وړاندی کوو چه دا د الله کلام نه بلکه د بنده وینا ده، او هغه دا دی چه یو لوی عظیم الشان سړی تل پخپلو خبرو او اترو کښی د ذلیلو او حقیرو شیانو له یادولو ځنی ځان ساتی او له سره ژبه نه پری خوځوی نو حق تعالیٰ چه له ټولو لویانو ځنی اعلیٰ، اعظم او اکبر دی څرنگه په خپل پاک کلام کښی د میاشی یا له هغه ځنی د کومی لویی خوځندی (حشرات الارض) لکه مچ او غنی (جولاگی) مثال بیانوی ځکه چه له «مثال» نه د «ممثل له» توضیح او تفصیل مطلوب وی او په هغه کښی د حقارت او عظمت څه خبره او مباحثه نه وی او دا مطلوب په هلته حاصلیږی چه د «مثال» او د «ممثل له» په مینځ کښی پوره مطابقت وی که «ممثل له» حقیر وی ښائی چه د هغه «مثال» هم حقیر وی که نه هغه «تمثیل» بیکاره گڼه کیږی. هو! که په تمثیل کښی دا خبره هم ضروری وی چه د مثال او مثال ورکوونکی په منځ کښی پوره موافقت وی نو د دی ناپوهانو دغه اعتراض به لږ څه د اوریدلو وړ (لائق) ؤ، مگر د دی خبری ویونکی به هیڅ احمق او ناپوه هم نه وی او په توریت، انجیل او د حکماؤ او سلاطینو په کلام کښی داسی ډیر مثالونه شته، د دی خبری اظهار هسی مخالفت او د کفارو د نادانی او ناپوهی او عناد نتیجه ده او بس، د ﴿فَمَا فَوْقَهَا﴾ معنی داسی هم کیدی شی چه له میاشی ځنی په حقارت او صغارت کښی زیات وی لکه چه په ځینو احادیثو کښی د دنیا تمثال د میاشی د وزرو سره کړی شوی دی.

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا ۚ

پس هر څه هغه کسان چه مؤمنان دی پس پوهیږی (په یقین سره) چه بیشکه دا مثال حق دی له ربه د دوی څخه او هر څه هغه کسان چه کافران شوی دی نو وایی (له ډیری ناپوهی او عناد نه) چه د څه څیز اراده کړی ده الله په دی مثال سره (داسی اراده کړی ده الله چه) گمراه کوی په دی مثال سره ډیر خلق او سمه لاره ښیی (د حق) په دی سره ډیرو خلقو ته

**تفسیر:** یعنی مؤمنان داسی مثالونه حق او مفید گڼی او کافران د حقارت په ډول (طریقه) وایی چه له داسی حقیرو او سپکو مثالو څنی الله تعالیٰ څه مطلب او اراده لری؟ ځواب ورکړی شوی دی چه دغه کلام له سره تر پایه پوری هدایت دی خو د ده نه اوریدلو څخه ډیر خلق د گمراهی په کنده کښی لویږی او ډیر خلق د هغه په مرسته (مدد) د هدایت په سمه لاره درومی، یعنی له دی څخه د حق د طرفدارانو او د باطل د هوا خواهانو پوره تمیز بیلوالی او جلا والی (جداوالی) مقصود دی چه هغه خورا (ډیر) مفید او ضروری شی دی.

وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾ ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾

او نه گمراه کوی (الله) په دی مثال سره مگر فاسقان هغوی چه ماتوی دوی عهد د الله وروسته د محکموالی د هغه عهد او پری کوی هغه چه حکم کړی دی الله په هغه سره چه پیوند دی کړی شی او فساد کوی دوی په ځمکه کښی او دغه کسان هم دوی دی زیان کاران (په دنیا او عقبیٰ کښی).

**تفسیر:** د ﴿مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ﴾ قطع لکه قطع الرحم، له انبیاؤ، علماؤ، واعظانو، مؤمنانو لمونځونو او نورو خیریه ؤ امورو نه مخ اړول چه د الله تعالیٰ د مرضی په خلاف دی. له فساد نه مراد دا دی، چه خلق به ئی له ایمان څنی زړه توری کول او د هغه نفرت او کرکه به ئی د هغوی په زړونو کښی ورا چوله او د اسلام مخالفان به ئی په دی باندی تیزول چه له مسلمانانو سره مقاتله وکړی او د مؤمنانو مقاتلی ته ملا وتړی او د لویو اصحابو او د امت د صلحاؤ عیوب ولتوی یا ئی پری وتړی او بیا ئی مشهور کړی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم او د محمدی دین بی وقعتی او بی احترامی د خلقو په زړونو کښی کینی او راز راز (قسم قسم) رسوم او بدعتونه به ئی خپرول (خورؤل) او د اسلام په مخالفت کښی به ئی زیار (زور) لگاوه.
مطلب دا دی چه د دی نامناسبو حرکاتو له امله (وجی) خپلو ځانونو ته زیان رسوی چه له هغو څنی نه د اسلام توهین او نه د امت د صلحاؤ څه تحقیر کیدای شی.

كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا فَأَحْيَٰكُمْ ۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ

ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾

څرنګه کافران کیږی په الله باندی حال دا چه وی تاسی مړه بیا (الله) ژوندی کړی تاسی (د روح په درکولو سره) بیا به (الله) مړه کړی تاسی بیا به (الله) ژوندی کړی تاسی (په بعث سره) بیا به خاص هم ده ته وروستی شی. (د خپلو اعمالو د جزا لپاره).

**تفسیر:** یعنی په اوله کښی تاسی بی ځانه اجسام وی. چه حس او حرکت در کښی نه ؤ ړومبی عناصر وی وروسته د مور او پلار خواړه او غذا شوی، او بیا نطفه او ورپسی کلکه وینه او بیا یوه توته غوښه شوی، له ړومبنیو حالاتو څخه وروسته په تاسی کښی روح (سا) پوکړه شوه، چه د هغی له امله (وجی) اول د مور په رحم او بیا په دنیا کښی ژوند کوی، کله چه په دنیا کښی د مرګ وخت راشی او مړه شئ بیا به په قیامت کښی ژوندی کیږی چه حساب ورکړی او خپلی عمل نامی واخلی یعنی له قبرونو څخه به ووځئ او د الله تعالیٰ په حضور کښی به د حساب او کتاب لپاره ودرولی شی، نو اوس تاسی په خپله انصاف وکړئ هر کله چه تاسی له اوله تر آخره پوری د الله تعالیٰ د احساناتو او فائدو ګرو ئی او په هر حالت او حاجت کښی ورته محتاج ئی او هم ده ته امید او هیله (طمعه) لری نو په سر د هغه کفر غوره کول او د پاک خدای جل جلاله نافرمانی ته ملا تړل څومره د تعجب، افسوس او حیرانی خبره ده.

هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾

الله هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی تاسی ته هغه شیان چه په ځمکه کښی دی ټول، بیا ئی قصد وکړ آسمان ته (د پیدا کولو) نو برابر ئی کړل دوی اووه آسمانونه او دی په هر څه باندی ښه عالم دی.

**تفسیر:** په دی آیت کښی ئی د بل نعمت بیان وفرمایه، یعنی الله تعالیٰ تاسی پیدا کړی یئ او ستاسی د بقاء او ګټی لپاره ئی په ځمکه کښی هر ډول (قسم) شیان خورا (ډیر) زیات پیدا کړل لکه د خوړلو، څکلو او آغوستلو شیان هو د هر شی لپاره ئی جلا جلا (جدا جدا) سامانونه او وسیلی، او وروسته له هغه ئی متعدد آسمانونه پیدا کړل چه په هغو کښی تاسی ته راز راز (قسم قسم) منافع او ګټی (نفعی) شته دی.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وویل پروردګار ستا پرښتو ته چه بیشکه زه ګرځوونکی یم په ځمکه کښې د یوه خلیفه

**تفسیر:** اوس د یوه لوی نعمت ذکر فرمایی چه پر ګردو (تولو) بنیادمانو ئې کړی دی او هغه د حضرت آدم علیٰ نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام د پیدایښت قصه ده چه په تفصیل سره بیان شوی ده او هغه ئې «خلیفة الله» مقرر کړی دی که له پخوانی آیت ﴿خَلَقَ لَكُم مَّا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا﴾ څخه څوک انکار وکړی نو د آدم علیه السلام له قصی نه د هغه ځواب هم په ښه دول (طریقه) سره ورکاوه شي.

قَالُوٓاْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ

نو وویل پرښتو آیا ګرځوی ته په ځمکه کښې هغه څوک چه فساد به کوی په دی کښې او تویوی به (په ناحقه سره) وینی، حال دا چه مونږ تسبیح وایو سره د ثنا ستا او نسبت د پاکی کوو تاته

**تفسیر:** ملائکو ته دا تعجب، فکر او اندیښنه د دی له امله (وجی) پیدا شوه چه د داسی مخلوق د پیدایښت څه ضرورت دی چه په دوی کښې به مفسدین او وینی تویوونکی هم وی. حال دا چه مونږ د الله تعالیٰ ډیر مطیع او فرمان وړونکی بندګان یو نو زمونږ له وجود سره به د دی خلیفه پیدا کولو ته څه اړه (احتیاج) او ضرورت وی؟ نو د تعجب او استفادی په طریقه نه د کوم اعتراض لپاره ئې دا پوښتنه وکړه پاتی شوه دا خبره چه پرښتو ته د بنیادمانو احوال څرنګه څرګند شوی وو؟ په دی کښې ډیر احتمالات شته، یا به ئې په پیریانو باندی قیاس کړی وی یابه الله تعالیٰ پوهولی وی یا به ئې دا خبری په لوح محفوظ کښې لوستی وی یا به پوهیدلی وی چه خلیفه ته خو هلته ضرورت پیښیږی چه ظلم، فساد او تجاوز موجود وی یا به د حضرت آدم علیٰ نبینا وعلیه السلام د قیافی د لیدلو څخنی په دی خبره پوهیدلی وی لکه چه ابلیس د آدم علیه السلام د لیدلو په وخت کښې وویل چه «دا سری به ډیر غولیږی» لکه چه وروسته له هغه همغسی ولیدل شو.

قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٣٠﴾

وویل (الله) بیشکه زه پوهیږم په هغو اسرارو چه تاسی پری نه پوهیږئ.

**تفسیر:** پرښتو ته سمدلاسه په اجمالی طور داسی ځواب ورکړ شو چه مونږ په هغو حکمتونو او مصلحتونو دیر ښه پوهیږو چه د ده په پیدا کولو کښی شته، ځرنگه چه تاسو ته اوس هغه مصالح او حکمتونه نه دی ښکاره نو ځکه د هغه د خلافت او فضیلت په نسبت تعجب کوئ.

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسۡمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٣٢﴾

او وښودل (الله) آدم ته نومونه تول (د پاسنیو او ځمکنیو شیانو) بیا ئی وروړاندی کړل هغه تول شیان پرښتو ته نو وویل خبر راکړئ تاسی ماته په نومونو د دی شیانو سره که یئ تاسی رښتیا ویونکی (پخپله دغه وینا کښی) وویل پرښتو نسبت د پاکی کوو تاته (له تولو عیبونو او اعتراضونو) نشته هیڅ علم مونږ لره مگر په هغه شی چه ښودلی دی تا مونږ ته بیشکه ته هم دا ته ښه عالم او ښه د حکمت خاوند ئی.

**تفسیر:** لنده ئی دا چه حق تعالیٰ آدم علیه السلام ته د هر شی نوم او د هغه حقیقت او خاصیت، گته (فائده) او تاوان وروښود او دا علم ئی بی د کلام له واسطی د القاء په توگه (طریقه) وربه زړه کره ځکه چه بی له علمی کمال څخه خلافت او په دنیا باندی حکومت امکان نه درلود (لرلو). وروسته له دی، د دی لپاره چه د هغه خاص حکمت او اساسی مصلحت پرښتو ته ځرگند شی د دغو پاسنیو یاد شوو شیانو پوښتنه ئی له پرښتو څخه وفرمایله چه «که تاسی په دی خبره کښی رښتینی یئ چه د خلافت د کار په پای (آخر) ته رسولو کښی وړ (لائق) ئی نو د دی شیانو خواص او نومونه راوښیئ!» مگر هغوی په ځواب کښی پخپل عجز او قصور اعتراف وکړ او ښی وپوهیدلی چه بی له دی عمومی معلوماتو څخه هیڅوک پر ځمکه خلافت نشی کولی که څه هم مونږ لږ څه عمومی معلومات لرو مگر دا زمونږ جزی معلومات د دی خبری وړ (لائق) نه دی چه د خلافت مدعیانی شو، د دی خبری له پوهیدلو څخه وروسته تولو په یوه غږ وویل **«یااله العالمینه!** ستا علم او حکمت ته هیڅوک نشی رسیدی!»

قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ ۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ
إِنِّىٓ أَعْلَمُ غَيْبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٣٣﴾

وویل (الله) ای آدمه! خبر کړه دوی په نومونو د دی شیانو، نو کله چه آدم خبر ورکړ دوی ته په نومونو د هغو شیانو وویل (الله) آیا نه ؤ ویلی ما تاسو ته چه بیشکه زه پوهیږم په پټو شیانو د آسمانونو او د ځمکی او پوهیږم پر هغو شیانو چه ښکاره کوئ ئی تاسی په (ژبه) او په هغو شیانو چه یئ تاسی چه پټوئ ئی (په زړونو کښی).

**تفسیر:** وروسته له دی د آدم علیه السلام څخه د عالم د تولو شیانو په نسبت سوال وشو «خلیفة الله» ژر تر ژره هغه تول ملائکو ته وربیان او تولی پرښتی ئی داسی متعجبی او حیرانی کړی چه د ده په علمی احاطه ئی تحسین او آفرین وویل، نو دلته الله تعالیٰ ملائکو ته وفرمایل «آیا تاسو ته مو نه ؤ ویلی چه بیشکه زه ښه پوهیږم په پټو شیانو د آسمانونو او د ځمکی او ښه خبر یم په هغه شیانو چه ئی څرګندوئ، او پټ ئی ساتئ په خپلو زړونو کښی».

**(فائده):** له دی څخه پر عبادت باندی د علم فضیلت ثابت شو وګورئ چه په عبادت کښی پرښتی دی حد ته رسیدلی دی چه معصومی دی مګر څرنګه چه په علم کښی د انسان څخه کمی دی نو ځکه ئی د خلافت مرتبه انسان ته داسی ورکړه چه پرښتی هم ورته تسلیمی شوی او ښایی چه هم داسی هم کیده ځکه چه عبادت د مخلوقاتو خاصه ده او د پاک الله صفت نه دی، او علم د الله تعالیٰ له لویو صفاتو څخه دی نو د دی له امله (وجی) حضرت آدم علیه السلام د خلافت وړ (لائق) وګرځید او د علم لوی صفت ځکه وربه برخه شو چه په هر خلیفه کښی د خپل «مستخلف عنه» د کمال وجود یو ضروری امر دی.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِـَٔادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ ط

او (یاد کړه ای محمده!) کله چه وویل مونږ پرښتو ته چه سجده وکړئ آدم ته (د تحیی) پس سجده وکړه دوی (تولو) مګر (سجده ونکړه) ابلیس

**تفسیر:** کله چه د آدم علیه السلام خلافت مسلم شو نو پرښتو او پیریانو ته امر وشو چه د آدم

علیه السلام په لوری د تحیی (تعظیمی) سجده وکړئ او هغه د خپلی سجدی قبله وګرځوئ د دی امر د منلو له امله (وحی) تولی پرښتی په سجده ولویدی مګر یواځی (ابلیس) له سجدی کولو څخه سر وغړاوه چه په اصل کښی له پیریانو څخه ؤ او پرښتو سره ګډ او خلط شوی ؤ، د دی غاړی غړولو او سرکشی سبب دا ؤ چه پیریان څو زره کاله پر ځمکه متصرف وو او آسمانونو ته به هم ختل کله چه د هغوی عصیان او فساد ډیر شو او په وینو تویولو کښی ئی ډیر زیادت وکړ نو له دغو پیریانو څخه ځینی د پاک الله په امر د پرښتو له خوا ووژل شول او ځینی وتښتیدل په دښتو (بیابانونو) او ځنګلو او د غرونو په درو او جزیرو کښی پټ، تیت او پرک (خواه واره) شول (ابلیس) چه د دی پیریانو یو لوی عالم او عابد ؤ د پیریانو په فساد کښی ئی خپل پردیتوب (بیګانتوب) او بی ګناهی ښکاره کړه او د پرښتو په سپارښتنه له هم دوی سره محفوظ پاتی شو او په دی هیله (امید) او تمه چه وروسته له دی نه به د تولو شړل شوو پیریانو په ځای زه د تولی ځمکی والی او متصرف وتاکل (مقرر) شم په عبادت او ریاضت کښی ئی ډیر زیار (کوشش) او زحمت ایست او پرله پسی به د ځمکی د خلافت په چرت (خیال) کښی ډوب تللی ؤ، کله چه د الله تعالیٰ اراده دآدم علیه السلام د خلافت په نسبت ظاهره شوه نو (ابلیس) مایوس شو او د خپل ریائی عبادت په بی ځایه تللو له اندازی زیات خپه شو او د حسد او کینی په جوش کښی ئی هغه کارونه وکړل چه په توان کښی ئی وو او په نتیجه کښی ملعون شو.

أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾

منع ئی راوړه (له سجدی نه) او لوئی ئی وکړه او ؤ دی (لا له پخوا څخه په علم د الله کښی) له کافرانو څخه.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په علم کښی له اوله دی کافر ؤ مګر نورو ته اوس د هغه عصیان او کفر ورښکاره شو، یا ئی داسی وبوله چه اوس کافر شو ځکه چه د پاک الله امر ئی د تکبر او لویی له امله (وحی) ونه مانه او د الله جل جلاله حکم ئی له مصلحت او حکمت څخه مخالف او د ننګ او عار موجب وګانه او یوازی له دی جهته کافر نه شو چه سجده ئی ونکره.

وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾

او وویل مونږ ای آدمه! واوسیږه! ته او ښځه ستا په جنت کښی او خورئ! له میوو د جنته (څه چه مو زړه غواړی) پریمانه هر چیرته مو چه خوښه وی او

مه نژدی کیږئ دی ونی ته (د میوی خوړلو دپاره) (که نژدی شوئ) نو شئ به له ظالمانو څخه.

**تفسیر:** مشهوره ده چه هغه د غنمو ونه وه یا د ځینو په وینا د انګورو یا انځرو یا ترنجو یا د بل شی ونه وه والله اعلم.

فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ

پس وښویول دوی دواړو لره شیطان له جنته (د ونی د نژدیوالی په واسطه) نو ویی ایستل دواړه له هغه (عزت او راحت) څخه چه وو دوی په هغو کښی.

**تفسیر:** وایی چه آدم او حواء علیهما السلام په جنت کښی هستوګنه لرله شیطان چه خپل هغه د عزت ځای د آدم علیه السلام د مخالفت له امله (وجی) له لاسه ورکړی ؤ لا د حسد او رخی (کینی) د سیند په ګرداب کښی لاهو شو تر دی چه له مار او طاؤس سره یو ځای جنت ته ننوت او بی‌بی حواء ئی په یو ډول (قسم) سره وښویوله او له لاری ئی وویستله او له هغی ونی څخه ئی څه شی وخوړ او په آدم علیه السلام باندی ئی هم وخوړ او داسی اطمینان او ډاډګیرنه ئی ورکړه چه د دی ونی د میوی خوړلو څنی سری تل په جنت کښی پاتی او د الله تعالیٰ د نورو مهربانیو مورد هم ګرځی او لا ورته مقرب او نژدی کیږی او د الله تعالیٰ د هغه ممانعت توجیه ئی هم په خپل فکر سره بل ډول (قسم) ورجوړه کړه، وروسته دا قصه په مفصل ډول (طریقه) سره راځی.

وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ

او وویل مونږ چه کوز شئ (له جنته ځمکی ته) حال دا چه ځینی ستاسی به له ځینو نورو سره دښمنان وی.

**تفسیر:** د دی تیروتلو په سزا آدم او حواء علیهما السلام او د هغوی تولی اولادی ته هم دا امر صادر شو چه د جنت څخه راکوز شئ! او په ځمکه کښی هستوګنه وکړئ! تاسی به یو له بله سره دښمنی کوئ! چه د هغی له امله (وجی) به تاسی ته ډیر زیات تکلیفونه او ربړونه (تکلیفونو) درپیښیږی ځکه چه جنت د سرکشی او دښمنی ځای نه دی د دی کارونو لپاره دنیا ډیر مناسبت لری چه د بندګانو د امتحان لپاره جوړه شوی ده.

وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿۳۶﴾

او شته تاسی ته په ځمکه کښې ځای د هستوګنې او اسباب د ګټې (فائدې) اخستلو تر یوه وخته پورې (چه اجل یا قیامت دی).

**تفسیر:** یعنې په دنیا کښې به تل نه اوسیږئ! بلکه تر یوې ټاکلې (مقررې) مودې پورې به هلته اوسیږئ! او د هغه ځای له شیانو څخه به ګټه (فائده) اخلئ! بیا به له ما سره مخامخ کیږئ! او هغه ټاکلې (مقرر) وخت هر چا لره د مړینې وخت دی او ټولو مخلوقاتو ته په مجموعي دول (طور) د قیامت ورځ ده.

فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿۳۷﴾

پس زده کړې آدم له پروردګار خپل څخه څو کلمې پس رجوع وکړه (الله) په هغه باندې (په رحمت سره) بیشکه هم دی دی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربانی کوونکی.

**تفسیر:** کله چه حضرت آدم علیه السلام د الله تعالیٰ دا عتاب واورید او له جنت نه ووت نو د ندامت او پښیمانۍ په حالت کښې په ژړا او واویلا او په زارۍ مشغول شو، په دې وخت کښې حق تعالیٰ په خپل فضل او مرحمت سره ده ته څو کلمې د القاء او الهام په توګه (طریقه) ور زده کړې چه د هغو په لوستلو د ده توبه قبوله شوه هغه کلمې دا دي

﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾

(د «الأعراف» اوله رکوع)

قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا ۖ

(بیا) وویل مونږ چه کوز شئ له جنته ټول

**تفسیر:** مطلب دا دی چه حق تعالیٰ د آدم علیه السلام توبه قبوله کړه خو جنت ته ئې سمدلاسه د ورتګ امر ورنکړ بلکه امر ئې پرې وکړ چه په دنیا کښې هستوګنه وکړئ. ځکه چه د هغه د حکمت او مصلحت اقتضاء هم داسې وه. ښکاره خبره ده چه دی ئې د ځمکې لپاره «خلیفه» ټاکلی (مقرر کړی) ؤ، نه د جنت لپاره او الله تعالیٰ هم داسې فرمایلي دي هر هغه چه زما تابع او منونکي وي نو هغه ته به د دنیا هستوګنه هیڅ ضرر نه رسوي بلکه ګټه (فائده) ورته لري.

هو! نافرمانو خلقو ته دوزخ دی، د دغو دوه ؤ متضادو عنصرو د بیلوالی او امتحان لپاره هم دا دنیا مناسب ځای دی.

فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾

پس که راغی تاسی ته له ما څخنی کوم هدایت پس هر څوک چه پیروی وکړی د هدایت زما پس نه به وی هیڅ قسم ویره پر دوی باندی او نه به وی دوی (هیچیری) چه خپه کیږی (او جنت ته به ځی).

**تفسیر:** هغه صدمه او اندیښنه چه چاته د کوم مصیبت د وقوع نه پخوا پیښیږی هغی ته خوف وایی، هغه غم او خپګان چه انسان ته له مصیبته وروسته رسیږی، هغه ته حزن وایی مثلاً هغه کیفیت ته چه د یوه مریض د مړ کیدلو له تصور نه چاته وررسیږی خوف او هغه کیفیت ته چه د هغه له مړ کیدلو څخه وروسته پیدا کیږی حزن وایی مثلاً د هغه خوف او حزن نفی چه په دی آیت کښی شوی ده، که له هغه څخه دنیوی «خوف» او «حزن» مراد شی، نو د هغه معنی به داسی کیږی هغه کسان چه زما له هدایته سره سم تګ کوی نو دوی ته هیڅ د دی اندیښنی ځای نشته چه دا به حق هدایت نه وی، او د شیطان له لوری به فریب او مغالطه وی، او نه به دوی د دی له امله (وجی) غمجن وی چه اوس خو د دوی له پلار څخه جنت اخیستی شوی دی، ځکه د هدایت لار موندونکی ژر تر ژره جنت ته ور رسیږی، او که اخروی «خوف» او «حزن» مراد وی، نو به ئی مطلب داسی وی چه په قیامت کښی به د هدایت خاوندانو ته نه «خوف» وی او نه «حزن» مګر د «حزن» په نشتوالی کښی خو هیڅ د شک او شبهی ځای نشته، ځکه د «خوف» له نفی څخه دا اندیښنه په زړه کښی رالویږی چه د جزا په ورځ کښی تر انبیاؤ علیهم السلام پوری به هم په «خوف» او ویره کښی وی او هیڅ څوک به بی ویری نه وی، خبره دا ده چه «خوف» دوه ډوله (قسمه) دی کله د خوف باعث او مرجع په ویریدونکی کښی لیدله کیږی لکه چه باچاهی مجرم له باچا څخنی ویریږی، نو د «خوف» موجب جرم دی چه نسبت ئی ورته کیږی او کله د خوف منشأ «مخوف منه» وی، یعنی لکه چه یو بی ګناه شخص چه د بادشاه یا د زمری له هیبت څخه ویریږی، نو د دی ویری سبب دا نه دی چه ګواکی دغه شخص د باچا یا د زمری په مقابل کښی کومه ګناه کړی ده بلکه د باچا قهر او جلال، یا د زمری سبعیت، غضب او هیبت، د دغه خوف موجب ګرځیدلی دی چه منشأ ئی د پاچا جلال یا د زمری هیبت دی. نو په دی آیت کښی ئی اول قسم «خوف» نفی کړ نه دوهم قسم دا شبهه خو هلته واردیدله چه د ﴿ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ ﴾ په ځای ئی **(لاخوف فیهم)** یا ﴿ لَا يَخَافُونَ ﴾ فرمایلی وی.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝٣٩
يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ اُوْفِ
بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ۝٤٠

---

او هغه کسان چه کافران شوی دی او دروغ گڼی آیاتونه زمونږ هم دغه کسان صاحبان د اور (دوزخ) دی هم دوی به په هغه (اور د دوزخ) کښی همیشه وی. ای بنی اسرائیلو! (اولادی د یعقوبه!) یاد کړئ! نعمت زما هغه چه انعام می کړی دی پر تاسی او وفا وکړئ په عهد زما (په متابعت د نبی) چه زه هم وفا وکړم په عهد ستاسی (په دخول د جنت) او خاص له مانه پس وویرېږئ (له مناهیو ځان وساتئ او د دنیوی منافعو له لاس وتلو څخه مه ویرېږئ!)

---

**تفسیر:** اول ﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا ﴾ عام خطاب ؤ، او په هغه کښی د هغو نعمتونو ذکر ؤ چه گردو بنیادمانو ته په عمومی ډول (طریقه) ورکړی شوی وو، مثلاً د ځمکی، آسمان او نورو گردو شیانو پیدایښت، بیا د آدم علیه السلام د پیدایښت، او د هغه د خلافت او جنت ته د ادخال او نورو یادونه وشوه. اوس له بنیادمانو څخه خاص بنی اسرائیلو ته خطاب کړی شوی دی، او هغه خاص نعمتونه ئی وربه یاد کړی دی چه وخت په وخت او پښت په پښت (پشت په پشت) ئی پر دوی انعام کړی دی، او هغه ناشکری چه دوی د نعمتونو په مقابل کښی کړی دی، د هغو گردو (تولو) یادونه په مفصل ډول (طریقه) سره کوله شی ځکه چه بنی اسرائیل د بنیادمانو په تولو فرقو کښی ممتاز وو، د علم خاوندان د آسمانی کتابونو، انبیاؤ او د نبوت پیژندونکی او لرونکی وو ځکه چه د حضرت یعقوب علیه السلام له پیری څخه د حضرت عیسیٰ علیه السلام تر پیری پوری څلور زره انبیاء په دوی کښی مبعوث شوی دی او د گردو (تولو) عربو سترگی دهغوی په لوری وی چه آیا بنی اسرائیل زمونږ د پیغمبر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت تصدیق کوی که نه؟ نو له دی امله (وجی) ئی د انعاماتو او خرابیو یادونه په تفصیل سره فرمایلی ده.

چه دوی ښه پری متأثر شی او د خجالتی په سبب ایمان راوړی او که نه نور خلق خو به په دی وسیله د دوی له دی حرکاتو څخه واقف شی او بیا به د هغوی په نورو خبرو باور نه کوی اسرائیل د یعقوب علیه السلام نوم دی چه معنی ئی بنده د الله یعنی عبدالله دی. ﴿ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ ﴾ الآیه ـ یاد کړئ ای بنی اسرائیلو نعمت زما هغه چه انعام می کړی دی پر تاسی) چه په

زرگونو انبیاء ئی په دوی کښې مبعوث کړی دی (توریت) او نور کتابونه ئی پر دوی نازل فرمایلی دی، دوی ئی د فرعون له عذابه ژغورلی (ساتلی) دی، د دوی تصرف او تسلط ئی د شام پر هیواد (ملک) قایم کړی دی، پر دوی ئی د«من» او «سلویٰ» خواړه نازل کړی دی له یوی تیږی (گټی) څخه ئی د اوبو دوولس چینی دوی ته بهولی دی او هسی نعمتونه او د عاداتو خوارق ئی وربه برخه کړی دی چه د نورو خلقو په برخه نه دی شوی ﴿وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِىٓ﴾ الآیه ـ او وفا وکړئ په عهد زما په متابعت د نبی چه زه هم وفا وکړم په عهد ستاسی په دخول د جنت په «توریت» کښې هسی امر شوی ؤ چه تاسی د «توریت» پر احکامو ټینګ اوسئ! او پر هر نبی علیه السلام باندی چه در ویی لیږم ایمان راوړئ! او له هغه سره ملګرتیا وکړئ! چه د (شام) هیواد (ملک) ستاسو په قبضه کښې پاتی شی بنی اسرائیلو دا ګردی (ټولی) خبری منلی وی مګر بیا دوی په خپلو دغو وعدو ونه دریدل په بدنیتی ئی پیل (ابتدا) وکړ ـ په رشوتونو باندی ئی خبری او مسئلی اړولی او غلطی ئی ورښوولی ـ او حق به ئی پټاوه ـ وروسته له دی چه خپل ریاست ئی قائم کړ د انبیاؤ له اطاعت څخه ئی سر وغړاوه، بلکه د ځینو په وژلو ئی هم لاس پوری کړ. د «توریت» په هر ځای کښې چه د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم صفتونه او ستاینی وی هغه ئی بدلی کړی نو د دی شیانو له امله (وجی) ګمراهان شول.

---

وَءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ ۖ وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّٰىَ فَٱتَّقُونِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُوا۟ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُوا۟ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾

---

او ایمان راوړئ! په هغه کتاب چه نازل کړی دی ما حال دا چه (تصدیق کوونکی دی د هغه کتاب) چه تاسی سره دی او مه کیږئ! اول کافر (نه منونکی) په دی (قرآن) باندی او مه پیرئ (مه آخلی) په آیتونو زما قیمت لږ او خاص له مانه پس وویریږئ! (دا کار مه کوئ!) او مه ګدوئ حق له باطل سره (خپل دروغ له رښتیا د (توریت سره) او (مه) پټوئ! حق حال دا چه تاسی پوهیږئ (په دی خلط او پټولو سره)

---

**تفسیر:** په «توریت» کښې لیکل شوی ؤ هغه پیغمبر چه د «توریت» تصدیق وکړی هغه صادق دی نو تاسی ئی ومنئ او که توریت ونه منی دروغ وایی.

**(تنبیه):** قرآنی احکام په اوامرو، نواهیو او د انبیاؤ په عقایدو، سوانحو، اخبارو او د آخرت په احوالو، او نورو شیانو کښې له «توریت» او نورو پخوانیو کتابونو سره سم او موافق دی هو! د

هغوی ځینی اوامر او نواهی منسوخ شوی هم دی مګر هغه د تصدیق څنی مخالف نه دی. د تصدیق مخالف تکذیب دی او د الله جل جلاله د کتابونو تکذیب بیخی کفر دی. ځینی قرآنی آیتونه هم منسوخ شوی دی مګر **(نعوذبالله)** هغه ته څوک تکذیب نه وایی ځکه چه نسخ په انشاء او تکذیب په اخبار کښی راځی.

﴿ وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ ﴾ الآیه ـ او مه کیږئ اول کافر نه منونکی په دی قرآن باندی). یعنی تاسی سره له پوهی ړومبنی تکذیب کوونکی مه شئ! چه تر قیامته پوری به د منکرانو ګناه ستاسو په غاړه کښی لویږی، که د مکی مشرکان تکذیب او انکار کوی خو هغه د دوی له جهل او بی خبری څنی دی او په قصد سره نه دی، نو سره له پوهی اول منکران تاسو یئ! او دا کفر له ړومبنی کفر څخه ډیر سخت دی.

که جاهل وکړی ګناه، شی به معذوره ▪ پوهنده عاصی به وی له عذره دوره
نابینا که شی ارتاو ملامت نه دی ▪ که په غتو ګوری وی خو په زړه کوره

---

وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُوا۟ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾

---

او سم قائموئ (په ښه ترتیب سره ادا کوئ) لمونځ! او ورکوئ زکات! او رکوع وکړئ! سره له رکوع کوونکو (لمونځ کوونکو مسلمانانو).

---

**تفسیر:** یعنی په جماعت سره تل لمونځ وکړئ! له دی نه پخوا په هیڅ یوه دین کښی په جماعت سره لمونځ نه کیده او د یهودانو په لمانځه کښی رکوع نه وه نو د دی آیت خلاصه دا ده چه یوازی دا ذکر شوی شیان ستاسی د نجات دپاره کافی نه دی، بلکه په ګردو (تولو) اصولو کښی د آخرالزمان نبی صلی الله علیه وسلم پیروی وکړئ! او لمونځ هم د هغه په طریقه اداء کړئ! چه په هغه کښی جماعت او رکوع دواړه شته!

---

أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾

---

آیا امر کوئ تاسی نورو خلقو ته په نیکی سره او هیروئ ځانونه خپل؟ حال دا چه تاسی لولئ کتاب (چه په کښی د قول او عمل په نه سمون (برابری) وعید دی) آیا نو تاسی نه پوهیږئ (د خپلو افعالو په بدی)

**تفسیر:** د یهودانو ځینو عالمانو به داسی کمال کاوه چه نورو خلقو ته به ئې ویل چه «د اسلام دین ښه دی او دوی به په خپله نه مسلمانیدل» دی یهودی پوهانو او نورو ظاهربینو خلقو ته به په دغسی مواردو کښی داسی شبهې پیدا کیدی «کله چه مونږ د شریعت د احکامو په تعلیم کښی قصور نه کوو او حقه خبره نه پټوو نو دی ته به څه ضرورت پاتی وی چه مونږ په خپله هم پری عمل وکړو، کله چه زمونږ له هدایت سره سم ډیر خلق شرعی احکام ادا کوی نو د «**الدال علی الخیر کفاعله**» په حکم سره د دوی عملونه زمونږ دی. نو په دی آیت کښی د دی دواړو مفکورو بطلان فرمایل شوی دی. د دی آیت مطلب دا دی چه واعظ ته ښایی چه په خپل وعظ باندی خامخا عمل وکړی او دا غرض نه دی چه فاسق دی چاته نصیحت نه کوی.

وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَوٰةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾
الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿٤٦﴾

او مدد وغواړئ (په هره سختی کښی له الله) په صبر او لمانځه سره او په تحقیق دا لمونځ خامخا ډیر دروند دی مگر (نه دی دروند) په عاجزی کوونکو (خوند آخستونکو له طاعته) هغو کسان چه یقین کوی چه بیشکه دوی مخامخ کیدونکی دی له پروردگار خپل سره او په تحقیق دوی هم ده ته (په آخرت کښی) بیرته ورتلونکی دی

**تفسیر:** د اهل کتاب عالمانو چه د حقانیت له څرگندیدلو نه وروسته ئې هم په محمد صلی الله علیه وسلم ایمان نه راووړ د هغه لوی سبب د مال او جاه مینه او محبت ؤ چه الله تعالیٰ د دی دواړو علاج دلته ورښودلی دی، د صبر کولو په سبب د مال مینه او حرص له مینځه ځی او د لمونځ کولو په اثر عبودیت او تذلل پیدا کیږی او د لویوالی مینه کمیږی او په تحقیق لمونځ ډیر دروند دی مگر نه دی دروند په عاجزی کوونکو خوند اخستونکو له طاعته یعنی صبر او د زړه په حضور لمونځ کول ډیر دروند او سخت کار دی. مگر دا سخت کار یوازی په هغه چا آسان دی چه عاجزی کوی او له الله تعالیٰ نه ویریږی او د دوی خیال او فکر په هم دی لوری وی چه مونږ خامخا له الله تعالیٰ سره مخامخ او د هغه الله په لوری ورتلونکی یو یعنی په لمانځه کښی د الله تعالیٰ تقرب حاصلیږی. گواکی (گویاکی) له هغه سره کتنه ده. یا به په قیامت کښی د حساب او کتاب لپاره ور وړاندی کیدونکی یو.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾

ای بني اسرائیلو (د یعقوب اولادېٔ!) یاد کړئ نعمت زما هغه چه انعام مې کړی دی په تاسې او (بل دا یاد کړئ! چه) بیشکه ما غوره کړی یئ تاسې (نیکونه ستاسې) په خلقو (د زماني خپلې).

**تفسیر:** څرنګه چه د تقویٰ او کامل ایمان حاصلول د صبر، حضور او په عبادت کښې د غرق کیدلو په وسیله سخت وو نو آسانه لاره ئې ښیي چه هغه شکر دی، نو ځکه حق تعالیٰ خپل هغه انعامات او احسانات وربه یادوی چه وخت په وخت ئې په دوی باندې کړی دی او هم د دوی د ناوړو (ناراوۀ) کارونو ذکر کوی دا یوه فطري مسئله ده چه نه یوازې انسان بلکه حیوانات هم د خپل منعم سره مینه لری او د هغه پیروی کوی هم دغه مضمون په څو رکوع ګانو کښې په مفصل ډول (طریقه) بیان شوی دی.

**(فائده):** په عالمیانو باندې د بني اسرائیلو له فضیلت څخه مطلب دا دی چه دوی د پیدایښت له ابتدا څخه د دې خطاب تر نازلیدلو پورې په نورو ګردو (تولو) فرقو فضیلت درلود (لرلو) او هیڅوک د دوی ساری (سیال) نه ؤ کله چه هغوی د پاک قرآن او د آخري زماني د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مقابل کښې ودریدل نو د دوی فضیلت له منځه ولاړ او د ﴿ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ﴾ او ﴿ٱلضَّآلِّينَ﴾ لقب وربه برخه شو او د حضرت محمد صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم پیروانو (تابعدارانو) ته د ﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ﴾ خلعت ورکړ شو.

وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾

او وویریږئ (له عذابه) د هغې ورځې چه لرې کولې به نه شي هیڅ نفس له هیڅ (کافر) نفس څخه هیڅ شی (له عذابه) او نه به منل کیده شي له دغه نفس څخه شفاعت (سپارښت د هیچا) او وابه نه خیستی شي له دغه نفس څخه بدل (فدیه) او نه به له دوی سره مدد وکړی شي (په دفع د عذاب کښې).

**تفسیر:** کله چه څوک په کومه بلا اخته کیږی نو د هغه دوستان زیاتره له دې وسیلو څخه کار اخلي ړومبی د هغه د حق د ادا کولو له پاره زیار (محنت) کوی که په دې وسیله کار ونه شو

نو د سپارښت په وسیله زیار (محنت) کوی چه هغه له دی بلا نه وژغوری (وساتی)، که ئی په دی سره هم څه له لاسه ونشوه، نو خپل دوستان او مرستیالان سره تولوی څو د هغه د ژغورلو (ساتلو) لپاره څه تدبیر جوړ کړی که په دی توګه (طریقه) هم څه کار ونه شو نو بیا څه تاوان او فدیه وروړاندی کوی چه خپل عزیز له هغی بلا نه خلاص کړی، که په دی څلورو طریقو هم څه ونه شی نو خپل مرستیالان (مدد ګاران) راتولوی څو چه د متو په زور او قوت سره هغه وژغوری (وساتی) حق تعالیٰ هم له پورتنی ترتیب سره سم دلته ارشاد فرمایی چه کوم سړی که په هره اندازه د الله تعالیٰ دښمنان دی له څلور ګونو صورتونو څخه په هیڅ یو صورت څه ګته (فائده) نشی رسولی بنی اسرائیلو به ویل که مونږ هر څومره زیاته ګناه هم وکړو الله تعالیٰ په مونږ عذاب نه نازلوی او نه له مونږ څنی پوښتنه کوی ځکه چه زمونږ پلرونه او نیکونه انبیاء تیر شوی دی هغوی له الله تعالیٰ څنی زمونږ مغفرت او برائت حاصلوی نو الله تعالیٰ فرمایی چه ستاسی دا خیال غلط دی د دی آیت په سبب له هغه شفاعت څخه انکار نه کیږی چه په هغه باندی مونږ «اهل السنت والجماعت» قائل یو لکه چه په نورو آیتونو کښی مذکور دی دغه آیت سره د ظاهری تعمیم او نور قرآنی آیتونه د ﴿ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴾ په اساس یوازی په کفارو پوری تخصیص لری.

---

وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾

---

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه نجات درکړی وو مونږ (نیکونو) د تاسی ته له عملی د فرعون څخه چه رساوه به ئی تاسی ته سخت عذاب چه ذبح کول به ئی ځامن د تاسی او ژوندی به ئی پریښودی (د خدمت دپاره) ښځی (لونی) د تاسی او په دی (حلالولو یا خلاصولو یا تولو کښی مصیبت یا نعمت یا ...) امتحان ؤ له (طرفه) د پروردګار د تاسی ډیر لوی.

---

**تفسیر:** فرعون خوب ولید او نجومیانو د هغه د خوب تعبیر داسی وکړ چه په بنی اسرائیلو کښی داسی یو سړی پیدا کیږی چه ستا دین او دا شهنشاهی به خرابوی، فرعون امر وکړ چه په بنی اسرائیلو کښی وروسته له دی نه هر هلک چه پیدا شی، هغه دی ووژل شی! او د هغو نجونی (جینکی) دی د خدمت لپاره ژوندی وساتلی شی خو سره له دی سخت امر او کلکی کتنی حق تعالیٰ موسیٰ علیه السلام پیدا او هغه ئی ژوندی وساته! ﴿بَلَآءٌ﴾ څو معنی ګانی لری، که د ﴿ذَٰلِكُم﴾ اشاره د ذبحی په لوری واخیسته شی نو معنی به ئی «مصیبت» وی، که نجات ته اشاره وی نو د ﴿بَلَآءٌ﴾ معنی به «نعمت» وی. او که د ذبحی او نجات د دواړو په لوری اشاره وی نو له ﴿بَلَآءٌ﴾ څنی به مطلب «امتحان» او ازموینه وی.

وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَٰكُمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه څیری کړ مونږ د تاسی لپاره بحر نو نجات درکړ مونږ تاسی ته او غرق کړل کړل مونږ عمله د فرعون (سره له فرعون) حال دا چه تاسی ورته کتل.

**تفسیر:** یعنی ای بنی اسرائیلو یاد کړئ هغه لوی نعمت چه ستاسی پلرونه او نیکونه د فرعون له ویری ښخه وتښتیدل او داسی یو ځای ته ورسیدل چه وړاندی مخامخ دوی ته لوی دریاب او وروسته په دوی پسی د فرعون لوی لښکر راته چه هغوی راچاپیر او تول سره گیر او په لوی عذاب او ویر کښی اخته کړی، نو مونږ تاسی ته نجات او خلاصی درکړه او د فرعون لښکر مو تول ډوب کړ. دا قصه وروسته په تفصیل سره راځی.

وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه وعده کړی وه مونږ له موسیٰ سره څلویښت شپی بیا ونیوه تاسی خوسی (سخی) (معبود) پس له (تللو) د موسیٰ (طور ته) او وئ تاسی (په دی کار کښی په خپلو نفسونو) ظالمان.

**تفسیر:** دا قصه او احسان هم د یادولو وړ (لائق) دی چه مونږ له موسیٰ علیه السلام سره د (توریت) د ورکولو وعده څلویښت شپی او ورځی کیښوده وروسته له دی چه موسیٰ د (طور) غره ته تشریف یووړ بنی اسرائیل د خوسی (سخی) په عبادت مشغول او لگیا شول، نو تاسی ډیر بی انصاف یئ چه خوسی (سخی) مو په خپلی خدایی وتاکه (ونیووه) دا قصه هم په تفصیل سره راځی.

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾

بیا عفوه وکړه مونږ له تاسی نه وروسته له دغه (د خوسی (سخی) د عبادت کولو نه) دپاره د دی چه تاسی شکرگذار شئ.

**تفسیر:** مطلب دا چه مونږ ستاسی له دی ښکاره شرکه سره بیا هم ستاسی له دی گناه نه تیر شوو او ستاسی توبه مو ومنله او تاسی مو سمد لاسه لکه د فرعونیانو په شان ونه وژلئ که څه هم د هغوی گناه نسبت تاسو ته لږ هم وه خو هلاک مو کړل چه تاسی ئی شکر ادا کړئ او زما احسان ومنئ!.

وَإِذْ ءَاتَيْنَا مُوسَى الْكِتَٰبَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه ورکړی وو مونږ موسیٰ ته کتاب (توریت) او بیلوونکی (د حق او باطل) دپاره د دی چه تاسی سمه لاره ومومئ (په توریت سره).

**تفسیر:** کتاب خو «توریت» دی. له (فرقان) نه هغه شرعیه احکام مراد دی چه د هغوی له مخی جائزی او ناجائزی مسئلی راڅرگندیږی، یا له (فرقان) نه مقصد د حضرت موسیٰ علیه السلام معجزی دی چه د هغوی له مخی به د رښتیا او دروغو او د مؤمن او کافر تمیز کیده. یا به (فرقان) د همغه کتاب (توریت) بدل وی چه په هغه سره هم حق او ناحق جلا (جدا) کیږی.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه وویل موسیٰ قوم خپل ته

**تفسیر:** له قوم نه خاص همغه خلق مراد دی چه هغوی خوسی (سخی) ته سجدی کولی.

يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ فَتُوبُوٓا۟
إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ط

ای قومه زما! بیشکه تاسی (چه یئ) ظلم کړی دی تاسی پر ځانو خپلو په سبب د نیولو د تاسی خوسی (سخی) لره (په خدایی سره) پس توبه وباسئ (تول) خالق د تاسی ته نو ووژنئ ځانونه خپل؛

**تفسیر:** یعنی هغه کسان چه خوسی (سخی) ته ئی سجده نه ده ایښی، هغوی دی هغه کسان ووژنی چه خوسی (سخی) ئی خدای گڼلی او سجده ئی ورته کړی وه، ځینی وایی چه بنی اسرائیل په دریو برخو ویشلی شوی وو

(۱) : هغه ډله چه هم ئی خوسی (سخی) ته سجده ونه کړه او هم ئی نورو ته وویل چه خوسی (سخی) ته سجده مه کوئ.

(۲) : هغه ډله چه په خپله دوی خوسی (سخی) ته سجده ونه کړه مګر نور ئی د خوسی (سخی) له سجدی نه منع نه کړل.

(۳) : هغه ډله چه په خپله دوی خوسی (سخی) ته سجده وکړه. په دریمه ډله امر وشو چه تول دی ووژل شی «دوهمی ډلی ته وویل شول» چه تاسی هغوی ووژنئ چه دا ستاسی د چوپ (چپ) پاتی کیدلو توبه شی او اولی ډلی په دی کښی له سره شرکت ونه کړ ځکه چه هغوی ته د دی توبی هیڅ ضرورت نه ؤ پاتی چه له سره گناه ئی نه وه کړی.

---

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ ؕ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۴﴾

---

دغه (ځان وژل) ستاسی بهتر دی تاسی ته په نزد د خالق د تاسی پس قبوله ئی کړه توبه ستاسی! بیشکه الله هم دی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربان دی (په توبه کوونکو).

---

**تفسیر:** عالمان په دی خبره کښی سره اختلاف لری چه آیا هم دا وژل کیدل توبه وه؟ اوکه د توبی تتمه وه؟ لکه چه زمونږ په «محمدی شریعت» کښی د عمد د قاتل د توبی د مقبولیت لپاره دا خبره هم ضروری ده چه قاتل دی د مقتول د ورثی په لاس کښی وسپارلی شی! د مقتول وارثان واک او اختیار لری چه هغه قاتل وژنی، که ئی بخښی.

---

وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ
وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۶﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه وویل تاسی ای موسیٰ له سره به باور ونه کړو مونږ په خبره ستا تر هغه پورې چه په خپله ووینو الله ښکاره پس ونیولئ تاسی تندر (اور) حال دا چه تاسی (ورته) کتل پس له هغه بیا ژوندی کړئ مونږ تاسی پس له مرګه د تاسی دپاره د دی چه تاسی شکرګذار شئ.

**تفسیر:** هغه وخت هم ضرور یاد کړئ! چه سره له دومره احسانونو او ښیګنو (فائدو) تاسی موسیٰ علیه السلام ته وویل چه «مونږ ستا په دی خبره تر هغه پورې باور نشو کولی چه دا د پاک الله خبرې دی، ترڅو مونږ پخپلو سترګو الله تعالیٰ ونه وینو» ستاسی د هم دی غوښتنی په سبب ږ چه د بریښنا په وسیله ووژلی شوئ! بیا د موسیٰ علیه السلام په دعا سره بیرته ژوندی شوئ! دا د هغه وخت قصه ده چه موسیٰ علیه السلام اویا تنه غوره سړی له ځانه سره د (طور) غره ته بیولی وو چه د الله تعالیٰ کلام واوری. کله چه دوی په خپلو غوږونو د پاک الله خبری واوریدلی نو د بنی اسرائیلو هم دی اویا تنو منتخبو سړیو وویل چه مونږ په داسی خبرو باندی چه ویونکی ئی نه راښکاری او نه ئی وینو، باور نشو کولی مونږ ته الله تعالیٰ راوښیه! چه په خپلو سترګو ئی په عین المشاهده ووینو او په غوږو سره د هغه خبری واورو د دی غوښتنی له امله (وجی) ږ چه ورباندی تکه (تندر) ولویده او د تندر له اثره تول سره مړه شول.

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ۖ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه سوری ګرځولی وه مونږ په تاسی وریځ (د تیه په میدان کښی) او نازل کړی وو مونږ په تاسی من (ترنجبین) او سلویٰ (مرغان) وخورئ! له پاکیزو د هغو شیانو نه چه روزی درکړی ده مونږ تاسی ته او ظلم نه ؤکړی دوی پر مونږ باندی (هیڅ په دغه عصیان سره) او لیکن وو دوی چه په ځانو خپلو به ئی ظلم کاوه (په کفران او عصیان سره).

**تفسیر:** کله چه فرعون ډوب شو او بنی اسرائیل د الله تعالیٰ په امر سره له (مصر) نه د (شام) په لوری رهی (روان) شول په یوه سپیره ډاګ (صفا میدان) کښی د هغوی خیمی وشلیدی او دوی د لمر له تودوالی نه سخت په عذاب شول، دلته د الله تعالیٰ په فضل سره دوی باندی د وریځی سوری وشو، څرنګه چه دوی ته د خوړلو لپاره څه شی نه پیدا کیده د پاک الله له لوری د دوی د خوړلو لپاره «من» او «سلویٰ» ورنازل شول. «من» لکه نبات یو ډیر خواږه خواړه وو، او دانی به ئی ترنجبین (د ځوزو ګوړی) ته ورته وی، کله چه دوی د شپی له مخی ویده کیدل سحر

(ګهيځ) به د دی لښکر په شاوخوا کښی د «من» انباروونه پراته وو چه هر چا به له هغه څخه له خپل حاجت سره سم اخيسته. «سلویٰ» يو مرغه دی چه مونږ ورته مرغ وايو چه هر ماښام به د دی مرغانو په زرهاؤ دانی سره توليدلی چه د لږ څه تياری څخه وروسته به هر سړی له هغو ځنی له خپل ضرورت سره سم نيول، وريتول او خوړل به ئی، تر ډيری مودی پوری د دوی خواړه هم دا «من» او «سلویٰ» وه.

﴿ كُلُوا مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ ﴾ - خورئ تاسی له پاکيزه د هغو شيانو څخه چه روزی درکړی ده مونږ تاسی ته) يعنی په دی لطيفی او خوندوری غذا باندی اکتفاء وکړئ او په ډيره خوښی سره ئی وخورئ او د بلی ورځی لپاره ئی د ذخيری (زيرمی) په ډول (طريقه) مه ساتئ! او له نورو سره د هغه د مبادلی غوښتنه مه کوئ!.

﴿ وَمَا ظَلَمُونَا ﴾ الآيه - او ظلم نه ؤکړی دوی پر مونږ باندی هيڅ په دغه عصيان سره ليکن دوی په خپلو ځانو باندی ظلم کوی په کفران او عصيان سره اول ئی داسی ظلم وکړه چه د دی په زيرمه (ذخيره) کولو ئی پيل (شروع) وکړ چه هغه به ورستيده، تعفن (بدبوئی) (ډدوزی) به ئی ختلی، دوهم ئی د هغی د مبادلی غوښتنه وکړه چه نسک، هوږه، پياز او نوری غلی او ترکاری (ترکودی) راکړی شی، چه د دی له امله (وجی) په راز راز (قسم قسم) رېړونو (تکليفونو) اخته شول.

---

وَإِذۡ قُلۡنَا ٱدۡخُلُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ فَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ
رَغَدٗا وَٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا وَقُولُواْ حِطَّةٞ نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ
خَطَٰيَٰكُمۡۚ وَسَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٨

---

او ياد کړئ!) هغه وخت چه وويل (مونږ بنی اسرائيلو ته د موسیٰ په ژبه) چه ننوځئ! دغی قريی (اريحا) ته پس خورئ! له (ميوو) د ده څخه هر چيرته چه مو خوښه وی (څه چه مو زړه غواړی) پريمانه او ننوځئ! په دروازه (د دی ښار) کښی سجده کوونکی او ووائ! (ای ربه وبخښه زمونږ گناهونه!) چه وبخښو تاسی ته گناهونه د تاسی. او ژر ده چه زيات به کړو نيکانو ته (اجر).

---

**تفسير:** کله چه بنی اسرائيل په دی پاس داگ کښی له ډيرو گرځيدلو څخه تنگ شول او د ډير «من» او «سلویٰ» له خوړلو ستړی شول، نو پر دوی امر وشو چه په هغه ښار کښی ننوځئ! چه نوم ئی (اريحا) ؤ، او په هغه کښی د «عمالقه» قوم چه د (عاد) له قومه څخه وو هستوگنه

درلوده (لرله)، ځینی وایی چه دا ښار بیت المقدس ؤ.
﴿ وَّادۡخُلُوا الۡبَابَ سُجَّدًا ﴾ او ننوځئ په دروازه د دی ښار کښی سجده کوونکی (یعنی) د دی ښار په دروازه کښی د شکر سجده وکړئ! او بیا پکښی ننوځئ! دا خو بدنی شکر شو. ځینی وایی چه د تواضع او عاجزی له امله (وجی) خپلی ملاوی لږ څه کږی کړئ!. او په ژبه سره د خپلو گناهونو بخښنه وغواړئ! دا خو لسانی شکر شو. هر هغه څوک چه دا دواړه کارونه کوی د هغه گردی (تولی) خطاوی بخښلی کیږی او د نیکو بندگانو ثوابونه ورزیاتوو.

فَبَدَّلَ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا قَوۡلًا غَيۡرَ الَّذِىۡ قِيۡلَ لَهُمۡ فَاَنۡزَلۡنَا عَلَى الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا رِجۡزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ﴿۵۹﴾

پس بدله کړه هغو کسانو چه ظلم ئی کړی وو (په خپلو ځانو) خبره په بل شان له هغی خبری څخه چه ویلی شوی وه دوی ته پس نازل کړ مونږ پر هغو کسانو چه ظلم ئی کړی ؤ عذاب له (طرفه) د آسمانه په سبب د دی چه وو دوی چه سر به ئی غړاوه (د الله له فرمانه).

**تفسیر:** داسی تبدیلی ئی پکښی وکړه چه د «حطة» په ځای ئی د توکو او مسخرو په دول (طریقه) (حنطة) وویل(چه معنی ئی غنم دی) او د سجدی په ځای به په خپلو کوناتیو ښوئیدل، کله چه هغه ښار ته ورسیدل، نو په هغوی کښی طاعون ورگد شو او په یوه ماسپښین کښی اویا زره یهودان مره شول.

وَاِذِ اسۡتَسۡقٰى مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖ فَقُلۡنَا اضۡرِبْ بِّعَصَاكَ الۡحَجَرَ ؕ فَانۡفَجَرَتۡ مِنۡهُ اثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنًا ؕ

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه اوبه وغوښتی موسٰی خپل قوم ته (په میدان د تیه) پس وویل مونږ (موسیٰ ته) چه ووهه په همسا خپلی سره تیږه (گټه) (نو چه وبی وهله تیږه) (گټه) پس وخوتیدلی (روانی شوی) له هغی تیږی (گټی) څخه دوولس چینی

**تفسیر:** دا قصه هم د هغه میدان ده، کله چه هغوی اوبه ونه میندلی، نو موسٰی علیه السلام پر

یوه تیره (ګته) باندې خپله همسا ووهله، نو دوولس چینې وبهیدې، حال دا چه د بني اسرائیلو قبیلې هم دوولس دي، د ځینو قبیلو سرې زیات او د ځینو قبیلو سرې لږ وو، د هر قوم په تناسب یوه چینه وه. او د پیژندګلوۍ نښه ئې هم دغه موافقت ؤ یا داسې تاکلې (مقرر) شوې وه چه د دې تیږې (ګټې) له فلانې خوا څخه چه په فلانې لورې کومې اوبه بهیږي، هغه به د فلانې قوم اوبه وي، هغه لنډ نظره چه له هسې معجزاتو ځنې انکار کوي نو (سرې نه دې دوی دې چپ له سریتوبه) وګورئ! چه «مقناطیس» په څه ډول (طریقه) سره اوسپنه خپل لورې ته کشوي (راکاږي) نو دې تیږې (ګټې) ته هم الله تعالیٰ هسې یو قوت وربښلې ؤ چه له هر لورې ځنې به ئې اوبه ځان ته کشولې (راښکلې) او بیا به ئې خپلو شاوخواوو ته بهولې.

قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُوا وَاشْرَبُوا مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٦٠﴾

په تحقیق سره وپیژانده هر قوم ځای د اوبو څښلو خپلو (وویل مونږ) خورئ! او څښئ! له (خاص) روزي د الله څخه (بې له واسطې د اسبابو) او مه تیریږئ له حده په ځمکه کښې حال دا چه ورانې کوونکې اوسئ تاسې (په خپلو فساد اچولو سره)

**تفسیر:** یعني بیا الله تعالیٰ وفرمایل چه له «من» او «سلویٰ» ځنې خورئ! او د دغو چینو له اوبو ځنې څښئ! او په جهان کښې فساد مه اچوئ!

چه له غیبه نه دررسي خواړه ډیر ▪ هوښیار اوسه چه له میچه نه شي تیر
په ګناه سره بندیږي نعمتونه ▪ په ګناه سره زیاتیږي زحمتونه

وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ مِن بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ط

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه وویل تاسې اې موسیٰ! هیڅکله صبر نشو کولی

مونږ پر طعام يو (قسم د من او سلوی) باندی پس وغواړه زمونږ لپاره له خپل پروردګار نه چه راوباسی مونږ ته له هغو شيانو څخه چه زرغونوی ئی ځمکه له سابو (ساګو) د دی او له بادرنګو (ترو) د دی او له هوږی (يا غنمو يا نخودو) د دی او له نسکو د دی او له پيازو د دی

**تفسير:** دا قصه هم د همغه ميدان ده، بنی اسرائيلو چه د هغو غيبی طعامو له خوړلو څخه ماړه شول نو ئی په داسی وينا سره شروع وکړه «مونږ په يوه راز (قسم) خوړو صبر نشو کولی، مونږ ته له ځمکی څنی پيدا شوی شيان لکه غلی، دانی، ترکاری سابه او نور شيان په کار دی».

قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَىٰ بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ ۚ

نو ووېل (موسیٰ) آيا بدلوئ! (آخلئ!) تاسی هغه شی چه هغه ناکاره دی په هغه شی چه هغه ډير غوره دی.

**تفسير:** يعنی هغه (من - ترنجبين) او (سلویٰ - مرغان) چه له هره حيثه تاسی ته ښه دی په هوږو پيازو او نورو سره ئی ولی بدلوئ؟

اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ

(کله چه مو داسی وکړل نو) کوز شئ (د شام له تيه نه) يوه ښار ته پس بيشکه تاسی ته دی هغه شی چه غواړئ ئی

**تفسير:** که ستاسی زړه هم داسی شيانو ته کيږی نو کوم ښار ته لاړ شئ چه ستاسی دا مطلوبه شيان تول دررسيږی لکه چه بيا هم داسی وشول.

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ ۗ

او مقرر کړی شو پر دوی (د نعمت د کفران او په خپل قسمت د نارضايئ په سبب) ذلت او محتاجئ او اخته شول دوئ په غضب له (جانبه د) الله

**تفسير:** ذلت او خواری هم دا ده چه يهودان تل د مسلمانانو او نصاری ؤ رعيت او محکوم دی، که څه هم له دوی سره ډير مال وی، خو د پت او عزت خاوندان نه بلل کيږی نو دا مال د هغو

د خوارۍ سبب او د دوی د ځان وبال ګرځی، یهودان له حکومت او خپلواکۍ څخنی چه د پت او عزت سبب دی بیخی بی برخی دی او په مالی حیثیت کښې هم دوی اول د مال په قلت کښې اخته دی، که یو نیم سری ئی مال هم لری نو دی د نورو له ویری هغه نه شی څرګندولی او تل خپل ځان مفلس او حاجتمند ښکاره کوی، د ډیر حرص او بخل له امله (وجی) له محتاجانو څخه بدتر په نظر راځی، ځکه چه اصلی غنا د زړه غنا ده، کله چه الله تعالیٰ د زړه قناعت او غنا له دوی څخه اخیستی ده نو ځکه دوی خوار او محتاج ښکاری، ولی چه دوی له هغه عظمت او عزت څخه چه الله تعالیٰ دوی ته وربخښلی ؤ مخونه واړول او رجوع ئی تری وکړه، نو د الله تعالیٰ په دی قهر او غضب اخته شول.

چه د خدایٔ په نعمت څوک شی نارضا

ګنج به ئی درومی رنځ به مومی شی اخته په غم بلا

---

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾

---

دا (خواری او عاجزی) په سبب د دی وه چه بیشکه دوی وو کافران (منکران) په آیتونو (احکامو) د الله او وژل به ئی انبیاء (لکه شعیب، زکریا او یحییٰ) په ناحقه سره دا (کفر او قتل) په دی سبب ؤ چه سرکشی ئی کوله (له احکامو د الله نه) او وو دوی چه له حدودو به تیریدل (د عصیان په سبب).

---

**تفسیر:** یعنی د دی ذلت او مسکنت او د الٰهی غضب باعث د دوی کفر او د انبیاؤ علیهم السلام وژل وو او د کفر او قتل باعث، الله تعالیٰ د احکامو مخالفت او نافرمانی او شریعت له حدودو څخه وتل وو.

---

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارٰى وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او هغه کسان چه یهودان شوی دی او نصرانیان او بی دینان هر هغه چا (له دوی څنی) چه ایمان راوړی دی په الله او په ورځ د قیامت باندی او عمل ئی کړی دی د نیکو (سم له محمدی شریعت سره) نو وی به دوی ته ثواب د دوی په نزد د رب د دوی او نه به وی (هیڅ قسم) ویره په دوی باندی او نه به دوی هیڅیری خپه کیږی (په وخت د جزا کښی).

**تفسیر:** یعنی دا عنایت په کومی خاصی فرقی پوری موقوف نه دی، یقین راوړل شرط دی، نیک عمل چه د هر چا په برخه شو همغه ثواب به مومی، نو څکه ئی وفرمایل چه بنی اسرائیل په دی خبره مغرور وو چه «مونږ د انبیاؤ اولاده یو مونږ له هره خوا الله تعالیٰ ته نژدی او ښه یو».
**(فائده):** د حضرت موسیٰ علیه السلام امت ته (جهود) یا (یهود) او د حضرت عیسیٰ علیه السلام امت ته (نصاریٰ) یا (ترسا) وایی. «صابئین» داسی یوه فرقه ده چه هغوی په خپل گمان سره ښه ښه شیان له هره دینه خپلو ځانو ته غوره کړی دی. لکه چه دوی حضرت ابراهیم علیه السلام منی، د پرښتو عبادت کوی، زبور لولی، د کعبی شریفی په لوری لمونځ کوی.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه واخیست مونږ محکم عهد ستاسی څخه او پورته کړ مونږ په سر ستاسی د طور (غر) واخلئ هغه څه (احکام) چه درکړی دی مونږ تاسی ته په ښه کوښښ سره او یاد کړئ هغه (احکام) چه په هغه کښی دی دپاره د دی چه تاسی ځانونه وساتئ (له گناهونو څخه).

**تفسیر:** وایی کله چه «توریت» نازل شو نو بنی اسرائیلو له شرارته وویل د «توریت» حکم درونډ او مشکل دی، د هغه تعمیل زمونږ له لاسه نه دی پوره د دی وینا له امله (وحی) الله تعالیٰ یوه غره ته امر وکړ چه د دوی په سرونو باندی راتیت شی، نو په شاوخوا کښی ئی اورونه بل شول او دوی ته هیڅ یو داسی فرصت او موقع پاتی نه شوه چه د (توریت) له منلو نه سر وغړوی نو ئی مجبوراً د هغه احکامو ته غاړه کښیښوده، پاتی شوه دا شبهه چه د «توریت» په منلو کښی د هغوی په سر باندی د غره ځړیدل څرگنده اکراه او اجبار دی چه د ﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ﴾ له آیت څخه چپ او د تکلیف له قاعدی نه بیخی خلاف دی، ځکه چه د تکلیف بناء خو په

اختیار باندی ده او اکراه له اختیار سره مناقضه ده. نو د دی شبهی ځواب دا دی چه بنی اسرائیلو د موسٰی علیه السلام دین لا له پخوا څخه منلی ؤ او څو ځو ځلی ئی له حضرت موسٰی علیه السلام څخنی غوښتنه کړی وه چه «کوم هسی آسمانی کتاب مونږ ته راوړئ چه مونږ د هغه په احکامو عمل وکړو!» او پر دی باندی ئی معاهده سره کړی وه، نو کله چه «توریت» راغی او هغوی ته ور وسپارل شو، عهد ماتولو ته ئی ملاوی وتړلی، دلته پر دوی باندی د غره تعلیق د وعده خلافی له امله (وجی) وشو نه د موسی علیه السلام د دین د نه منلو له سببه.

ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾

بیا شا کړه تاسی (د الله له فرمانه وګرځیدئ) پس له دغه عهده نو که چیری نه وی فضل د الله پر تاسی او رحمت (مهربانی) د ده (د توبی په قبلولو او یا تاسی ته د محمد په درلیږلو) نو هرومرو (خامخا) به شوی وئ تاسی له زیانکارانو څخه.

**تفسیر:** یعنی وروسته له عهد او میثاقه بیا له خپلو خبرو نه واوښتئ، که د الله تعالیٰ فضل په تاسی باندی نه وی شوی نو بیخی به ړنا کیدئ یعنی په همغه وخت کښی به هلاکیدئ یا دا چه سره له توبی او استغفاره او د آخرالزمان نبی صلی الله علیه وسلم له متابعته سره به مو هم هغه ګناهونه نه معافیدل.

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْا۟ مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿٦٥﴾

او خامخا په تحقیق سره ښه پیژندلی دی تاسی هغه کسان چه تجاوز ئی کړی وو له تاسی څخه (د ماهیانو په ښکار) په (ورځی د) شنبی کښی نو وویل مونږ دوی ته چه شئ! بیزوګان ذلیلان (خوار شوی).

**تفسیر:** بنی اسرائیلو ته په «توریت» کښی حکم شوی ؤ چه «د شنبی ورځ عبادت ته مقرره ده، په دی ورځ کښی د ماهی (کب) ښکار مه کوئ!» دی خلقو په چل او فریب سره د شنبی په

ورځ هم ښکار کاوه، نو الله تعالیٰ دوی مسخ کړل او د هغوی صورتونه ئې د بیزوګانو په شان واړول، په دوی کښې که څه هم انساني پوهه او شعور ؤ او یوه به بل ته کتل، مګر خبري ئې نه شوی سره کولی او ژړل به ئې، له دري ورځو وروسته ټول مړه شول، دا واقعه د داؤد علیه السلام په زمانه کښې شوې وه، د دې پیښې تفصیل د «الأعراف» په سورت کښې راځي.

فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾

نو وګرځاوه مونږ دا، (عقوبت او مسخه) عبرت پند دپاره د هغو خلقو چه حاضر وو (د دې عقوبت په زمانه کښې) او دپاره د هغو خلقو چه وروسته له دې (عقوبت څخه تر قیامته راځي) او پند دپاره د پرهیزګارانو.

**تفسیر:** یعنې دا واقعه او عقوبت مو د خوف، ویرې او د عبرت باعث وګرځاوه چه ټول وړاندني او وروستني خلق ترې پند واخلي «یعنې هغه کسان چه دا واقعه ئې په خپله لیدلې ده، یا ئې وروسته آوري» یا دا عبرت د هغو خلقو له پاره دی چه ښار ته مخامخ یا ئې شاته پراته دي.

وَإِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ط

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وویل موسیٰ قوم خپل ته چه بیشکه الله امر کوي تاسي ته چه حلاله کړئ یوه غوا (چه قاتل درمعلوم شي)

**تفسیر:** یعنې یاد کړئ هغه وخت چه په بني اسرائیلو کښې یو سړي (عامیل) نومې ووژل شو او د هغه وژونکې نه ؤ معلوم او دوی هغه یو په بل باندې سره اړاوه نو له حضرت موسیٰ علیه السلام څخه ئې غوښتنه وکړه چه د ده قاتل رامعلوم کړه! نو حضرت موسیٰ علیه السلام وفرمایل «د الله تعالیٰ دا امر دی چه یوه غوا حلاله کړئ او د هغې یوه ټوټه په هغه مړي ووهئ! نو دا مړی به ژوندی شي او خپل قاتل به په خپله دروښیي». الله تعالیٰ په هم دې ډول (طریقه) هغه مړی ژوندی کړ او هغه خپل قاتل چه وارث ئې ؤ وروښود چه د ده د مال په طمع ئې وژلی ؤ په نتیجه کښې قاتل په قصاص ورسید او ورثه ئې له میراثه محروم شول.

قَالُوْٓا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ط

وویل (بني اسرائیلو) آیا ګرځوې ته مونږ مسخره؟

**تفسير:** يعنی له مونږ سره مسخری کوی؟ ځکه چه په حلالولو د غوا کله قاتل معلومیږی او مونږ دا نه لیدلی دی او نه مو آوریدلی دی چه د غوا د غوښی د یوی توتی له وهلو څخه به مړی ژوندی کیږی.

---

قَالَ أَعُوذُ بِاللّٰهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجٰهِلِينَ ﴿٦٧﴾

---

ووېل (موسیٰ) پنا غواړم په الله له دی نه چه شم له ناپوهانو (مسخره کوونکو څخه).

---

**تفسير:** يعنی توکی او مسخری کول د ناپوهانو او جاهلانو کار دی په تیره بیا دا کار په شرعی احکامو کښی نشته او له (نبی) څخه هیڅکله کیدونکی نه وی.

---

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ ط

---

ووېل (بنی اسرائیلو) چه وغواړه دپاره زمونږ له پروردګار خپل چه بیان کړی مونږ ته چه څنګه ده هغه غوا

---

**تفسير:** يعنی څرنګه ده هغه غوا چه مړی پری ژوندی کیږی، یعنی د هغی عمر څومره دی؟ او د هغی حالات څرنګه دی؟ زړه ده که وړه ده؟ او په څه ډول (طریقه) ئی ومومو؟

---

قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ط
عَوَانٌ بَيْنَ ذٰلِكَ ط فَافْعَلُوا مَا تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا

---

ووېل (موسیٰ) چه بیشکه الله وایی بیشکه هغه یوه غوا ده چه نه ډیره زړه ده او نه ډیره وړه ده میانه حاله ده په منځ د دغو (زوړوالی او وړوکوالی) کښی پس وکړئ هغه څه چه پری مامور شوی یئ! بیا ووېل

---

**تفسير:** يعنی هغه غوا حلاله کړئ.

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ
إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ ﴿٦٩﴾
قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ

(بنی اسرائیلو) چه وغواړه (ای موسیٰ) دپاره زمونږ له پروردګار خپل چه بیان کړی مونږ ته چه څرنګه دی رنګ ئی وویل (موسیٰ) چه بیشکه الله وایی بیشکه هغه یوه غوا ده زیړه چه تک زیړ دی رنګ ئی چه خوشالوی (زړونه د) لیدونکو وویل (بنی اسرائیلو) چه وغواړه دپاره زمونږ له پروردګار خپل چه بیان کړی مونږ ته چه څه قسم ده دغه غوا؟ (کارکوونکی ده که صحرایی ده؟)

**تفسیر:** یعنی په ښکاره ډول (طریقه) سره ئی راوښیی چه هغه غوا څه قسم ده او د څه کار دپاره ده.

إِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّا إِن شَاءَ اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُ

بیشکه غوا شبهه اچولی پر مونږ (ځکه زیړی او ځوانی غواګانی ډیری دی) او بیشکه مونږ که اراده وکړی الله هرومرو (خامخا) لارموندونکی یو. وویل (موسیٰ) بیشکه الله

**تفسیر:** یعنی د دغی غوا یا قاتل موندونکی یو. په حدیث کښی راغلی دی چه که «انشاء الله» ئی نه وی ویلی، نو هیچیری به ئی دغه غوا نه وه موندلی.

که «استثنا» دوی نه وی کړی په دی وار ▪ همیشه به «تشابه» وه په دوی بار
ولیکن د «استثناء» په برکت ▪ لار موندونکی کړل مقصود ته کردګار

يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا

وایي بیشکه دا یوه غوا ده چه نه ربړ (تکلیف) ایستونکی ده چه قلبه کوی ځمکه او نه اوبه کوی (په ارټ سره) کښت، (فصل) ساتلی شوی ده (له کارونو، عیبونو یا له نورو رنګونو) نشته هیڅ یو داغ په رنګ د دی کښی.

**تفسیر:** یعنی په اعضاؤ کښی ئی هیڅ نقصان نشته او په رنګ کښی ئی د بل کوم رنګ هیڅ یو داغ او خال نشته، بلکه تکه زیړه ده.

قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾

وویل (بنی اسرائیلو موسیٰ ته چه) اوس دی راوړه روښانه خبره نو حلاله کړه دوی هغه غوا او نه وو نژدی دوی (دی خبری ته) چه دا کار به ئی کړی وی. (د قیمت له ډیر والی یا د قاتل د پیدا کیدلو له شرمه).

**تفسیر:** دا غوا د داسی یوه نیکبخت سړی وه چه د خپلی مور خدمت به ئی زیات کاوه خلقو هغه غوا له ده نه په دومره سرو زرو سره واخیسته چه د هغی غوا په پوستکی کښی ځائیدل او بیا ئی حلاله کړه، دوی داسی نه ګڼل چه دا غوا به په دومره ګران قیمت سره په لاس راځی او که پوهیدلی وی نو نژدی وو چه لاس ئی ترینه اخیستی وی.

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾

(او یاد کړئ!) هغه وخت چه مړ کړ (پلرونو) ستاسی یو سړی نو په جګړه شوئ په هغه (مقتول) کښی او الله ښکاره کوونکی دی د هغه شی چه وئ تاسی چه پټاوه به مو هغه (قتل)

**تفسیر:** یعنی ستاسی پلرونو (عامیل) وژلی ؤ، بیا ئی د هغه وژل یو په بل اړول او هغه شی چه تاسی پټاوه یعنی ایمانی ضعف یا د وژونکی احوال الله تعالیٰ دربښکاره کړ.

فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ

نو وویل مونږ چه ووهئ دا مړی په یوی بوټی د غوا (بیا ژوندی شو هغه مقتول)

**تفسیر:** یعنی کله چه ئی د هغی غوا یوه توته غوښه په هغه مړی ووهله هغه مړی د پاک الله په حکم ژوندی شو او وینی د هغه له پرهارو څخه وبهیدی او د خپل وژونکی نوم ئی وروښود چه د هم دغه مقتول وریرونه وو، او د خپل تره د مال او میراث په تمه ئی په بیدیا (صحرا) کښی هغه وژلی وو وروسته له هغه چه ژوندی شو او خپل قاتلان ئی وښودل، بیرته ولوید او مړ شو.

كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۷۳﴾

هم داسی (لکه چه عامیل ئی ژوندی کړ) ژوندی کوی الله مړی (په قیامت کښی) او درښیی تاسی ته آیتونه د (قدرت) خپل لپاره د دی چه تاسی غور وکړئ!

**تفسیر:** یعنی هم داسی چه هغه مقتول ئی ژوندی کړ، الله تعالیٰ په خپل کامل قدرت د قیامت په ورځ کښی ټول خلق هم ژوندی کوی او د خپل کامل قدرت آیتونه تاسی ته درښیی څو تاسی غور وکړئ او وپوهیږئ چه پاک الله مړی هم ژوندی کولی شی.

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

بیا سخت شول زړونه ستاسی پس له دغه (ژوندی کولو د مړی)

**تفسیر:** یعنی «عامیل» له ژوندی پاځیدلو نه وروسته، مطلب دا دی چه د قدرت د هسی آیاتو له لیدلو څخه وروسته هم ستاسی زړونه پاسته نشول.

فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾

نو دغه (زړونه) په مثل د تیږی (ګټی) دی (په سختوالی کښی) بلکه ډیر زیات دی په سختوالی کښی. او بیشکه چه له ځینو تیږو (ګټو) ځنی خامخا

هغه دی چه خوتیږی (بهیږی) له هغو څخه لویی لویی ویالی او په تحقیق سره ځینی له دی تیږو (ګټو) څخه خامخا هغه دی چه چوی نو راوځی له هغو څخه اوبه او بیشکه ځینی له دی تیږو (ګټو) څخه خامخا هغه دی چه رارغړی (د غره له سره) له ویری د الله او نه دی الله بی خبر له هغه څه چه کوئ ئی تاسی (ای یهودانو!).

**تفسیر:** یعنی له ځینو تیږو (ګټو) څخه ډیری ګټی (فائدی) رسیږی چه ډیری اوبه او ویالی ور څخه وځی او له ځینو تیږو (ګټو) څخه لږ اوبه وځی او د هغه ړومبنی قسم په نسبت لږی فائده ورڅخه اخیسته کیږی که څه هم له ځینو تیږو (ګټو) څخه چاته څه فائده نه رسیږی خو په هغو کښی یو ځانته اثر او تأثر موجود وی، مګر د دوی زړونه له دی دری ډولو (قسمه) تیږو (ګټو) څخه سخت دی. نه په هغو کښی څه فائده او نه پکښی د خیر کومه خبره شته. ای یهودانو! الله تعالیٰ ستاسی له اعمالو څخه هیڅکله بی خبر نه دی.

أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

آیا نو تمه کوئ تاسی (ای مسلمانانو) چه ایمان به راوړی دوی (په وینا ستاسو او بیشکه چه وه یوه ډله (د پخوانیو) له دوی چه اوریده به ئی کلام د الله بیا به ئی اړوله هغه خبره وروسته له هغه چه پوه به شول په هغی حال دا چه دوی به پوهیدل (په دی تحریف او افتراء)

**تفسیر:** له فریق څخه هغه خلق مراد دی چه د طور غره ته له موسیٰ علیه السلام سره د الله تعالیٰ د خبرو د اوریدلو له پاره تللی و، هغوی د طور څخه د بیرته راتګ په وخت کښی له ځانه داسی خبری تحریف او جوړی کړی او وویل «څه چه مو له لاسه کیږی هغه وکړئ! او په څه چه مو وس نه رسیږی د هغه پریښودل ستاسی په اختیار کښی دی.» ځینی وایی چه د الله تعالیٰ د کلام څخه مراد «توریت» دی. او له تحریف څخه دا مراد دی چه د هغه په آیاتو کښی ئی لفظی او معنوی تحریفونه کول کله به ئی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نعت بدلاوه کله به ئی د رجم او نور آیتونه له منځه ایستل.

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم
بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾

او کله چه ملاقات وکړی (یهودان) له هغو کسانو سره چه مؤمنان دی وایی چه ایمان راوړی دی مونږ او کله چه یوازی شی ځینی د دوی له ځینو نورو سره نو وایی دوی آیا خبروئ تاسی (ای یهودانو) مؤمنان په هغه شی چه پرانستلی دی الله په تاسی (په توریت کښی) د دی لپاره چه جګړه وکړی له تاسی سره مؤمنان په هغه سره په نزد د پروردګار ستاسی آیا نو نه پوهیږی؟ (په دی چه دښمن ته حجت ورښیئ)

**تفسیر:** د یهودانو منافقانو به د خوشامند په توګه (طور) د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه خبری چه د دوی په مذهبی کتاب کښی وی، مسلمانانو ته ویلی، نورو یهودانو به دوی ملامتول چه «د خپل کتاب سند ولی د نورو په لاسو کښی ورکوئ؟ آیا تاسی په دی نه پوهیږئ چه مسلمانان به ستاسی د پروردګار په مخ کښی په هم دی خبرو پر تاسی الزام اړوی چه یهودان سره له دی چه ګرد سره آخرالزمان رسول الله صلی الله علیه وسلم پیژنی، خو بیا هم ایمان نه راوړی، نو دلته تاسی بی ځوابه کیږئ.»

أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾

آیا نه پوهیږی دغه (یهودان) چه بیشکه الله عالم دی په هغه څه (کفر او نفاق) چه پټوی ئی دوی او په هغه څه (ایمان) چه ښکاره کوی ئی.

**تفسیر:** یعنی الله تعالیٰ ته د دوی ټول ظاهری او باطنی احوال معلوم دی او د دوی د کتاب له ګردو حجتو څخه خبر ورکوی او وخت په وخت هغوی پری پوهوی، د رجم آیت اهل کتابو له مسلمانانو څخه پټ کړی ؤ خو الله تعالیٰ هغه مسلمانانو ته ورښکاره او دوی ئی رسوا کړل. دا د هغوی د پوهانو او عالمانو حال ؤ چه له ټولو نه پوه او د کتاب د لوستلو مدعیان وو.

که څوک پټ کړی خپل عمل یایی ښکاره خدای خبر دی هم په پټ هم په ښکاره

وَ مِنۡهُمۡ اُمِّيُّوۡنَ لَا يَعۡلَمُوۡنَ الۡكِتٰبَ اِلَّاۤ اَمَانِىَّ وَاِنۡ هُمۡ اِلَّا يَظُنُّوۡنَ ﴿۷۸﴾

او ځینی له دغو (یهودانو) څخه آمیان دی چه نه پوهیږی په کتاب (توریت) باندی مګر خو (پوهیږی) په هیلو (آرزوګانو) د خپلو نفسونو او نه دی دوی مګر خو بی دلیله ګمان کوی.

**تفسیر:** او هغه کسان چه جاهلان دی هغوی خو په هیڅ نه پوهیږی چه په «توریت» کښی څه شی لیکل شوی دی؟ مګر په هغو څو آرزوګانو خبر دی چه له خپلو پوهانو څخه ئی په دروغو اوریدلی ده لکه چه وایی جنت ته به بی له یهودانو بل څوک نه ورننوځی زمونږ پلرونه او نیکونه هرومرو (خامخا) زمونږ له پاره مغفرت غواړی. دا د هغوی هسی بی اصله خیالات دی چه هیڅ دلیل ورته نه لری.

فَوَيۡلٌ لِّلَّذِيۡنَ يَكۡتُبُوۡنَ الۡكِتٰبَ بِاَيۡدِيۡهِمۡ ثُمَّ يَقُوۡلُوۡنَ هٰذَا مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ لِيَشۡتَرُوۡا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ فَوَيۡلٌ لَّهُمۡ مِّمَّا كَتَبَتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ وَوَيۡلٌ لَّهُمۡ مِّمَّا يَكۡسِبُوۡنَ ﴿۷۹﴾

نو عذاب (هلاک او خرابی) دی له پاره د هغو کسانو چه لیکی کتاب (له خپله ځانه) په لاسو خپلو بیا وایی دغه (محرفین خلقو ته) چه دا (لیکل شوی) له نزده د الله دی له پاره د دی چه واخلی په دغه کتاب (اړولی) لیک قیمت لږ نو (عذاب هلاک او) خرابی ده دوی ته له سببه د هغه شی چه لیکلی دی لاسو د دوی او بیا خرابی ده دوی ته له سببه د هغه کار چه کوی ئی (چه رشوت اخیستل دی)

**تفسیر:** دا هغه کسان دی چه هغوی د عوامو جاهلانو په مذاق او خوښه سره سمی خبری له خپل لوری جوړی او لیکی ئی او الله تعالیٰ ته ئی نسبت کوی مثلاً په «توریت» کښی لیکلی ؤ چه آخرالزمان رسول صلی الله علیه وسلم ښکلی مخ، تکی توری ګڼی ولول تاو شوی څڼی، توری سترګی، میانه قد، غنم رنګ لری.» دوی هغه خبری واړولی او داسی ئی ولیکل چه «قد ئی اوږد، سترګی ئی شنی او څڼی ئی ساده، سمی او ځوړندی او زیری دی» چه عوام الناس د دوی

تصدیق ونه کړی او د هغوی په دنیوی منافعو کښې څه نقصان پیدا نه شي.

وَقَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً

او وایی دوی (یعنی یهودان) هیچیری به ونه رسیږی مونږ ته اور د (دوزخ) مګر څو ورځی شمیرلی شوی (لږی)

**تفسیر:** ځینی وایی اوه ورځی او ځینی څلویښت ورځی هومره ورځی چه دوی د خوسی (سخی) په عبادت کښی بوخت وو. او ځینی څلویښت کاله هومره وخت چه دوی د تیه په میدان کښی سرګردان وو ځینی وایی هر یوه ته دومره وخت اور رسیږی چه په دنیا کښی ئی ژوند کړی وی.

قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾

ووایه ته (ای محمده! دوی ته) آیا اخیستی دی تاسی له نزد د الله عهد (چه عذاب به نه درکوی؟) نو له سره مخالفت نه کوی الله له عهد خپل یا وایئ (او جوړوئ) په الله هغه (دروغ) خبره چه نه پری پوهیږئ (بلکه داسی نه دی لکه چه تاسی وایئ)

**تفسیر:** یعنی دا خبره بیخی غلطه ده چه یهودان به تل په دوزخ کښی نه پاتی کیږی ځکه د «**خلودفی النار**» او د«**خلود فی الجنة**» هغه کلیه قاعده چه وروسته له دی څخه ئی بیان فرمایی له تولو سره به سم له هغی قاعدی سره معامله کیږی او یهودان له دغی عمومی قاعدی څخه نه شي وتلی.

بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ

بلکه (رسیږی تاسی ته دائمی اور) هر چا چه کسب کړه بدی او چاپیره شوه پر ده ګناه د ده (چه تر مرګه پوری کفر دی)

**تفسیر:** د ګناه احاطه کول یا له چا څخنی چار چاپیر ګناه تاویدل دا معنی لری چه ګناه په هغه

داسی غلبه وکړی چه هیڅ خوا ئی داسی نه وی چه گناه هلته انبار نه وی تر دی که یوازی د چا په زړه کښی د ایمان او تصدیق لږ اثر وی، هم گناه په هغه احاطه نه کوی نو دا صورت یوازی په کافرانو صادق کیدی شی او بس.

فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِينَ
آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ
فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٨٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ
لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِي
الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ
حُسْنًا وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ثُمَّ
تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ مُعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾

نو هم دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دی، دوی به په هغه اور (د دوزخ) کښی تل وی او هغه کسان چه مؤمنان دی او عملونه کړی دی دوی د نیکی هم دغه کسان صاحبان د جنت دی دوی به په هغه جنت کښی تل وی او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه واخیست مونږ عهد محکم له بنی اسرائیلو (اولاده د یعقوب او وویل مونږ دوی ته) چه عبادت مه کوئ! مگر یوازی د الله او (نیکی کوئ) سره له مور او پلار نیکی! او له خاوندانو د خپلوی سره! او له یتیمانو (پلار مړو) سره! او له مسکینانو سره! او ووایی خلقو ته (ښی خوږی) ښایسته خبری او سم قائموئ لمونځ! (ادا کوئ ئی د تولو مقرراتو له رعایت سره) او ورکوئ زکوة بیا وگرځیدئ تاسی (له دی عهده) مگر (ونه گرځیدل) لږ له تاسی څخه حال دا چه هم دا تاسی مخ گرځوونکی یئ (له الهی احکامو نه)

**تفسیر:** یعنی د الٰهی احکامو څخه اعراض او مخ اړول، ستاسی عادت بلکه په طبیعت کښی داخل شوی دی.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾

او (ياد كړئ اى بنى اسرائيلو) هغه وخت چه واخيست مونږ عهد محكم له (پلرونو) ستاسى (په توريت) چه مه تويوئ وينى تاسى او مه باسئ ځانونه خپل (يعنى يو بل په ظلم سره) له كورو ستاسى بيا عهد وكړ (پلرونو) ستاسى حال دا چه تاسى شاهدان يئ.

په خـپلو نفسونو په دى چه عهد ترلى ؤ پلرونو ستاسى او هم دا مو دين دى.

**تفسير:** يعنى مه خپل قوم وژنئ او مه ئى له وطنه د باندى شړى.

ثُمَّ أَنتُمْ هَٰؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَٰهَرُونَ عَلَيْهِم بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ؕ

پس (له دى عهده) تاسى هغه كسان يئ چه وژنئ ځانونه خپل (يو بل سره يا وژنئ غريبان اقربا خپل) او باسئو تاسى يوه ډله خپله (چه مغلوبه شى) له كورو د دوى ښخه مرسته (مدد) كوئ يو له بل سره پر دوى باندى په ګناه او ظلم

**تفسير:** په مدينه منوره كښى د يهودانو دوى فرقى وى اوله بنى قريظه دوهمه بنى نضير دوى يو له بل سره جنګيدلى. د مشركانو هم هلته دوى ډلى وى. اوله (اوس) دوهمه (خزرج) دى دواړو به هم په خپلو منځو كښى شخړى (جګړى) كولى. د بنى قريظه ملګرى د اوس تبر ؤ او د بنى نضير ملګرى د خزرج تبر ؤ. د جنګ او جګړى په وخت كښى هره يوه ډله د بلى موافقى ډلى مرستى (مدد) ته ورتله او د هغى اعانت او حمايت به ئى كاوه. كله به چه يوى ډلى پر بلى ډلى نصرت او برى وموند، نو هغه مغلوبه ډله به ئى له وطنه د باندى شړله او د هغو كورونه به ئى لوټل. كه كوم سړى به دوى ته په دى جګړو كښى په لاس ورته او بندى كيده به، نو د هغه ملګرو به پيسى سره تولولى او بسپنه (فديه) به ئى كوله او هغه به ئى له بنده خلاصاوه لكه چه د دى كيفيت او چارى په نسبت په لاندنى آيت كښى څه اشاره راځى.

وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَٰرَىٰ تُفَٰدُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ
أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ

---

او که راشي دوی تاسي ته بنديان نو فديه ورکوئ تاسي د دوی په ځای شان
دا چه حرام کړی شوی دی پر تاسي ايستل د هغو ايا پس (منئ او) ايمان
راوړئ تاسي پر ځينو (احکامو د) کتاب (چه فديه ده) او کافران کيږئ په
ځينو نورو (احکامو د کتاب چه بی ګناه وژنئ په ګناه سره مرسته (مدد)
کوئ د دوی مغلوبان له وطنه شړئ).

---

**تفسير:** يعني که د بل تبر او قوم په لاس کښي بندی شئ نو د هغه په خلاصولو کښي په ډيره
ميرانه (بهادری) تول سره ولاړيږئ او ملاوی تړئ، مګر په خپله د هغه د ويني د څښښلو او مری
غڅولو لپاره شنه ناست يئ نو که غواړئ چه د الله تعالیٰ په احکامو باندی عمل او تګ وکړئ
شايی چه په دواړو ځايو کښي له هغه سره معاونت او مرحمت وکړئ او د هغه له اعانت او
حمايت څخه سر ونه غړوئ!.

---

فَمَا جَزَآءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ
ٱلْقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلْعَذَابِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾

---

پس نه ده سزا د هغه چا چه کوی دا (کارونه) له تاسي څخه مګر خو
رسوايي ده په ژوند د دنيا کښي او په ورځ د قيامت کښي ګرځول کيږی
دوی ډير سخت عذاب د (دوزخ) ته او نه دی الله غافل له هغه څه چه کوئ
ئی تاسي (ای يهودانو!).

---

**تفسير:** يعني داسي کوئ چه ځيني احکام منئ او له ځينو څخه انکار کوئ نو د دی لپاره چه
د ايمان تجزيه ممکنه نه ده نو ځکه د ځينو احکامو منکر هم مطلق کافر ګڼه شي او د ځينو
احکامو په منلو باندی چاته هيڅ ايمان نه په برخه کيږی. له دی مبارک آيت څخه په ښکاره ډول
(طريقه) معلومه شوه که کوم سړی ځيني شرعي احکام مني او په متابعت کښي ئی بوخت وی
مګر د ځينو هغو احکامو له منلو څخه چه د ده له طبيعت يا عادت يا مقاصدو څخه مخالف وی

انکار کوی نو د هغو ځینو احکامو متابعت ده ته څه فائده نه شي رسولی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٨٦﴾

دا هغه کسان دی چه آخستی دی دوی ژوند د دنیا په (بی انتها نعمتو د) آخرت سپک به نه کړی شي له دوی څخه (دنیوی او اخروی) عذاب او نه به له دوی سره مرسته (مدد) وکړه شي (په دفع د عذاب کښې).

**تفسیر:** یعنی دنیوی ګټه (فائده) ئی د آخرت په مقابل کښې غوره کړه او هغه ئی په دغه بدله کړه، نو له کومو خلقو سره ئی چه تعهد کړی ؤ هغه ئی د دنیوی ګټی له پاره پای (آخر) ته ورساوه او د الله تعالیٰ د احکامو ئی څه پروا ونه کړه، نو د داسی کسانو حمایت او سپارښتنه به د الله تعالیٰ په دربار کښې څوک وکړی شي.

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ

او خامخا، بیشکه ورکړی وو مونږ موسیٰ ته کتاب (توریت) او پر له پسی استولی وو مونږ پس له موسیٰ نور رسولان (لکه یوشع، داؤد، سلیمان، یحییٰ او زکریا) او ورکړی وی مونږ عیسیٰ زوی د مریمی ته (معجزی) ښکاره او قوی کړی وو مونږ عیسیٰ په روح پاک سره (چه جبریل یا انجیل یا اسم اعظم یا عیسوی روح دی).

**تفسیر:** د مړی ژوندی کول ـ د اکمه او ابرص او د نورو رنځورانو روغول ـ او د پټو خبرو ښوول، د عیسیٰ علیه السلام له ښکاره ؤ معجزو څخه دی له «روح القدس» څخه به حضرت جبرئیل علیه السلام مراد وی چه تل به له مسیح علیه السلام سره ؤ یا به «اسم اعظم» وی چه د هغه په برکت به ئی مړی ژوندی کول.

أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ

آیا نو هر کله چه را به غی تاسی ته کوم رسول په هغو احکامو سره چه نه به خوښول نفسونو د تاسی نو تکبر (لوئی) کوله تاسی (له منلو د هغو احکامو) نو د انبیاؤ یوه ډله مو دروغجنه وبلله تاسی (لکه محمد، عیسیٰ او موسیٰ)

**تفسیر:** لکه چه دوی «حضرت محمد رسول الله ـ حضرت عیسیٰ روح الله او حضرت موسیٰ کلیم الله علیهم الصلوٰة والسلام دروغجن وبلل».

وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾

او بله ډله (د انبیاؤ) ووژله تاسی (لکه زکریا، یحییٰ او شعیب).

**تفسیر:** لکه چه دوی «حضرت زکریا، یحییٰ او شعیب علیهم السلام ووژل.»

وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او وایی (تمسخراً) زړونه مو په پردو کښی دی (وینا پری اثر نه کوی داسی نه ده) بلکه لعنت کړی دی پر دوی الله په سبب د کفر د دوی نو ډیر لږ (له دوی څخنی) ایمان راوړی.

**تفسیر:** یهودانو د خپلو نفسونو د ستایلو په وخت کښی داسی ویل چه زمونږ زړونه په غلافو او کڅوړو کښی ساتلی شوی دی او پرته (علاوه) زمونږ له خپل دین څخه بل کوم دین پکښی نشی ننوتلی او نه بله کومه خبره څه اثر ورباندی اچولی شی مونږ د بل چا په چاپلوسی، سحر بیانی او کرشمی نه غولیږو او نه ئی تابعداری کولی شو حق تعالیٰ فرمایی «دوی بیخی دروغ وینونکی دی» ځکه چه دوی د خپل کفر په سبب د الله تعالیٰ له خوا ملعون او د ده له رحمته شړلی شوی دی نو له دی امله (وجی) په هیڅ ډول (طریقه) د حق دین منونکی نه دی او له دوی څخه ډیر لږ کسان د ایمان په دولت مشرف کیږی.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ۙ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ ۚ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾

او هر كله چه راغي دوى ته (اهل كتابو ته) كتاب (قرآن) له نزده د الله چه مصدق دى د هغه كتاب چه له دوى سره دى حال دا چه وو دوى پخوا له دى چه فتح به ئى غوښته (له الله په قرآن او محمد سره) په هغو كسانو چه كافران وو نو كله چه راغي دوى ته هغه رسول چه پيژندلى ؤ دوى (هغه رسول د توريت په ستايلو سره) كافران شول پرى نو لعنت د الله دى په كافرانو (چه حق ئى پټ او باطل ئى څرګند كړ).

**تفسير:** هغه كتاب چه نازل شوى دى قرآن دى او هغه كتاب چه له دوى سره پخوا له دى نه موجود ؤ (توريت) دى د عظيم الشان قرآن له نزوله پخوا كله به چه يهودان د كافرانو په مقابل كښى مغلوبيدل نو دعا به ئى كوله او ويل به ئى اى خدايه! د آخرالزمان نبى صلى الله عليه وسلم او د هغه پاک قرآن په بركت چه پر ده به نازليږى، مونږ ته په كافرانو برى او فتح راكړه، كله چه حضرت محمد صلى الله عليه وسلم مبعوث شو او د هغه د رسالت تولى نښى ئى وليدلى نو ترى منكر او ملعون شول.

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ

بد دى هغه څه چه پلورلى (خرڅ كړى) دى دوى په هغه سره ځانونه خپل (او هغه دا دى) چه كافران كيږى په هغه قرآن چه نازل كړى دى الله (دا كفر) په سبب د دى حسد او كينى دى چه (ولى) نازلوى الله له فضله خپله په هغه چا چه اراده وكړى له بندګانو خپلو

**تفسير:** يعنى هغه شى چه دوى د هغه په بدل كښى خپل ځانونه پلورى (خرڅوى) هغه د سپيځلى

پاک قرآن په مقابل کښې د کفر او انکار غوره کول دی حال دا چه د دوی دا کفر او انکار هم یوازې د دوی له ضد ـ کینې او حسد نه پیدا شوی دی.

فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ۭ

نو اخته شول په یوه غضب (چه کفر دی په محمد او قرآن) د پاسه د بل غضب (چه کفر دی په عیسیٰ او انجیل).

**تفسیر:** یعنې یو غضب دا چه نه یوازې په قرآن، بلکه په خپل کتاب هم سره کافران او منکران شول. او بل غضب دا چه یوازې د حسد او ضد له امله (وجی) ئې د هغه وخت له رسول سره مخالفت وکړ او ورځنې وګرځیدل.

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝٩٠

او (مقرر) دی لپاره د کافرانو عذاب سپکوونکی.

**تفسیر:** له دې ځخه معلومیږي چه هر عذاب د ذلت له پاره نه وی بلکه هغه عذاب چه مسلمانانو ته ورکول کیږی، هغه د دوی دګناهونو له امله (وجی) دی چه تری پاک شی، نه د سپکتیا او تذلیل له پاره یوازې هغه عذاب چه کفارو ته ورکول کیږی هغه د تذلیل عذاب دی.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ۗ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۭ

او کله چه وویل شی دوی ته چه ایمان راوړئ په هغو (کتابو) چه نازل کړی دی الله وایی دوی ایمان راوړو مونږ په هغه (کتاب) چه نازل کړی شوی دی پر مونږ (یعنې تورات) حال دا چه کافران کیږی په هغه کتاب چه بې له هغه دی یعنې (انجیل او قرآن) حال دا چه دا (نور کتابونه هم) حق دی مصدق دی د هغه کتاب چه له دوی سره دی (چه د الله تعالیٰ له خوا نازل شوی دی)

**تفسیر:** هغه کتاب چه بې له هغه دی یعنې «انجیل» او «قرآن» او هغه چه نازل شوی دی پر

مونږ یعنی «توریت» مطلب دا چه پرته (علاوه) له «توریت» څخه له نورو کتابو څخه په ښکاره
ډول (طریقه) منکران دی «د قرآن» او «انجیل» منونکی نه دی. حال دا چه دا کتابونه هم
رښتیا حق او د «توریت» تصدیق کوونکی دی.

قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾

ووایه (ای محمده! دغو یهودانو ته) نو ولی به وژل تاسی انبیاء د الله (لکه
شعیب زکریا او یحییٰ) پخوا (له دی څخه) که چیری وئ تاسی ایمان
راوړونکی (په توریت).

**تفسیر:** یعنی یهودانو ته ووایه «که تاسی په توریت ایمان لرونکی یئ نو بیا مو ولی انبیاء ووژل؟
ځکه چه په «توریت» کښی داسی حکم شته ـ هر هغه نبی چه د «توریت» تصدیق وکړی، تاسی
له هغه سره مرسته (مدد) وکړئ او خامخا وربانډی ایمان راوړئ!» او هغه انبیاء مو وژلی دی چه
پخوا له دی څخه تیر شوی دی لکه حضرت زکریا او حضرت یحییٰ علیهما السلام چه د (توریت)
په احکامو ئی عمل کاوه او د (توریت) د ترویج او تاکید له پاره رالیږل شوی وو. په دی خبره
کښی هیڅ ناپوه ته کومه اندیښنه او شک نه پیدا کیږی چه دی پیغمبرانو د توریت تصدیق کاوه.

وَلَقَدْ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾

او خامخا په تحقیق سره راوړی وی تاسی ته موسیٰ ښکاره (معجزی) بیا
ونیوه تاسی خوسی (سخی) (په خدایی سره) پس د تللو د موسیٰ (د طور
غره ته) حال دا چه تاسی وئ ظالمان (پر ځانو خپلو په دی معبود نیولو د
خوسی)

**تفسیر:** یعنی په خپله حضرت موسیٰ علیه السلام چه تاسی د هغه په شریعت باندی قائم یئ او د
هغه شریعت له امله (وجی) د نورو شرائعو او حقه ؤ ادیانو څخه انکار کوئ تاسو ته ئی ډیری
ښکاره نښی او معجزی دروښودی لکه همساء، یدبیضاء، د سیند څیرول او نور مګر کله چه
موسیٰ علیه السلام د څو ورځو له پاره د طور غره ته لاړ نو تاسی د هغه په غیاب کښی خوسی
(سخی) خپل معبود وتاکه (مقرر که)، حال دا چه موسیٰ علیه السلام ژوندی او د نبوت خاوند
ؤ، نو په هغه وخت کښی پر موسیٰ علیه السلام او د هغه په شریعت ستاسی ایمان چیری ؤ چه نن

د آخرالزمان رسول صلی الله علیه وسلم د بغض، حسد له امله (وجی) تاسی موسوی شریعت داسی تینګ نیولی دی چه د الله تعالیٰ احکامو ته هم غوږ نه ږدی، بیشکه چه تاسی ظالمان یئ او ستاسی پلرونه او نیکه ګان هم ظالمان وو دا ؤ د بنی اسرائیلو احوال د حضرت موسیٰ علیه السلام سره وروسته له دی د (توریت) په نسبت د هغوی د ایمان حالت بیانوی

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُوا قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ

او (یاد کړئ!) هغه وخت چه واخیست مونږ عهد محکم د تاسی (په منلو د توریت) او پورته کړ مونږ پاس په (سرو) د تاسی د طور (غر) واخلئ هغه (احکام) چه درکړی دی مونږ تاسی ته په ښه کوښښ او واورئ (په تدبر سره) وویل (یهودانو) اوریدلی ده مونږ (ستا خبره) او نه دی منلی مونږ (ستا حکم) او ورځښلی (څکلی) شوی وه په زړونو د دوی کښی (مینه د) خوسی (سخی) په سبب د کفر د دوی

**تفسیر:** یعنی د توریت د احکامو په نسبت چه کوم احکام درکړی شوی دی هغه په پوره همت او استقلال سره تینګ ونیسئ! څرنګه چه غر مو په سر څوړند ؤ، نو د خپل ځان له ویری خو مو تش په ژبه یا په هغه وخت کښی وویل﴿ سَمِعْنَا ﴾ یعنی د (توریت) احکام مو واوریدل. او په زړه کښی یا وروسته له هغه مو ویل﴿ عَصَيْنَا ﴾ یعنی هغه احکام مو ونه منل. د دی غاړه غړولو بله وجه دا وه چه د صورت خوښولو او ښکاره کتلو مینی د هغوی په زړونو کښی کلک ځای نیولی ؤ او د دوی د کفر له سببه هغه زنګ چه د هغوی په زړونو کښی ؤ، لا داسی تینګ شو چه بیرته کیدو ئی هیڅ امکان نه درلود (لرلو) بلکه ورځ په ورځ لا پسی زیاتیده.

قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُمْ بِهِ إِيمَانُكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾
قُلْ إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِنْدَ اللَّهِ خَالِصَةً مِنْ دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٤﴾

ووايه (اى محمده! دوى ته) بد دى هغه شي چه امر كوى تاسى ته په هغه (چه كفر دى په محمد او قرآن) ايمان ستاسى كه چيرى يئ تاسى ايمان راوړونكي. ووايه (اى محمده! دوى ته) كه چيرى وى تاسى ته دار آخرنى په نزد د الله په خلوص (او خصوص سره يوازى) بى له (نورو) خلقو نو هيله (تمنا) وكړئ د مرگ كه چيرى يئ تاسى صادقان (په دعوى د خالصوالى د جنت كښى خپلو ځانو ته).

**تفسير:** يهودانو به ويل «پرته (علاوه) له مونږ نه به په جنت كښى بل هيڅ څوک نه داخليږى او مونږ ته هيڅ يو رېړ (تكليف) او عذاب نشته» الله تعالىٰ فرمايى كه په رښتيا سره تاسى جنتيان يئ نو له مړينى څخه ولى ويريږئ؟»

څوک چه شميرى ځان رښتيا اهل د جنت ـ خوښ به ئى نه وى دنيا يئ چرچى راحت

دا كسان چه په دنيا كښى بى پروا دى ـ دوى هرگوره په عقبى وينى زحمت

وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

او له سره به هيله (اميد) ونه كړى د مرگ هيڅ كله په سبب د هغو عملونو چه وړاندى ليږلى دى لاسونو د دوى (لكه د انبياؤ او نورو قتل او تكذيب) او الله ښه عالم دى په (احوالو) د ظالمانو او خامخا به مومى ته هرومرو (خامخا) دوى ډير حرصناک د خلقو نه په ژوندانه باندى او (ډير حارصان) له هغو كسانو ځنى (هم) چه مشركان دى، خوښوى هر يو د هغوى (يهودانو) كه عمر وركړ شى (او اوږد شى عمر ئى) زر كاله، او نه دى دا كس خلاصوونكى د ده له عذابه دا چه ډير عمر وركړ شى او الله ښه ليدونكى (عالم) دى په هر څه چه دوى (ئى) كوى.

**تفسیر:** یعنی یهودانو داسی خراب کارونه کړی دی چه له مرګه ډیر لری تښتی او ویریږی چه وروسته له مړینی مونږ ته هیڅ یوه ګټه (فائده) نه رسیږی تر دی حده پوری چه له مشرکانو څخه هم دوی ډیر په ژوندی پاتی کیدلو باندی حریصان دی. په دی سره د هغوی د دعوی تغلیط په ښه ډول (طریقه) سره وشو.

---

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَإِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٩٧﴾ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ فَإِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٩٨﴾

---

ووایه (ای محمده! دوی ته) هر څوک چه وی دښمن د جبریل (نو دوی مری له قهره!) ځکه بیشکه هغه (جبریل) نازل کړی دی قرآن په زړه ستا په اذن (او حکم) د الله حال دا چه مصدق دی (دا کتاب) د هغو کتابونو چه پخوا له ده دی (لکه توریت او انجیل) او لارښوونکی دی او زیری ورکوونکی دی مؤمنانو ته (په جنت او د الله په لقاء سره) هر څوک چه وی دښمن د الله او د ملائکو د ده او د رسولانو د ده او (خصوصاً) د جبریل او د میکائیل پس بیشکه الله دښمن دی له پاره د کافرانو.

---

**تفسیر:** یهودانو به ویل «هغه پرښته جبریئل علیه السلام چه پر (حضرت محمد صلی الله علیه وسلم) باندی وحی راوړی له مونږ سره دښمنی لری او زمونږ پلرونو ته د ده له لاسه لوی ربړونه (تکلیفونه) پیښ شوی دی که پرته (علاوه) له جبرئیل علیه السلام بلی کومی پرښتی دوی ته وحی راوړی وی، نو مونږ به په (محمد صلی الله علیه وسلم) ایمان راوړی وی» نو د دوی د دی وینا په نسبت الله تعالیٰ داسی فرمایی «ګردی پرښتی همغه شیان کوی چه د پاک الله له لوری دوی پری ماموری شوی وی او له خپله ځانه هیڅ شی نه کوی نو هغه کسان چه له دوی سره دښمنی کوی بیشکه چه الله تعالیٰ د هغوی دښمن دی».

---

وَلَقَدْ أَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۚ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ إِلَّا

الْفٰسِقُوْنَ ﴿٩٩﴾ اَوَكُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ؕ
بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠٠﴾

او هرومرو (خامخا) په تحقيق نازل كړي دي مونږ تاته آيتونه روښانه او نه كافران كيږي په دي باندي مگر فاسقان (چه د الله له فرمانه وتونكي دي).
آيا هر كله چه وبه كاوه دوى يو عهد نو غورځاوه (هيراوه او ماتوه) دا عهد يوى ډلى له دوى څخه بلكه اكثره د دوى ايمان نه راوړي (په مؤمن به شيانو).

**تفسير:** يعني دا د هغوى پخوانى عادت دى كله چه دوى له الله تعالىٰ يا رسول الله صلى الله عليه وسلم يا له بل چا سره عهد او پيمان وتړى، نو بيا يوه ډله له دوى څخه له هغه عهد نه سترگى پټوى او تر شايى غورځوى بلكه ډير داسي يهودان هم شته چه په «توريت» باندى ئى هم لا ايمان نه دى راوړى نو داسي كسانو ته عهد ماتول او په خپلو خبرو باندى نه دريدل، كومه سخته خبره نه ده.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ مِّنَ
الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠١﴾ ز

او هر كله چه راغي دوى ته رسول (محمد) له طرفه د الله چه مصدق دى د هغه كتاب (توريت) چه له دوى سره دى نو وغورځاوه يوى ډلى له هغو كسانو چه وركړى شوى دى دوى ته كتاب، كتاب د الله لره وروسته د شاوو د دوى (او هيڅ عمل ئى پرى ونه كړ) لكه چه دوى نه پوهيږي (چه دغه كتاب او رسول له جانبه د الله راغلى دى يا په هغه كښى څه صفت دى د محمد).

**تفسير:** له «رسول» څخه حضرت محمد صلى الله عليه وسلم مراد دى او له «مامعهم» څنى مطلب «توريت» او له «كتاب الله» نه مقصد هم دا «توريت» دى، يعنى كله چه رسول الله صلى الله عليه وعلى اله واصحابه وسلم تشريف راوړ، نو دوى د«توريت» او نورو آسمانى كتابونو تصديق كوونكى ؤ. نو د يهودانو يوى ډلى په خپله «توريت» خپلو شاوو ته داسى وغورځاوه لكه چه

بیخی ئی نه وی لیدلی او هیڅ ورنه خبر نه وی چه آیا هغه هم کوم کتاب دی که نه؟ او څه اوامر او نواهی هم پکښی شته که نه؟ کله چه دوی په خپل کتاب عقیده او ایمان نه لری، نو له هغوی څخنی د نورو الٰهی احکامو په نسبت څه امید کول په کار دی؟

---

وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ وَمَا
كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ
السِّحْرَ ۗ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ ۭ
وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا
تَكْفُرْ ۭ فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَ
زَوْجِهٖ ۭ وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ
وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ۭ وَلَقَدْ عَلِمُوْا
لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ڜ وَلَبِئْسَ
مَا شَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ۭ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ
اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ۭ لَوْ كَانُوْا
يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠٣﴾ ع

---

او متابعت وکړ یهودانو د هغه څه چه لوست به شیطانانو (پیریانو) په (زمانه د) باچاهی د سلیمان کښی (چه دی احمقانو کتاب الله تر شا وغورځاوه او سحر ئی زده او په متابعت ئی لګیا شول) او نه ؤ کافر شوی سلیمان (د سحر د عمل په تحلیل سره) ولیکن شیطانان کافران شوی وو حال دا چه ښود به ئی خلقو ته سحر او (متابعت به ئی کاوه) د هغه شی چه نازل کړی شوی ؤ په دوو پرښتو په (ښار د) بابل کښی (چه نوم د یوی) هاروت او (د بلی) ماروت (دی)؛ او نه به کوله ښودنه دوی دواړو هیچا ته تر هغه پوری چه وبه ویل دواړو بیشکه هم دا خبره ده چه مونږ آزموینه (ازمیښت) یو (له جانبه د الله) نو مه کافر کیږه (په زده کولو د سحر چه د عمل پر جواز ئی معتقد

اوسی) نو زده کاوه به هغوی له دوی دواړو نه هغه شی چه بیلتون به ئی کاوه په هغه سره په منځ د میړه (خاوند) او ښځی د هغه کښی؛ او نه وو دوی ضرر رسوونکی په دغه سحر سره هیچا ته مګر په اذن (حکم) د الله سره؛ او زده کوی دوی (یعنی یهودان) هغه څه چه ضرر رسوی دوی ته او نفع نه رسوی دوی ته؛ او هرومرو (خامخا) په تحقیق پوهیدل دوی چه خامخا هغه څوک چه پیری (اخلی) (زده کوی په اعتقاد د جواز) سحر نشته ده لره په آخرت کښی هیڅ برخه (د نیکی)؛ او هرومرو (خامخا) ډیر بد دی هغه شی چه پلورلی (اخستی) دی دوی په هغه شی سره (حصه د) ځانو خپلو که چیری وی دوی چه پوهیدلی (په بد انجام د سحر نو نه به ئی زده کاوه). او که په تحقیق دوی ایمان راوړی وی او پرهیز ئی کړی وی (له سحره او له یهودیته) نو هرومرو (خامخا) ثواب له طرفه د الله څخه ډیر غوره دی (له دی سحر او رشوت د توریت په تحریف)
که وی دوی چه پوهیدلی (په بهتری د«توریت» نو سحر به ئی نه زده کاوه او له پاک الله څنی به ویریدل او له مناهیو به لری ګرځیدل).

---

**تفسیر:** لنده ئی دا چه یهودانو دین او کتاب پریښود او د سحر ـ جادو او کوډو تابع شول. او جادو له دوو خواؤ په خلقو کښی خپور (خور) شو.

(١): د حضرت سلیمان علیه السلام په زمانه کښی په دی سبب چه پیریانو او انسانانو ناسته او ولاړه سره درلوده، (لرله) نو بنیادمانو له شیطانانو څنی کوډی زده کولی او دا به ئی حضرت سلیمان علیه السلام ته منسوبولی چه دا کوډی مونږ ته له ده څنی رارسیدلی دی او ده د هم دی کوډو په زور پر خلقو حکمونه چلول. نو ځکه الله تعالیٰ فرمایی چه «دا کار کفر دی او د سلیمان نه دی».

(٢): د (هاروت) او (ماروت) له پلوه (طرفه) ئی تعمیم وموند چه دا دوی پرښتی د (بابل) په ښار کښی د بنیادمانو په صورت اوسیدلی او دوی ته د سحر او جادو علم ښه معلوم ؤ. د سحر هر طالب به چه دوی ته ورته، نو دوی به هغه ته نصیحت کاوه چه «سحر مه زده کوه! چه د سحر د جائز ګڼلو له امله (وجی) سړی کافر او ایمان ته ئی زوال وررسیږی» که سره له دغه نصیحته به دا د سحر طالب د سحر له زده کولو څخه لاس نه آخیست، نو ئی ورښود. پاک الله د هاروت او ماروت) په ذریعه د خپلو بندګانو آزموینه کوله. نو ځکه فرمایی چه له هسی علومو څنی آخرت ته هیڅ یوه ګټه (فائده) نه رسیږی، بلکه ډیر نقصان رسوونکی دی او په دنیا او آخرت کښی پرته (علاوه) له نقصانه بل څه ګټه (فائده) په لاس نه تری راځی او بی د الله تعالیٰ له حکم او ارادی هیڅ اثر نه پری مرتبیږی که دوی د دین علم او د کتاب علم زده کاوه، نو د دواړو دارینو اجر او ثواب به ئی په برخه کیده کله چه دین او کتاب ئی پریښود ﴿خَيرَ الدُّنْيَا وَالآخِرَةَ﴾

شول.

چه په سود او په خپل زیان ښوک نه پوهیږی ▪ هغه کله خپل مقصود وته رسیږی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقُولُواْ رَٰعِنَا وَقُولُواْ ٱنظُرۡنَا وَٱسۡمَعُواْۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٠٤﴾

ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مه وایئ تاسی (لفظ د) راعنا (رسول الله ته) او ووایئ (په ځای د راعنا لفظ د) انظرنا او واورئ تاسی (حق د زړه په غوږو). او شته دی لپاره د کافرانو عذاب دردناک (د دوزخ).

**تفسیر:** یهودان به د رسول الله مبارک په مجلس کښی کیناستل او د دوی خبری به ئی اوریدلی، په ځینو خبرو به چه ښه نه پوهیدل، یا به ئی نه اوریدلی؛ د هغو تحقیق به ئی بیا په تکرار سره کاوه او ویل به ئی «راعنا» یعنی زمونږ په لوری توجه وفرمایئ! او رعایت مو وکړئ! د دی کلمی د اوریدلو په اثر به کله کله مسلمانانو هم داسی ویل. نو پاک الله منع کوی چه داسی مه وایئ! اوکه وایئ هم نو﴿ٱنظُرۡنَا﴾ ووایئ! چه د هغه معنی هم همغه ده او د خبرو د شروع ځخه پوره متوجه اوسئ! چه بیا پوښتنی ته اړ (محتاج) نه شئ! یهودانو دا خبره د فریب او بدنیتی له امله (وجی) ویله او دا کلمه به ئی په داسی ژوولی ژبه ادا کوله چه د «**راعینا**» توری به هم تری خوت چه معنی ئی ای زمونږ شپونه! ده برسیره په دی د یهودانو په نزد﴿رَٰعِنَا﴾د احمق او ناپوه معنی هم ورکوی.

مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَلَا ٱلۡمُشۡرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ خَيۡرٖ مِّن رَّبِّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾

نه خوښوی (دوست نه ګنی) هغه کسان چه کافران شوی دی له اهل کتابو ځخه او (نه) له مشرکانو ځخه دا (خبره) چه نازله کړه شی پر تاسی کومه ښه خبره (لکه وحی، نصرت) له ربه ستاسی (د حسد او رخی (کینی) له

مخی) او الله خاصوی په رحمت خپل سره هغه څوک چه اراده (ئی) وکړی (د تخصیص په رحمت سره) او الله څښتن (خاوند) د فضل ډیر لوی دی.

**تفسیر:** یعنی کفار یهودان دی که د مکی مشرکان په دی نه دی خوشال چه پاک قرآن په تاسی باندی نازل شوی دی. بلکه یهودانو داسی غوښتل او هیله (امید) ئی درلوده (لرلو) چه وروستی نبی صلی الله علیه وسلم په (بنی اسرائیلو) کښی مبعوث شی. او د مکی د مشرکانو خوښه دا وه چه د دوی له تبره دی وی. مګر دا خو د الله تعالیٰ لوی فضل او مرحمت دی چه وروستی نبی صلی الله علیه وسلم ئی د تاسی د امیانو په تبر کښی پیدا کړ.

مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ۗ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٠٦﴾

هغه چه منسوخ کوو مونږ له کوم آیته یا هیروو ئی (له زړونو) د مؤمنانو څخه نو راليږو بهتر له هغه (پخوانی څخه په سهولت او کثرت د اجر کښی) یا په مثل د هغه (په تکلیف او ثواب کښی)؛ آیا نه پوهیږی ته چه بیشکه الله په هر څه ښه قادر دی (نو رالیږی بهتر له منسوخه یا د هغه په مثل).

**تفسیر:** دا هم د یهودانو پیغور دی کله چه ستاسی په کتاب کښی ځینی آیتونه منسوخ کیږی نو وایی که دا کتاب په رښتیا د پاک الله له لوری وی، نو کله چه الله تعالیٰ د هغی نسخی له سببه چه مونږ او تاسی اوس پری خبریږو لا له پخوا څخه خبر ؤ نو ولی به ئی یو داسی آیت لیږه؟ نو الله تعالیٰ فرمایی چه نه په لمړنی خبره کښی څه عیب ؤ او نه په وروستی خبره کښی کوم عیب شته، خو ﴿ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ ﴾ د وخت په تناسب اول هغه حکم مناسب وګانه. او بیا ئی دغه حکم لازم وباله (وګڼه).

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١٠٧﴾

آیا نه پوهیږی ته چه بیشکه الله (چه دی) هم ده لره دی سلطنت (او باچاهی) د آسمانو او د ځمکی (سره له آسمانو او ځمکی او مافیهما ملکاً

خلقاً وعبيداً) او نشته تاسی ته غیر له الله نه هیڅ دوست (چه ومو ساتی له بلیاتو) او نه مددگار (چه له نازله عذاب مو خلاص کړی)

**تفسیر:** یعنی دلته خو د الله تعالیٰ قدرت او ملکیت په گردو (تولو) باندی شامل دی او هلته په خپلو بندگانو اعلیٰ درجه عنایت او مرحمت لری، نو اوس د بندگانو په منافعو او مصالحو باندی غیر د ده له ذاته بل څوک پوهیدی شی او څوک د ده په اندازه بندگانو ته منافع او ښیگنی (نفعی) رسولی شی؟

أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْـَٔلُوا۟ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾

آیا اراده لرئ تاسی چه سوال وکړئ له رسول خپله (محمد ﷺ) لکه چه سوال کړی شوی ؤ له موسیٰ ځخه پخوا له دی (په راز راز (قسم قسم) نامناسبو طریقو) او هر څوک چه بدلوی (او غوره کوی) کفر په ایمان (چه ایمان ورکوی او کفر آخلی) نو په تحقیق ورکه ئی کړه سمه لار (او له حقی لاری ځخه چپ او بی لاری شو).

**تفسیر:** یعنی د یهودانو په خبره باندی له سره باور او اعتماد مه کوی؟ هر چا ته چه د یهودانو د شبهی او تردد اچولو له امله (وجی) څه شک او شبهه پیدا شوی وی. هغه کافر دی له دی کار ځنی خپل ځانونه وژغورئ! (وساتی) او د یهودانو په وینا تاسی د خپل نبی په نسبت هیڅ شک او شبهه مه کوئ! لکه چه دوی به د خپلو انبیاؤ په نسبت هسی شبهی کولی.

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْحَقُّ ۖ

خوښوی (او دوست گڼی) ډیر له اهل د کتاب ځخه (دا) چه وگرځوی دوی تاسی پس له ایمان راوړلو ستاسی کافران د حسد (له سببه) چه له (خبیثو) نفسونو د دوی (پیدا شوی) دی (نه له بل سببه) وروسته له هغه چه ښکاره شو دوی ته حق (چه رسول قرآن او د اسلام دین دی).

**تفسیر:** یعنی ډیر یهودان دا هیله (امید) او آرزو لری څو په هر ډول (هر قسم) چه وکولی شی تاسی له مسلمانی څخنی واړوی او په کفر او نفاق کښی مو داخل کری. حال دا چه دوی ته دا خبره ښه ښکاره ده چه د مسلمانانو دین، قرآن او وروستی نبی صلی الله علیه وسلم تول حق او رښتیا دی.

فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰی یَاْتِیَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ

نو عفو وکړئ! (دوی ته او جهاد مه کوئ) او مخ تری وګرځوئ! (او جزا مه ورکوئ!) تر هغه پوری چه راولیږی الله امر خپل (په جهاد د دوی یا په جزیه اخیستلو له دوی نه)؛

**تفسیر:** یعنی تر هغه پوری تاسو د یهودانو دی خبری ته غوږ کیږدئ! او صبر او تحمل وکړئ! چه زمونږ له لوری تاسو ته کوم حکم راشی، لکه چه په پائ (آخر) کښی محمد صلی الله علیه وسلم ته داسی حکم راغی چه تول یهودان د مدینی منوری له چار چاپیر څخنی وشړئ.

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۱۰۹﴾

بیشکه چه الله په هر شی ښه قادر دی (نو هرومرو (خامخا) له دوی نه انتقام آخلی).

**تفسیر:** یعنی د خپل ضعف له امله (وجی) اندیښنه او تردد مه کوئ! ځکه چه پاک الله په خپل قدرت سره تاسی غالب او عزیز او یهودان مغلوب او ذلیل کوی. یا دا چه ډیل او تعطیل د عجز له امله (وجی) نه دی.

وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ
مِّنْ خَیْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ﴿۱۱۰﴾

او سم دروئ (ادا کوئ له تولو حقوقو سره) لمونځ او ورکوئ زکوة؛ او هغه شی چه مخ کښی لیږئ لپاره د ځانو خپلو له نیکی (لکه صله او صدقه) وبه

مومئ (ثواب د) هغه په نزد د الله؛ بیشکه چه الله په هغه شی چه کوئ ئی تاسی ښه لیدونکی دی (نو نه ضایع کیږی اعمال ستاسی او جزا ئی درکوی)

**تفسیر:** یعنی د هغوی په ضرر او ایذاء باندی صبر وکرئ او په عباداتو کښی بوخت (مشغول) او لګیا اوسئ! ځکه چه الله تعالیٰ ستاسی له کارونو څخه هیڅکله غافل او بی خبر نه دی ستاسی هیڅ یو ښه کار نه شی ضایع کیدی.

وَقَالُوا لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ

او وایی (اهل کتاب) له سره به نه ننوځی جنت ته مګر هغه څوک (به ننوځی) چه وی یهود یا نصرانی؛

**تفسیر:** یعنی یهودان خو وایی چه پرته (علاوه) له مونږ بل هیڅوک جنت ته نشی ننوتلی او نصرانیان وایی چه پرته (علاوه) له مونږ بل هیڅوک جنت ته نشی ننوتلی.

تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ
صَادِقِينَ ﴿١١١﴾ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ
أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١١٢﴾

دا نفسانی غوښتنی د دوی دی، ووایه (ای محمده! دوی ته) راوړئ دلیل خپل (پر دی خبره) که چیری یئ صادقان (په دی وینا کښی نه ده داسی) بلکه (غیر له دوی هم داخلیږی) هر څوک چه وسپاری ځان خپل الله ته حال دا چه دی نیکوکار وی نو دی ده لره اجر د ده په نزد د رب د ده - او نه به وی هیڅ (قسم) ویره په دوی باندی او نه به دوی (هیڅیری) خفه کیږی (د جزا په وخت کښی).

**تفسیر:** یعنی چا چه د الله تعالیٰ احکام ومنل او د هغو متابعت ئی وکړ، که څه هم دا احکام د هر نبی له لوری ورته رسیدلی وی او پخپل قومیت او اصولو باندی ئی د یهودانو په شان تعصب ونکړ نو هغوی لره ښه اجر دی او نه په هغوی کښی داسی کومه خبره شته چه د هغی له امله (وجی) به دوی په ویره کښی وی او نه به دوی غمجن وی.

وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۖ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ وَّهُمْ يَتْلُونَ الْكِتٰبَ ۗ

او وايي يهودان چه نه دی نصرانيان په هيڅ شي (له حق دين څخه) او وايي نصرانيان چه نه دی يهودان په هيڅ شي (له حق دين څخه) حال دا چه دغه (يهودان او نصرانيان) لولي دوی كتاب (د الله)؛

**تفسير:** يعني كله چه يهودانو په (توريت) كښې ولوستل چه نصرانيان، عيسیٰ عليه السلام د خدای جل جلاله زوی بولي نو په دې مسئله ښه پوه شول چه دوی بيشكه كافران دي. او نصرانيان د (انجيل) له لوستلو څخنې په دې ښه وپوهيدل چه يهودان د عيسیٰ عليه السلام د نبوت د نه منلو له امله (وجې) كافران شول.

كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١١٣﴾

هم دا رنګه ويل هغو كسانو چه نه پوهيدل (لكه مجوسيان او مشركان) په شان د ويلو د دغو (كتابيانو) نو الله به حكم وكړي په منځ د دوی كښې په ورځ د قيامت په هغه شي كښې چه وو دوی چه په هغه كښې به ئې اختلاف (او جګړې) كولې.

**تفسير:** له دې جاهلانو څخه د عربو مشركين او بت پرستان مراد دي؛ يعني همغسی چه يهود او نصاریٰ يو بل كافر او ګمراه ګڼي، هم داسې بت پرستان هم پرته (علاوه) له خپلو ځانو نور ټول ګمراهان او بې دينان بولي نو دوی دې په دنيا كښې هسې خبرې كوي. په قيامت كښې به د هغو په نسبت فيصله وشي.

**(فائده):** دلته داسې يوه شبهه پيدا كيږي كله چه ئې ﴿كَذٰلِكَ﴾ وفرمايل نو بيا د ﴿مِّثْلَ قَوْلِهِمْ﴾ فرمايلو ته څه حاجت ؤ؟ ځينې وايي مفسران هسې ځواب وايي چه ﴿مِّثْلَ قَوْلِهِمْ﴾ د ﴿كَذٰلِكَ﴾ توضيح او تاكيد دی. او ځينې وايي چه دلته جلا جلا (جدا جدا) دوی تشبيه ګاني دي نو ځكه ئې دوه لفظونه وفرمايل له يوی تشبيه څخه دا غرض دی چه د دوی او د دوی د وينا په منځ كښې مشابهت سره شته يعني څرنګه چه دوی نورو ته ګمراه وايي دوی به خپله هم

ګمراهان دي. او له بلې تشبيه ځني دا غرض دی لکه چه کتابيانو دا بې دليله دعوی د خپلو نفساني اغراضو او عداوتونو له امله (وجې) کوله هم داسې بت پرستان هم بې دليله يوازې د نفساني غوښتنو له امله (وجې) داسې دعوی کوي.

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِىْ خَرَابِهَا ط

او څوک دي لوی ظالم (بلکه نشته) له هغه چا څخه چه بندوي مسجدونه د الله له دې چه يادکړی شي په هغو کښې نوم د الله او کوښښ کوي په ورانولو (او شاړولو) د هغو کښې؛

**تفسير:** که څه هم د دې آيت د نزول سبب نصارىٰ دي چه دوی له يهودانو سره مقاتله وکړه، (توريت) ئې وسوځاوه او بيت المقدس ئې خراب کړ. يا د مکې مشرکان دي چه هغوی د بغض، عناد او تعصب له کبله (وجې) مسلمانان په (حديبيه) کښې ستانه (صفت) کړل او د بيت الله له زيارت نه ئې محروم وګرځول. مګر هغه کسان چه کوم مسجد ورانوي نو هغوی هم په دې حکم کښې داخل دي.

اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا خَآئِفِيْنَ ۃ

دغه کسان نه دي لائق دوی ته دا چه ننوځي دغو مسجدونو ته مګر ويريدونکي (له مؤمنانو څخه)؛

**تفسير:** يعنې له دې کفارو سره خو لائق داسې وو چه د الله تعالىٰ مساجدو ته سره له ويرې او تواضع، ادب او تعظيم ورننوتلې، نو دا خو ښکاره ظلم دی، چه کفارو هلته بې حرمتي وکړه يا ئې مطلب دا دی چه په عزت او حکومت سره دوی په دې ملک کښې د اوسيدلو وړ (لائق) نه دي. لکه چه هم داسې هم وشول چه د الله تعالىٰ له لورې مکه معظمه او (شام) مسلمانانو ته ورکړل شول.

لَهُمْ فِى الدُّنْيَا خِزْىٌ

دوی ته په دنیا کښې ذلت دی.

**تفسیر:** یعنی په دنیا کښې مغلوب شول او په قید کښې ولویدل او مسلمانانو ته به ئی جزیه ورکوله.

وَّلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ ۚ

او (شته) دوی ته په آخرت کښې عذاب ډیر لوی (په سبب د کفر او ظلم د دوی). او خاص الله لره دی مشرق او مغرب نو هر لوری ته چه مخ وګرځوئ (په لمانځه کښې) نو هم دغه لوری د طاعت د الله دی.

**تفسیر:** دا هم د یهودانو او نصرانیانو جګړې وې چه له دوی څخه هر یوه خپله قبله ښه بلله الله تعالیٰ فرمایی چه الله تعالیٰ په کوم مخصوص ډول (طریقه) سره په هیڅ لوری کښې نشته، بلکه له ټولو امکنه ؤ او جهاتو څخنی منزه دی او له یوی څنډی څخه تر بلی څنډی پوری ټوله ځمکه ده لره ده البته د هغه له حکم سره سم هر لوری ته چه تاسی مخ کوی الله تعالیٰ مو وینی او ستاسی عبادت قبلوی ځینی وایی چه په سفر کښې په سورلو باندی د نوافلو د ادا کولو په نسبت، یا کله چه په سفر کښې قبله مشتبه شوی وه دا آیت نازل شوی ؤ.

إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

بیشکه چه الله پراخ دی (رحمت د ده) ښه عالم دی.

**تفسیر:** یعنی د هغه رحمت هر چیری عام دی، تر یوه ځای پوری څه اختصاص نه لری. د دوی له نیتونو، مصالحو او اعمالو څخنی په ښه ډول (طریقه) خبر دی او ښه پوهیږی چه د بندګانو په حق کښې کوم شی مفید او کوم شی مضر دی؟ او سم له هغو سره حکم صادروی. هر څوک چه سم له هغه سره عمل کوی هغه ته ښه جزاء او هر څوک چه له هغه څخنی مخالف تګ کوی هغه ته بده سزا ورکوی.

وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ لَّهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿١١٦﴾ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ
وَ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿١١٧﴾

---

او وائی (کفار - یهودان او نصرانیان داسی چه) نیولی دی الله زوی پاکی ده ده لره (له زوی څخه)؛ بلکه دی ده لره هر هغه شیونه چه په آسمانو او ځمکی کښی دی (سره له آسمانو او ځمکی ملکاً، خلقاً وعبیداً)؛ ټول ده لره حکم منونکی (او مغلوب) دی. نوی (بی له نمونی) پیداکوونکی د آسمانو او د ځمکی دی؛ او هر کله چه اراده وکړی د یوه کار نو بیشکه هم دغه خبره ده چه وایی هغه کار ته چه وشه! نو هغه وشی.

---

**تفسیر:** یهودانو حضرت عزیر علیه السلام ته او نصرانیانو حضرت عیسیٰ علیه السلام ته د الله تعالیٰ زوی ویل. الله تعالیٰ فرمایی چه د ده ذات له ټولو هسی خبرو څخنی پاک او منزه دی. بلکه ټول موجودات بیخی د ده مملوک او مخلوق او مطیع دی.

---

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ ؕ

---

او وایی هغه کسان چه دوی نه پوهیږی (یا ځان نه پوهوی) ولی خبری نه کوی له مونږ سره الله (پخپله) یا ولی نه راځی مونږ ته یو آیت (د قدرت په صدق ستا)

---

**تفسیر:** یعنی هغه جاهلان یا متجاهلان چه په کتابیانو او بت پرستانو کښی دی هغوی ټول سره وایی چه الله تعالیٰ ولی بی له وسیلی له مونږ سره خبری نه کوی؟ یا کومه یوه داسی نښه نه راښیی چه مونږ د هغی له اوریدلو یا لیدلو څخنی ستا د رسالت تصدیق وکړو.

---

كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ؕ
تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿١١٨﴾

هم دا رنګه به ویل هغو کسانو (چه وو) پخوا له دوی څخنی په شان د خبری د دوی؛ یو رنګ شوی دی زړونه د دوی؛ په تحقیق بیانی کړی دی مونږ معجزی (نښی د وحدت او نبوت) هغو خلقو ته چه دوی یقین کوی (او هیڅ شبهه او عناد په دوی کښی نشته)

**تفسیر:** الله تعالیٰ فرمایی چه پخوانیو خلقو هم داسی د جهالت خبری کولی دا کومی نوی خبری نه دی او هغو کسانو ته چه یقین او باور کوونکی دی مونږ د برحقه نبی نښی بیان فرمایلی دی او هغه کسان چه په خپل ضد او عداوت باندی تینګ ولاړ دی او انکار کوی نو دا یوازی حسد او عناد دی.

إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۖ وَلَا تُسْـَٔلُ عَنْ أَصْحَٰبِ ٱلْجَحِيمِ ﴿١١٩﴾

بیشکه مونږ لیږلی ئی ته (ای محمده !) په حقه سره زیری ورکوونکی (په نعیم) او ویروونکی (له جحیم). او ته به نه پوښتیدل کیږی له صاحبانو د دوزخ څخه.

**تفسیر:** یعنی پر تاسی باندی د دی خبری هیڅ الزام نشته چه هغوی مو ولی په اسلام سره نه دی مشرف کړی.

وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ

او هیڅ کله به راضی نه شی له تانه (ای محمده !) یهودان او نه نصرانیان تر هغه پوری چه متابعت وکړی ته د دین د دوی؛

**تفسیر:** یعنی یهودان او نصرانیان د حق خبری له منلو سره هیڅ یوه علاقه او کار نه لری دوی په خپل ضد باندی کلک ولاړ دی او له سره ستاسی دین نه منی، که بالفرض تاسی د هغوی تابع شئ نو خوښیږی او دا ممکنه او کیدونکی خبره نه ده نو اوس دی د هغوی د موافقت امیدونه کړی شی.

قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۗ

ووايه (اى محمده! دوى ته چه) بيشكه هدايت د الله (اسلام) هم دغه هدايت دى (او بس)؛

**تفسير:** يعنى په هره زمانه كښى همغه دين معتبر او هدايت ؤ چه د هغه وخت نبى به د هغه هدايت كاوه او اوس هغه دين، د اسلام پاكه طريقه ده، نه د يهودانو او نصرانيانو دود (رواج) او دستور.

وَلَئِنِ اتَّبَعۡتَ اَهۡوَآءَهُمۡ بَعۡدَ الَّذِىۡ جَآءَكَ مِنَ الۡعِلۡمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿١٢٠﴾

او قسم دى كه چيرى پيروى وكړى ته د آرزوگانو د دوى وروسته له هغه چه راغلى دى تاته له علمه نو نه به وى تا لره له (عذابه د) الله هيڅ دوست (ساتونكى له بلياتو) او مددگار (خلاصوونكى له نازله ؤ عذابو).

**تفسير:** دا يوه فرضى خبره ده يعنى كه بالفرض تاسى داسى وكړئ نو له الٰهى قهره هيڅوك خپل ځان نه شى ژغورلى (بچ كولى) يا ئى منظور د امت تنبيه ده چه كه كوم سړى مسلمان شى او په قرآنى احكامو پوهيږى او بيا له اسلامه مخ واړوى نو هيڅوك دى له عذابه نشى ژغورلى (ساتلى).

اَلَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ يَتۡلُوۡنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ ؕ وَمَنۡ يَّكۡفُرۡ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿١٢١﴾

هغه كسان چه وركړى دى مونږ دوى ته كتاب لولى (دغه د اهل كتاب مؤمنان) دا كتاب د حق په لوستلو د هغه سره؛ هم دغه كسان ايمان راوړى په دغه (كتاب پرته (علاوه) له محرفينو)؛ او هغه څوك چه كافر شى په ده نو دغه كسان هم دوى دى زيانكاران (چه ايمان په كفر بدلوى).

**تفسير:** په يهودانو كښى لږ كسان منصفان هم ؤ چه خپل كتابونه ئى داسى لوستلى او پرى پوهيدلى وو چه په الفاظو كښى ئى تحريف نه كاوه په معنى د هغه كښى ئى فكر چلاوه او په

مقتضاء ئی عمل کاوه او په پاک قرآن ئی ایمان راوړی ؤ لکه حضرت عبدالله بن سلام رضی الله تعالیٰ عنه او د هغه ملګری یا د(جعفر طیار رضی الله تعالیٰ عنه هغه ملګری چه ورسره له حبشی راغلی وو) دا آیت د هغو په باره کښی دی یعنی دوی «توریت» په غور سره لوست او هم دوی ته ایمان په برخه شو او هغه کسان چه له خپل کتاب څخنی ئی انکار وکړ او په هغو کښی ئی ګوتی ووهلی او سره وایی ړاوه او تحریف ئی وکړ، نو دوی زیانکاران ـ خائنان او خاسران شول.

يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّى فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿۱۲۲﴾ وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا لَّا تَجْزِى نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿۱۲۳﴾

ای بنی اسرائیلو (اولاده د یعقوبه!) یاد کړئ نعمت زما هغه چه انعام کړی دی ما پر تاسی (او بل دا یاد کړئ چه) بیشکه ما غوره کړی یئ تاسی (یعنی نیکونه ستاسی) پر خلقو (د زمانی ستاسی) او وویریږی، له (عذابه د) هغی ورځی چه لری کولی به نه شی هیڅ نفس له هیڅ (کافر) نفس څخه هیڅ شی (له عذابه) او نه به شی قبلولی له دغه نفس څخه بدل (فدیه) او نه به نفع رسوی ده ته شفاعت (سپارښت د هیچا) او نه به له دوی سره مدد وکړی شی (په دفع د عذاب کښی).

**تفسیر:** د هغو خبرو یادونه چه په شروع کښی بنی اسرائیلو ته شوی وه، اوس بیا د هغو تولو حالاتو د یادولو څخنی وروسته بیا هم د همغو یادونه د تاکید او تنبیه او ویښولو له امله (وجی) کړی شوی ده چه ښه ئی په زړه شی او د هدایت په لوری واوړی او لا ښه څرګنده شی چه له دی قصی څخه اصلی مقصد هم دا دی.

وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وازمایه ابراهیم لره پروردګار د ده په څو خبرو نو ده پوره کړی هغه (خبری).

**تفسیر:** لکه اوامر ـ نواهی او سنن ـ د حج افعال ـ ختنه ـ سر بیلول (د سر لار ایستل) مسواک او نور چه حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ د احکامو سره سم هغه تول په ډیر اخلاص

سره په ځای راوړی دی او ټول ئې په ډير ښه ډول (طريقه) سره ادا او پای (انتها) ته رسولی دی او له هم دی امله (وجې) د خلقو امام او پيشوا ګرځول شوی دی.

قَالَ اِنِّیۡ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ

وويل (الله) چه بيشکه زه ګرځوونکی د تا يم لپاره د خلقو مقتدا (په دين کښې)

**تفسير:** يعنی ټول (راتلونکی) انبياء به ستاسی په متابعت باندی ټګ وکړی.

قَالَ وَمِنۡ ذُرِّيَّتِیۡ ؕ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِی الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۱۲۴﴾

وويل (ابراهيم) او له اولادی می هم (مقتدايان وګرځوه) نو وفرمايل (الله) نه رسيږی عهد (امانت زما) کافرانو ته.

**تفسير:** «بنی اسرائيل» په دی ډير مغرور وو چه مونږ د حضرت ابراهيم عليه السلام اولاد يو او الله تعالیٰ له حضرت ابراهيم عليه السلام سره وعده فرمايلی ده چه نبوت او لويی به ستا په اولاده او ځوځات (نسل) کښې پاتی وی او مونږ د «حضرت ابراهيم» په دين باندی يو او ګرد د هغه دين منو. اوس پاک الله دوی پوهوی چه د الله تعالیٰ هغه وعده له هغو کسانو سره وه چه د نيکی پر لار ئې ټګ کاوه. حضرت ابراهيم عليه السلام دوه زامن درلودل (لرلو). تر يوی مودی پوری د حضرت اسحاق عليه السلام په اولاده کښې لويی او نبوت ؤ، اوس د حضرت اسمٰعيل عليه السلام خيلخانی او اولادی ته رسيدلی دی ځکه چه ده د خپلو دواړو زامنو په نسبت دعا کړی ده او فرمايلی ئې دی چه د اسلام دين تل يو دی، ښايی چه ټول رسولان او امتيان په همغی يوی لاری لاړ شی او هغه دا ده کوم حکم چه پاک الله د رسولانو په وسيله راليږی، ومانه شی چه اوس په دغه دين باندی يوازی مسلمانان ټګ کوی او تاسی له دی طريقی ځنی مخ اړولی دی. په ړومبنيو آياتو کښې ئې خپلی ښيګڼی (فائدو) او انعامات راوښوول ـ اوس د هغوی هغه شبهه لری او دفع کوی چه بنی اسرائيل خپل ځانونه د ټول عالم امام او متبوع او له ټولو ځنی ښه او افضل ګڼل، نو ځکه د بل هيچا متابعت ئې نه کاوه.

**(فائده):** د بنی اسرائيلو په واقعاتو کښې ئې د حضرت ابراهيم عليه السلام ذکر او منقبت وفرمايل، اوس د هغه په ضمن کښې د بيت الله د حالاتو او فضائلو ذکر فرمايی او د دی تذکر په منځ کښې په يهودانو او نصرانيانو باندی الزامات هم شته. لکه چه مفسران ئې ذکر کوی.

وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه وګرځوله مونږ کعبه ځای د ثواب (او اجتماع) خلقو ته او ځای د امن

**تفسیر:** یعني هرکال د حج له پاره خلق هلته سره راتولیږي او هلته د حج ارکان ادا کوي ـ نو دا خلق د دوزخ له عذابه ساتلي او مأمون کیږي. یا هلته په بل هیڅا څه تجاوز او تیري نه کیږي.

وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى

او ونیسئ (ای مؤمنانو!) له ځای د (دریدلو د) ابراهیم څخنی ځای د لمانځه (طواف او دعا).

**تفسیر:** مقام ابراهیم علیه السلام هغه تیږه (ګټه) ده چه حضرت ابراهیم علیه السلام د کعبې شریفې د ودانولو په وخت کښې پرې دریده. په دې تیږې (ګټې) باندې د حضرت ابراهیم علیه السلام د پښو نښې دي او دې په هم دې تیږې (ګټې) باندې د حج د دعوت له پاره دریدلی ؤ او دا تیږه (ګټه) هم لکه (حجرالاسود) له جنت څخنی راوړې شوې ده، اوس حکم دی چه له دې تیږې (ګټې) سره دې نژدې لمونځ وکړ شي او دا حکم استحبابي دی.

وَعَهِدْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿١٢٥﴾

او حکم کړی وو مونږ ابراهیم ته او اسمٰعیل ته (دوی دواړو پلار او زوی ته) چه پاک کړئ! (او پاک وساتئ! تاسې دواړه پلار او زوی) کور (د عبادت) زما لپاره د طواف کوونکو او معتکفینو (یا د مسافرانو او مقیمانو) او (له پاره د) رکوع کوونکو سجده کوونکو (لمونځ کونکو).

**تفسیر:** یعني دلته دې خلق خراب کارونه ونه کړي! او د هغه په چپ چاپیر (چار چاپیره) کښې دې ناولې ونه ګرځي او طواف دې په طهارت سره وکړي! او له تولو چتلیو (ګندګو) څخنی دې بیت الله شریف پاک، صفا وساتل شي!

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه ووېل ابراهیم ای ربه زما وګرځوه دا ښار (چه کعبه می په کښې ودانه کړی ده) ځای د امن.

**تفسیر:** د کعبې شریفې د ودانولو په وخت کښې حضرت ابراهیم علیه السلام داسې دعا کړې وه چه دا میدان دې ودان او مأمون ښار وی! لکه چه هم داسې وشول.

وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

او روزی ورکړه اوسېدونکو ته ئی له هر راز (قسم) میوو نه هر هغه چا لره چه ایمان ئی راوړی دی له دوی ځنی په الله او په ورځ آخره باندی (چه د قیامت ورځ ده).

**تفسیر:** یعنی د دی ځای هغو اوسېدونکو ته چه مسلمانان وی، رزق او روزی ور ورسوه! او میوی ور دیری کړه! او کافرانو ته ئی دعا ونه فرمایله چه هغه پاک ځائ د کفارو له لوث (پلیتیٔ) او ګندګیٔ څخه پاک او صاف پاتی وی.

قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا ثُمَّ اَضْطَرُّهٗۤ اِلٰى عَذَابِ النَّارِ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۲۶﴾

وفرمایل (الله) او هر څوک چه کافر شو نو فائده به ورکړم هغه ته لږه بیا به یه زور (او خواری) بوځم دی عذاب د اور (د دوزخ) ته، او بد ځای د ورتلو دی (هغه اور).

**تفسیر:** حق تعالیٰ فرمایی چه په دنیا کښې کفارو ته هم رزق ورکاوه شی او د رزق حال لکه «امامت» داسې نه دی چه هغه ماسواء له ایمان لرونکی بل چاته نه وررسیږی.

وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْمٰعِيْلُ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ؕ

إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چه پورته کړل ابراهیم تادوونه (بنیادونه) د کعبې او اسمٰعیل (هم او دواړو به ویل) ای ربه زمونږ ته قبول کړه (دا کار) له مونږ څخه، بیشکه ته چه ئی هم دا ته ښه اوریدونکی ښه پوهیدونکی ئی.

**تفسیر:** یعنی دا کار مو ته په خپل دربار کښې قبول کړه! (چه د کعبې ودانول دی) ته د تولو دعاوی آوری! او د دوی په نیتونو باندی پوهیږی!.

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ
عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا
عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾

ای ربه زمونږه او وګرځوه مونږه حکم منونکی ستا او (وګرځوه) له اولادی زمونږ یوه ډله حکم منونکی ستا او وښیه مونږ ته احکام د حج زمونږ او قبوله کړه توبه زمونږ، بیشکه ته هم دا ته چه ئی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربان ئی. ای ربه زمونږ! پیدا کړه (ولیږه) په دوی کښې یو رسول له دوی ځنی چه دی لولی پر دوی باندی آیتونه ستا (چه د وحدت او نبوت دلایل دی). او ښیی دوی ته کتاب (یعنی قرآن) او حکمت (شرعی احکام) او پاک کړی دوی (له ګناهونو)، بیشکه ته هم دا ته ئی ښه غالب د حکمت خاوند (په خپل کار کښې).

**تفسیر:** دا دعا حضرت ابرهیم او د ده زوی حضرت اسمٰعیل علیهما السلام دواړو کړی ده چه زمونږ په ځوځاتو (نسل) کښې یوه حکم منونکی ډله پیدا کړه! او یو داسی رسول په دوی کښې ولیږه! چه هغو ته کتاب او حکمت وښیی! نو داسی یو نبی چه د دوی دواړو له اولاد څخه دی پرته (علاوه) د حضرت ختم المرسلین محمد صلی الله علیه وسلم څخه بل څوک نه دی، نو د دی

له امله (وجی) د یهودانو د پخوانیو خیالاتو پوره تردید وشو له «علم الکتاب» ځنی هغه ضروری مطالب او معانی مراد دی چه له عبارت څخه واضح او ښکاره کیږی او له «حکمت» څخه مخفیه اسرار او لطیفه رموز مراد دی.

---

وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ إِبْرٰهٖمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ۚ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا ۚ وَإِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٣٠﴾ إِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ أَسْلِمْ ۙ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٣١﴾ وَوَصّٰى بِهَآ إِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ ۚ يٰبَنِيَّ إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٣٢﴾

---

او څوک دی چه مخ گرځوی له دینه د ابراهیم څخه (هیڅوک ئی نه گرځوی) مگر هغه څوک چه احمق گرځولی وی ده ځان خپل، او البته په تحقیق غوره کړی ؤ مونږ ابراهیم په دنیا کښی (په نبوت او خلت او د بیت الله په تعمیر سره)؛ او بیشکه دی په آخرت کښی له (خاصو) نیکانو څخه دی. او (یاد کړه) کله چه وویل ابراهیم ته رب د ده چه غاړه کیږده (زما احکامو ته) نو وویل (ابرهیم) غاړه می ایښی ده رب د عالمیانو ته او وصیت کړی ؤ په دین خپل سره ابراهیم زامنو خپلو ته او یعقوب (هم)، چه ای زامنو زما بیشکه چه الله غوره کړی دی تاسی ته دین (د اسلام) نو له سره مه مرئ تاسی مگر په هغه حال کښی چه تاسی مسلمانان یئ (چه پر اسلام تر نزعی ثابت اوسئ!)؛

---

**تفسیر:** د هغه ملت او مذهب چه شرف مذکور شو، د هم دی ملت وصیت حضرت ابراهیم او حضرت یعقوب علیهما السلام خپلو اولادو ته فرمایلی ؤ. نو هر هغه څوک چه دا وصیت ونه منی، نو دی د هغو له ویناؤ ځنی هم سر غړوی. یهودان وایی چه حضرت یعقوب خپلو اولادو ته د «یهودیت» وصیت فرمایلی دی، دا وینا بالکل دروغ ده. لکه چه په وروستنی آیت کښی راځی. له دی آیت څخه مقصد نهی ده له ترکه د اسلامه، نه، له مرگه. لکه چه ویلی شی چه **«لاتصل الا وانت خاشع!»** یعنی لمونځ مه کوه! ای لمونځ کوونکیه! مگر په هغه حال کښی چه ئی ته

ویریدونکی له الله څخه.

أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ ٱلْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنۢ بَعْدِى ۖ قَالُوا۟ نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٣﴾

آیا وئ تاسی حاضران په هغه وخت کښی چه راغی یعقوب ته (اسباب د) مرګ کله چه وویل (یعقوب) زامنو خپلو ته چه د څه شی عبادت به کوئ پس له (مرګه) زما؛ نو وویل دوی چه عبادت به کوو د معبود ستا او د معبود د پلرونو ستا چه ابراهیم او اسمٰعیل او اسحاق دی هغه الله ته چه یو دی (شریک نه لری) او مونږ تول هغه ته غاړه ایښودونکی یو.

**تفسیر:** یعنی تاسی د حضرت یعقوب علیه السلام د وصیت په وخت کښی له سره موجود نه وئ. دوی خو د همغو ستایل شویو انبیاؤ ملت ته ارشاد فرمایلی وو او تاسی داسی وګڼل چه یهودانو وویل چه پرته (علاوه) له مونږ او نصرانیانو وویل چه پرته (علاوه) له مونږ، نور تول بی دینان دی او له اسلام څخه چه حق مذهب دی دواړه مخالف شول. او په دغه عمل ئی چه بیخی دروغ او افترا ده د وصیت نوم کیښود.

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾

دغه یو تولی وه چه په تحقیق تیر شوی دی، هغوی ته ده (جزا د) هغه څه چه کړی ئی وی او تاسی ته ده (جزا د) هغه څه چه کړی دی تاسی او نه به پوښتیدل کیږئ له هغه څه چه وو دوی چه کاوه به ئی (هغه).

**تفسیر:** یعنی یهودانو او نصرانیانو یقین درلود (لرلو) چه د مور او پلار په ګناهونو به زامن نیول کیږی او د هغوی په ثوابو کښی به هم برخه آخلی. دا وینا بیخی غلطه او چټی (بیکاره) ده. بلکه د هر چا عمل د ده د لاری مل، او چاره ئی تر غاړه ده، څه ئی چه کړلی وی هغه به

ربيی او هر څه ئی چه کړی وی هغه به ئی په مخ کښی راځی، ښه وی که بد.

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ۗ

او وايی دوی (کتابيان مسلمانانو ته) چه شئ! يهودان يا (شئ) نصرانيان چه سمه لاره ومومئ.

**تفسير:** مطلب دا دی چه يهودان مسلمانانو ته وايی چه يهودان شئ! او نصرانيان دوی ته وايی چه نصرانيان شئ چه هدايت مو په برخه شي.

قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾

ووايه (ای محمده دوی ته چه موږ داسی نه کوؤ) بلکه (متابعت کوو) د دين د ابراهيم چه په يوه لوری (يعنی له هر باطله حق ته مائل) ؤ او نه ؤ دی له مشرکانو څخه.

**تفسير:** يعنی ای محمده! صلی الله عليه وسلم دوی ته ووايه چه ستاسی دا وينا هيڅ د منلو وړ (لائق) نه ده، بلکه موږ د ابراهيم عليه السلام له هغه ملت سره بالکل سم او موافق يو چه له ګردو خرابو مذاهبو څخنی بيل دی. په دی خبره کښی چه نه ؤ دی له شرک کوونکو څخنی دی خبری ته اشاره ده چه تاسی دواړه فرقی په شرک کښی اخته يئ، بلکه د عربو نور مشرکان هم چه د ابراهيمی مذهب مدعيان وو د شرک او کفر په سيند کښی لاهو وو. له دی آيته په هغو هم ترديد وشو. د انصاف له مخی اوس له دی دوو فرقو څخه هيڅ يوه هم په ابراهيمی مذهب باندی نه ده او يوازی موږ مسلمانان په ابراهيمی مذهب پاتی يو.

**(فائده):** په هر شريعت کښی دری خبری وی

(اول): عقايد لکه توحيد ـ نبوت او نور مؤمن به شيان نو په دی کښی تول آسمانی دين لرونکی شامل او شريک او موافق دی او اختلاف له سره په کښی ممکن نه دی.

(دوهم): د شريعت کليه قواعد چه له هغو څخنی جزئيات او فرعی مسائل حاصليږی، او په تولو جزئياتو کښی تل همغه کليات ملحوظ او تر کتنی لاندی وی او فی‌الحقيقت ملت د هم دی اصولو او کلياتو نوم دی. او د محمد صلی الله عليه وسلم د ملت (دين) او د ابراهيمی ملت توافق او اتحاد هم په هم دغو کلياتو کښی دی.

(دريم): د ګردو کلياتو او تولو اصولو او فروعو مجموعه چه هغه ته شريعت وايی. چه د دی خلاصه داسی شوه چه د حضرت محمد رسول الله او حضرت ابراهيم خليل الله عليهما الصلوٰة

والسلام ملت سره یو دی ـ او د دوی شریعتونه سره بیل بیل دی.

قُولُوٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنۡزِلَ اِلَيۡنَا وَمَآ اُنۡزِلَ اِلٰٓى اِبۡرٰهٖمَ وَاِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ
وَيَعۡقُوۡبَ وَالۡاَسۡبَاطِ وَمَآ اُوۡتِىَ مُوۡسٰى وَعِيۡسٰى وَمَآ اُوۡتِىَ النَّبِيُّوۡنَ مِنۡ
رَّبِّهِمۡ‌ۚ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ‌ۖ وَنَحۡنُ لَهٗ مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۱۳۶﴾

ووایئ (ای مؤمنانو!) چه ایمان راوړی دی مونږ په الله او په هغه (قرآن) چه نازل کړی شوی دی په مونږ او په هغو (لسو صحیفو) چه نازل کړی شوی دی ابراهیم ته او اسمٰعیل او اسحاق او یعقوب او اولادی (د دوی) ته او په هغو (کتابونو او معجزاتو) چه ورکړی شوی موسٰی ته او (ورکړی شوی دی) عیسیٰ ته او (پر) هغو (کتابونو) چه ورکړی شوی دی (نورو) انبیاؤ ته له ربه د دوی نه حال دا چه نه کوو فرق په منځ د یوه تن له دوی ځنی (په نبوت او نه نبوت سره) او مونږ الله ته غاړه ایښودونکی یو.

**تفسیر:** یعنی مونږ په ټولو انبیاؤ او کتابونو ایمان راوړو. او ټول حق ګڼو او هر یو له دوی ځنی په خپله زمانه کښی واجب الاتباع بولو. مونږ د الله تعالیٰ حکم منونکی یو او وایو چه په هره زمانه کښی هر نبی علیه السلام چه هر الٰهی حکم له ځانه سره راوړی دی د هغو منل او اتباع ضروری دی. پرته (علاوه) له کتابیانو ځنی چه له خپل دین څخه په غیر، د نورو ټولو ادیانو تکذیب کوی. اګر که د دوی دین منسوخ شوی هم وی او د انبیاؤ هغه احکام دروغ ګڼی چه د الله تعالیٰ احکام دی.

فَاِنۡ اٰمَنُوۡا بِمِثۡلِ مَآ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ فَقَدِ اهۡتَدَوۡا‌ۚ وَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاِنَّمَا
هُمۡ فِىۡ شِقَاقٍ‌ۚ فَسَيَكۡفِيۡکَهُمُ اللّٰهُ‌ۚ وَهُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۱۳۷﴾

نو که ایمان راوړی دا (یهود او نصاریٰ) لکه چه تاسی ایمان راوړی دی په هغه (مؤمن به شیانو بی له فرقه) نو په تحقیق ئی وموندہ سمه لاره، او که

ئی مخ وګرځاوه (له ایمانه) نو بېشکه هم دا خبره ده چه دوی (له تاسی سره) په مخالفت کښې دی، نو ژر ده چه کافی به شی په (دفع د شر) د دوی کښې تا لره الله، او هم دی دی ښه اوریدونکی (د اقوالو) ښه عالم (په احوالو).

**تفسیر:** یعنی د دی له دښمنی او ضد څخه مه ویرېږئ! پاک الله د هغوی له شر او ضرر څخه ستاسی ساتونکی دی. هغوی تاسی ته هیڅ ورانی نشی رسولی. الله تعالیٰ د تولو خبری آوری او په تولو احوالو او نیتونو خبر او پوه دی.

صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۫ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿١٣٨﴾

(او وائی ای مؤمنانو! چه مونږ الله رنګ کړی یو) په رنګ د الله او څوک ښه دی له الله څخنی له جهته د رنګه (د دین) او مونږ خاص ده لره عبادت کوونکی یو.

**تفسیر:** یهودان له دی آیتونو څخنی واوښتل او اسلام ئی ونه مانه. او نصرانیانو هم انکار وکړ او د لاقو او باتو په ضمن کښې به ئی ویل چه له مونږ سره داسی یو رنګ شته چه له مسلمانانو سره نشته.
د نصرانیانو دا دود (رواج) وه چه یو ډول (قسم) زیړ رنګ ئی جوړ کړی ؤ او کله به چه په دوی کښې کوم وړوکی پیدا کیده، یا به کوم سړی د دوی په دین کښې داخلیده، نو دوی به په هغه رنګ رنګاوه او په هغه کښې به ئی غوته کاوه چه سوچه او ستره نصرانی شی. نو پاک الله فرمایی چه «ای مسلمانانو! ووایی چه مونږ د الله تعالیٰ په رنګ سره رنګ شوی یو چه ایمان دی. حق دین مو منلی دی چه د دی حق دین له منلو او ننوتلو څخه وروسته تولی ناپاکی او ناولتیاوی او نور کثافات (خیری) بیخی لری کیږی او هر مسلمان پکښې پاک، صاف کیږی.»

قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِی اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ
اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾

ووایه (ای محمده! دوی ته) ایا جګړه کوئ تاسی له مونږه سره په (دین) د الله کښې حال دا چه هغه دی رب زمونږ او رب ستاسی، او مونږ لره دی عملونه زمونږ او تاسی لره دی عملونه ستاسی، او مونږ خاص الله لره په

اخلاص (عبادت کوونکی) یو.

**تفسیر:** یعنی د الله تعالیٰ په نسبت ستاسی داسی نزاع او جگری کول او داسی گڼل چه د الله تعالیٰ د رحمت او عنایت لایق (وړ) او مستحق پرته (علاوه) له موږ ځنی بل هیڅوک نشته، خوشی بیکاره خبره ده. او هغه پاک ذات همغسی چه ستاسی رب دی، زموږ رب هم دی. او موږ څه عملونه چه کوو، خالص الله تعالیٰ لره ئی کوو موږ تاسی غوندی یوازی په خپلو پلرونو او نیکونو افتخار نه کوو. او په تعصب، نفسانیت، او حسد کښی اخته نه یو. نو بیا څله زموږ عملونه د پاک رب په دربار کښی نه منل کیږی؟

أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَٰهِۦمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطَ كَانُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ۗ قُلْ ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ ٱللَّهُ ۗ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٠﴾

آیا وایئ تاسی (ای کتابیانو!) چه بیشکه ابراهیم او (د ده زامن او لمسی) اسمٰعیل او اسحاق او یعقوب او اولاد (د دوی) وو دوی (ټول) یهودیان یا نصرانیان؛ ووایه (ای محمده! دوی ته) ایا تاسی ښه پوهیږی، که الله؛ او څوک دی زیات ظالم له هغه چانه چه پټوی له خلقو (ثابته) شاهدی په نزد د ده له طرفه د الله؛ او نه دی الله بی خبره له هغه څه چه تاسی ئی کوئ.

**تفسیر:** د حضرت ابراهیم او حضرت اسمٰعیل او نورو انبیاؤ علیهم السلام په نسبت چه کتابیانو داسی دعوه کوله چه دوی یهودان یا نصرانیان وو، ښکاره او صریحه دروغ ده. برسیره پر دی حق تعالیٰ فرمایی ﴿مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا﴾ نو اوس راوښیئ! چه ستاسی پوهه او علم زیات دی که د هغه (علام الغیوب الله تعالیٰ)؟.

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ
وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤١﴾

دغه یوه ډله وه چه په تحقیق تیره شوی وه، هغوی لره ده (جزا) د هغه څه چه کړی ئی وی، او تاسی لره ده (جزا) د هغه څه چه کړی دی تاسی، او نه به پوښتیدلی کیږئ، له هغه څه چه وو دوی چه کول به ئی.

**تفسیر:** هم دا آیت وړاندی تیر شوی دی، هرکله چه د دی کتابیانو په زړونو کښی تکبر او غرور ځای نیولی ؤ او داسی ئی ګڼل چه زمونږ اعمال هرڅومره چه خراب وی، بیا به هم زمونږ پلرونه شفاعت کوی او ښښنه به راته غواړی، نو ځکه د داسی چټی (بیکاره) خیالاتو د لا ښه تردید کیدلو لپاره ئی هغه آیت بیا مکرر بیان وفرمایه داسی وپوهیږئ چه په پخوانی آیت کښی کتابیانو ته خطاب ؤ. او په دی آیت کښی له (محمدی) امت سره مخاطبه ده چه په دی چټی (بیکاره) خیال کښی د هغوی متابعت او پیروی مه کوئ! ځکه چه دا راز (قسم) هیلی (امید) او توقعات هر سړی د خپلو مشرانو او مړو ځنی په خپل زړه کښی کولی شی چه داسی تخیلات او توقعات بیخی غلط او چټی (بیکاره) دی. اوس وروسته له دی نه د یهودانو او نورو مشرکانو د یوی بلی ناپوهئ او حماقت څخه اطلاع ورکوله کیږی چه د قبلی د تحویل په نسبت عنقریب راتلونکی دی.